# توحيداوشرک

دعا او عبادت

تصرف او علم غيب

توسل او شفاعت

اسماء او صفات

تأويل او متشابهات

حق او باطل مذهب

Ketabton.com

حکمتيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب له متن څخه

قرآنکریم، قریش مشرکین ګڼي، که څه هم هغوی په خدای باور درلود، الله ئې د ځمکې او آسمان پالونکی او پیدا کوونکی او د ټولو شیانو خالق منلو، د کعبې طواف ئې کاوو، ځانونه ئې د بیت الله مجاورین او متولیان بلل، بتان ئې خدایان نه؛ بلکه الله تعالی ته د تقرب وسیله شمېرل او ویل به ئې: مونږ دا بتان نه لمانځو بلکه دا زمونږ او د خدای ترمنځ رابطه او وسیله ده، دا د الله تعالی دربار ته د نږدې او مقربو کسانو مجسمې دي، د دوی په وسیله الله ته ورنږدې کېږو او د دوی شفاعت او سپارښتنه زمونږ د دعاګانو او سوالونو د اجابت سبب کېږي!! قریشو د خپل تاریخ د مشهورو او د دوی په نظر د لوړ معنوي مقام د خاوندانو او الهي دربار ته د مقربو کسانو (۳۶۰) مجسمې په بیت الله کې دننه نصب کړې وې، لومړی ئې د دوی په قبرونو ځلي او زیارتونه جوړ کړل او بیا ئې د دوی بتان جوړ او په کعبه کې ئې نصب کړل، دا عقیده ئې درلوده چې د الله تعالی عبادت باید د دې بتانو له لارې وشي او دعا د همدوی له لارې د الله حضور ته وړاندې شي، همدا ئې د عبادت او دعا د قبلېدو لاره بلله او دا بتان ئې د خدای "اهل بیت: کهول" بلل او هر یوه ته ئې د کایناتو د یوې برخې د واکدار او متصرف په سترګه کتل!! هر بت د یوې ډلې او قبیلې لپاره د ډېرو سیاسي، اجتماعي او اقتصادي امتیازاتو وسیله وه، همدې ډلې به هغه ته کرامات ثابتول، د عوامو په زړه کې به ئې د هغه د هیبت، قدر او قیمت زیاتولو لپاره پراخ تبلیغات کول، د دې لپاره چې ساده زړې عوام د بت په نامه خپلې شکرانې او نذرانې لازیاتې کړي؛ غولوونکې لارې چارې به ئې لټولې، له همدغو شکرانو او نذارنو نه چې د ده په نامه به ئې ترلاسه کولې؛ یوه برخه به ئې د بت او د بت د ماحول په سنګارولو او په لازیات جالب او جاذب جوړولو باندې مصرفول او زیاته برخه به ئې د عبادت ځي مجاورینو او متولیانو په خپلو کې وېشل. یوه ته بت معبود وو، پناه ځي وو او د حاجتونو ترسره کېدو مرجع، خو بل ته دام او دکان وو او د خلکو د دوکه کولو او لدوی نه د پیسو شکولو وسیله. که تاسو د هر بت، بتخانې او د هر قبر په سر د زیارتونو جوړولو قصې ته ځیر شئ نو حتماً به د هغه ترشا یو "سامري" او "بلعم باعور" بیاموئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

د ناشر عرائض ---------------------------------------------------- ۱
توحید ---------------------------------------------------------- ۳
قرآن د الله تعالی په هکله څه وایي؟ -----------------------------۱۳
د توحید غوښتني ---------------------------------------------۱۷
په ربوبیت کي شرك ------------------------------------------۲۹
علم غیب------------------------------------------------------۴۱
توسل ---------------------------------------------------------۷۳
شفاعت -------------------------------------------------------۸۱
تأویل --------------------------------------------------------۹۰
قاطعیت او تسامح--------------------------------------------۱۲۷
کوم مذهب حق دئ؟--------------------------------------------۱۳۳
زمونږ عقیده ----------------------------------------------------۱۴۵
د الله تعالی په اړه زمونږ عقیده ------------------------------۱۵۳
د الله تعالی اسماء او صفات ---------------------------------۱۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای جل جلاله څنګه وپېژنو؟-------------------------------- ۱۲۸
د الله تعالی نومونه------------------------------------------ ۱۷۵
د الله تعالی صفات ------------------------------------------ ۱۸۱
د الله تعالی افعال--------------------------------------------- ۱۸۷
قرآنکریم او متشابهات --------------------------------------- ۱۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

# د ناشر عرائض

د الله تعالی د پېرزوینو نه ممنون یو چي مونږ ته ئې په پښتو کي د یوه بل علمي اثر د خپرولو توفیق راکړ او د افغان ولس دیني زېرمي او پښتو ادب ته ئې د دې کتاب د ډالۍ کولو فرصت او امکان راپه برخه کړ. د توحید او شرك تر عنوان لاندي دا کتاب د ورور حکمتیار د ځینو هغو مقالو مجموعه ده چي د همدې موضوع په اړه په دري ژبه لیکل شوې او د میثاق ایثار لخوا لومړی بېل بېل او بیا د کتاب په بڼه کي نشر شوې، او دا دئ د پښتو ژباړه ئې ستاسو په خدمت کي ده. د کتاب په وروستۍ برخي کي به د هغې رسالې ژباړه هم بیاموموئ چي عنوان ئې "زمونږ عقیده" ده او په هغه وخت کي لیکل شوې چي د جهاد په ضد ژوري توطئې رواني وې، له یوې خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې هڅه کېده چې د افغانانو د اسلامي جهاد قيادت د يوه ځواکمن او منظم حزب په لاس کې پاتې نشي او بېلا بېلې سياسي او نظامي ډلې ډگر ته راوايستلی شي او له بلې خوا دا هڅه کېده چې په مجاهدينو کې فکري انتشار راولاړ شي او د داسې اعتقادي بحثونو لړۍ پيل شي چې فتنې راولاړې او مجاهدين پکې مصروف کړي، يوې خاصې کړۍ ته وظيفه ورکړی شوې وه چې دا مأموريت سر ته ورسوي، د دې کړۍ د خولې بندولو او د هڅو شنډولو لپاره دا رساله ليکل شوې وه.

الله تعالی دې مونږ ته په هر سنگر کې له اسلام نه د صادقانه او مخلصانه دفاع او د دښمن د دوامدارې او ستړيا نه منونکې مقابلې توفيق راکړي.

د ميثاق ايثار اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# لومړی فصل

# توحيد

دا "توحيد" څه دئ چي اسلام ورته هومره لوی ارزښت او ستر اهميت ورکړی چي وايي: په توحيد باور لرونکي جنت ته ځي، د دنيا او آخرت سعادت او بريا ئې په برخه کېږي او د منکر سزا ئې دوزخ ده او د دنيا او عقبی له نېکمرغۍ او بريا نه بې برخي کېږي؟ پر توحيد د ايمان او باور او د انسان د کړو وړو او عمل تر منځ څه رابطه ده چه له هغه پرته نه د انسان هيڅ نېك عمل قبلېږي او نه د کوم ارزښت او قدر وړ ګڼل کېږي؟

که قرآنکريم ته مراجعه وکړو نو وبه ګورو چي د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام دعوت او بلنه په دوو ټکيو کي خلاصه کوي:

**اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ الَهٍ غَيْرُهُ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د الله عبادت وکړئ"، "له هغه پرته بل اله او معبود نه لرئ"

خلکو ته دانبیاوو علیهم السلام د دعوت خلاصه همدا ده: یوازي د الله عبادت وکړئ ځکه له هغه پرته نه بل معبود شته او نه څوك د عبادت او لمانځني وړ. سوال دا دئ چي په دې بلني او دې دعوت کي څه راز پروت وو چي د لویو ټولنیزو انقلابونو سبب شو؟ د ټولني بې وزلو او مستضعفو پکي خپل نجات لټاوو او مستکبرینو د خپل تخت او تاج او استبدادي نظامونو د نسکورېدو عامل بالو؟ دا ولې یوه ورباندي داسي ایمان راوړی چي د هغه لپاره ئې د سر او مال قرباني ورکړې، خو بل تري انکار کړی، د مخالفت لاره ئې ورسره نیولې او په ټول توان سره ئې د هغه مقابله کړې؟ دا ولې د تاریخ په هر پړاو کي د هر پیغمبر له بعثت نه وروسته د ټولني مستکبرینو، د شر او فساد ځواکونو له پیغمبر سره د مخالفت لاره نیولې ده، دا پداسي حال کي چي د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت خلاصه دا وه چي: د یوه الله عبادت وکړئ، له هغه پرته بل معبود او خدای نه لرئ!! لدې دعوت نه د مستکبرینو انتباه او انگېرنه څه وه ؟ د نجات دا شعار ئې څنگه تعبیرکړی چي مخالفت ئې ورسره ضروري گڼلی؟ هغه څه وو چي دوی باور ورباندي لازمي بالو خو د توحید شعار " لا اله الا الله " ورسره ټکر کولو؟ او هغه څه وو چي دوی د دې شعار پرځای پر هغه ټینگار کاوو او هغه ئې د خپل اقتدار او نظام د بقا ضامن بالو؟! که قرآنکریم په لږ غور سره ولولو نو د دې ټولو پوښتنو ځوابونه به ومومو. راځئ څو شېبې په دې اړه د قرآنکریم په ارشاداتو کي غور وکړو او وگورو چي قرآن د

(c) ketabton.com: The Digital Library



توحید د دې شعار په اړه څه لارښوونې لري ، دا شعار څه ډول معرفي او تعریفوي او پدې هکله څه غوښتنې لري؟!

قرآنکریم، قریش مشرکین ګڼي، که څه هم هغوی په خدای باور درلود، الله ئې د ځمکې او آسمان پالونکی او پیدا کوونکی او د ټولو شیانو خالق منلو، د کعبې طواف ئې کاوو، ځانونه ئې د بیت الله مجاورین او متولیان بلل، بتان ئې خدایان نه؛ بلکه الله تعالی ته د تقرب وسیله شمېرل او ویل به ئې: مونږ دا بتان نه لمانځو بلکه دا زمونږ او د خدای ترمنځ رابطه او وسیله ده، دا د الله تعالی دربار ته د نږدې او مقربو کسانو مجسمې دي، د دوی په وسیله الله ته ورنږدې کېږو او د دوی شفاعت او سپارښتنه زمونږ د دعاګانو او سوالونو د اجابت سبب کېږي!! قریشو د خپل تاریخ د مشهورو او د دوی په نظر د لوړ معنوي مقام د خاوندانو او الهي دربار ته د مقربو کسانو (۳۶۰) مجسمې په بیت الله کې دننه نصب کړې وې، لومړی ئې د دوی په قبرونو څلې او زیارتونه جوړ کړل او بیا ئې د دوی بتان جوړ او په کعبه کې ئې نصب کړل، دا عقیده ئې درلوده چې د الله تعالی عبادت باید د دې بتانو له لارې وشي او دعا د همدوی له لارې د الله حضور ته وړاندې شي، همدا ئې د عبادت او دعا د قبلېدو لاره بلله او دا بتان ئې د خدای "اهل بیت: کهول" بلل او هر یوه ته ئې د کایناتو د یوې برخې د واکدار او متصرف په سترګه کتل!! هر بت د یوې ډلې او قبیلې لپاره د ډېرو سیاسي، اجتماعي او اقتصادي امتیازاتو وسیله وه، همدې ډلې به هغه ته کرامات ثابتول، د عوامو په زړه کې به ئې د هغه د هیبت، قدر او قیمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتولو لپاره پراخ تبلیغات کول، د دې لپاره چې ساده زړي عوام د بت په نامه خپلې شکرانې او نذرانې لازیاتې کړي؛ غولوونکې لارې چارې به ئې لټولې، له همدغو شکرانو او نذارنو نه چې د ده په نامه به ئې ترلاسه کولې؛ یوه برخه به ئې د بت او د بت د ماحول په سنګارولو او په لازیات جالب او جاذب جوړولو باندې مصرفول او زیاته برخه به ئې د عبادت ځې مجاورینو او متولیانو په خپلو کې وېشل. یوه ته بت معبود وو، پناه ځې وو او د حاجتونو ترسره کېدو مرجع، خو بل ته دام او دکان وو او د خلکو د دوکه کولو او لدوی نه د پیسو شکولو وسیله. که تاسو د هر بت، بتخانې او د هر قبر په سر د زیارتونو جوړولو قصې ته ځیر شئ نو حتماً به د هغه ترشا یو "سامري" او "بلعم باعور" بیامومئ.

د قرآنکریم له نظره د قریشو دا عقیده د شرك عقیده ده او دې ته ورته هره عقید د شرك عقیده. لدې شرك سره نه د توحید ادعا د منلو وړ ګڼې او نه په خدای ایمان او اعتقاد د اعتبار وړ. قرآن خلکو ته وایې: الله یو دئ، داسې نده چې د څو خدایانو له جملې نه یو وي، بلکه احد او یوازنی دئ. هغه د ټولو رب دئ، ور ئې د ټولو په وړاندې برابر پرانستی دي، د ده او بنده ترمنځ نه فاصله شته او نه واسطه او وسیله، هرڅوك مخامخ او له واسطې او وسیلې پرته هغه ته رجوع کولی شي، د هرچا دعا اوري، هرچا ته د غاړې تر رګ زیات ورنږدې دئ، شریك نه لري، خپل ملك او واکمني ئې په شریکانو ندي وېشلې. ستا د توحید معنی دا ده چې له واحد خدای نه پرته نه په بل معبود باور ولرې او نه بل چا ته د دعا او حاجت لاس اوږد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. که قرآنکريم ته رجوع وکړئ نو دا به درته څرګنده شي چي د پيغمبرانو عليهم السلام مبارزه اکثراً د شرك خلاف وه، نه د الحاد او له خدای نه د انکار په خلاف. د ملحدينو په نسبت ئې له مشرکينو سره زياته مقابله راغلې. د پيغمبرانو عليهم السلام اساسي او ستر مشکل يا له هغو ټګمارانو سره وو چي له دين نه ئې ځانته دام او دکان جوړ کړی وو او يا له هغو دينداراتو سره چي غولېدلي وو او د دغو ټګمارانو په لومو کي نښتي وو، هغه چي شرك ئې له ايمان سره خلط کړی وو او دې ته تيار نه وو چي خپل جعلي معبودان پرېږدي. د پيغمبرانو عليهم السلام مخالفينو به د هغوی د توحيد پر بلنه دا اعتراض کاوو چي: آيا دوی راغلي چي مونږ له نورو ټولو خدايانو نه لاس واخلو او يوازي د يوه خدای عبادت وکړو!! د پلرونو او نيکونو خدايان پرېږدو، اصنام يا بتان چي الهي دربار ته زمونږ د تقرب وسيله ده، پرېږدو!!

قرآنکريم دا حالت څه ښه ترسيموي او فرمايي:

**أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ * وَانطَلَقَ الْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنْ امْشُوا وَاصْبِرُوا عَلَى آلِهَتِكُمْ إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ يُرَادُ * مَا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ إِنْ هَذَا إِلَّا اخْتِلَاقٌ ***

الصافات: ٦

آيا ټول معبودان ئې يو معبود ګرځولی، دا خو حيرانونکې خبره ده!! مشران او سرداران ئې روان شول او وئې ويل: ځئ او پرخپلو معبودانو صبروکړئ، بيشکه چي همدا مطلوب او غوره کار دئ، دا مو په بل مذهب کي ندي اورېدلي، دا له کذب او افتراء پرته بل څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي.

ګورئ چي پیغمبر د یوه معبود لوري ته بلنه ورکوي او نور ټول معبودان باطل او مردود شمېري، خلکو ته وايي: خدای یو دئ، د ټولو خدای دئ او تاسو ټول د هغه په وړاندي برابر یاست، هم د خدایانو تعدد مردود ګڼي او هم له دې تعدد نه راولاړ شوی طبقاتي نظام، خو د شرك ځېلي ټولني سرداران، چي د معبوانو تعدد دوی ته د ټولني سرداري ورپه برخه کړې، د یوه معبود په ځای د متعددو خدایانو په وجود ټینګارکوي، دوی له دین او مذهب نه هم د طبقاتي نظام د توجیه وسیله او د بقا او دوام ذریعه جوړوي او خپلو پیروانو ته وايي: پرخپلو سابقه، له پلار نیکه نه راپاتې معبوادانو صبر وکړئ! پیغمبر پر توحید او د یوه معبود په عبادت اصرارکوي، خو د شرك ځېلي ټولني سرداران او سالاران د شرك او متعددو خدایانو شعار پورته کوي! پیغمبران علیهم السلام توحید د خلکو د نجات وسیله شمېري خو د کفر مشران شرك د خپل قدرت د بقا راز بولي.

کافر فرعون، د خپل اقتدار د بقا لپاره د موحد موسی علیه السلام مقابله کوي خو له دین نه د دفاع تر نامه لاندي!!

**وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِي أَقْتُلْ مُوسى وَلْيَدْعُ رَبَّهُ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَنْ يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ *** غافر: ٢٦

فرعون وویل: ما پرېږدئ چي موسی ووژنم، هغه دي خپل رب راوغواړي، زه له دې نه وېرېږم چي مبادا هغه ستاسو دین بدل کړي او په ځمکه کي فساد خورکړي.

قرآنکریم، فرعون چي د شرك وهلې ټولني د زعامت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرتابه ننبه او سمبول دئ، د داسي چا په حیث معرفي کوي چي ځانته "اله : معبود "وایي او هغه کسان چي د فرعون اطاعت او مننه کوي د داسي کسانو په توګه معرفي کوي چي هغه ئې خپل اله نیولی دئ، فرعون ته "طاغوت: سرکش واکدار" وائې او پلویانو او متابعانو ته ئې د "عبدة الطاغوت: د سرکښ واکمن بنده ګان" نوم ورکوي. د قرآنکریم له نظره تر هغې پوري د چا د ایمان دعوی او پر توحید عقیده د منلو وړ نده ترڅو پوري چي طاغوت نفی نه کړي او له طاغوت نه انکار او عصیان ونه کړي. الله تعالی فرمایي

لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنْ الغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدْ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ * البقرة: ٢٥٦

په دین کي اکراه او په زور منل نشته، "په دین" سره هدایت له ضلالت او بې لاریتوب نه څرګند شوی، نو څوك چي پرطاغوت کافر شی او پر الله ایمان راوړي، نو پداسي کلکي کړۍ ئې منګولې لګولې چي شلېدل ئې نشته او الله خو اورېدونکي پوه ذات دئ.

د قرآن له نظره د طاغوت نفی د توحید په لور لومړنی ګام دئ، ترڅو پوري چي طاغوت نفی نه کړې او ترې منکر نشې تر هغې پوري تا د توحید اساسي او لومړنی شرط ندئ پوره کړی. د طاغوت نفی او ترې انکار یعنی دا چي د منازعاتو د حل و فصل او تحاکم لپاره هغه ته رجوع ونکړې، حکمونه ئې د منلو وړ ونه ګڼې او معیارونه ئې د پلی کولو وړ، نه له هغه نه طمعه وکړې، نه ئې اصولو او قوانینو ته تسلیم شې او نه ئې پرېکړو او فیصلو ته غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



كښېږدي. كه تا له طاغوت نه انكار نه وي كړى او پر الله د ايمان له دعوا سره سره هغه ته د تحاكم لپاره رجوع كوې، نو په دې صورت كي پر يوه خداى ستا د ايمان دعوى دروغجنه ده او د الله په وړاندي هيڅ ارزښت نه لري. قرآن كريم په دې هكله داسي غوڅه فيصله كړې ده:

**أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا***

النساء: ٦٠

آيا هغه كسان دي ونه ليدل چي گمان كوي هم ئې پرهغه څه ايمان راوړى چي پر تا نازل شوى او هم پر هغه چي له تانه مخكي نازل شوى، خو په عين وخت كي غواړي د تحاكم لپاره طاغوت ته رجوع وكړي، پداسي حال كي چي پر طاغوت د كفر امر ورته شوى او شيطان غواړي چي هغوى په لويه بې لارى سره بې لاري كړي.

بل ځاى فرمايي :

**فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا***

النساء: ٦٥

نو نه، ستا په رب قسم چي تر هغه پوري ئې ايمان ندئ راوړى "مؤمنان نشي بلل كېدى او د ايمان ادعا ئې نشي قبلېدى" ترڅو چي تا په خپلو شخړو كي حكم ونه نيسي او بيا ستا د پرېكړي په هكله

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپلو زړونو کې هیڅ حرج احساس نه کړي او په بشپړه توگه تسلیم نشي.

متأسفانه ځیني کسان د توحید په اړه د خپل ناقص فهم او انتباه له امله گمان کوي چې شرك یوازي دا دئ چې څوك د مړه بت په وړاندې د بندگۍ سرټیټ کړي او له هغه نه مرسته وغواړي، دا ډله پدې کې څه اشکال نه گوري چې د ژوندی بت په پښو کې ولوېږي او د طاغوت په وړاندې د بندگۍ او تسلیمۍ سرپه ځمکه کېږدي!! د قبرونو طواف شرك بولي خو د قصرونو په طواف کې اشکال نه ویني او هغه له خپل توحید سره په ټکر او تصادم کې نه گڼي!! هغوی پدې نه پوهېږي چې ژوندی بت باید له مړه او بې حسه بت نه مخکې نفی شي، دا نده ورته معلومه چې د ده یوازنی معبود، الله جل شأنه د دې لپاره کعبه "د الله کور" د طواف یوازنۍ ځای گرځولی چې د قصرونو د طواف مخه ونیولی شي او پدې خاطر ئې جومات د دعا او عبادت ځای گرځولی چې تا د انسانانو د دری له ټکولو او بل دربار ته د سوال او دعا لپاره له تلو نه بې نیازه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توحید------------------------------------------------------ توحید او شرك

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قرآن د الله تعالی په هکله څه وايي؟

الله تعالی په قرآنکريم کي د هغه ذات په حيث معرفي شوی چي هم د ټولو عالمونو خالق او پيدا کوونکی دئ او هم ئې رب او پالونکی، ټول کاينات د هغه ملك دئ او هغه ئې ټولواك، د کائناتو په گوټ گوټ او لوېشت لوېشت کي د ده حکم نافذ دئ او ذره ذره ئې د ده حکم ته تابع او خاضع، هر څه يوازي د ده په اراده پيداکېږي اود ده تر مراقبت لاندي وده کوي، کمال ته رسېږي او له مخکي نه ورته ټاکل شوې خاصې نتيجې ورکوي، يوه تشه ډکوي، يو ضرورت او اړتيا رفع کوي او بالآخره په زوال او نيستی محکومېږي او خپل ځای نوي، ځوان، تازه او پياوړي توکي ته پرېږدي، دا هر بدلون او تحول دالله په حکم او تصرف، د همغه له لوري د اېښودل شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضوابطو، سننو او د ټاکل شوو مقدراتو او اندازې مطابق ترسره کېږي. هغه د رزق او روزي مالك، د مرگ او ژوند خالق، د عزت او ذلت واکدار دئ، عزت ته رسېدل او په ذلت اخته کېدل د همغه په حکم او د همده د ثابتو سننو په اساس ترسره کېږي. الله د دې عالم خالق: پیداکوونکي دئ او هغه ذات دئ چي پدې عالم کي د رب په حیث تصرف کوي، داسي ستایل شوی او حمید ذات چي په ذات، صفاتو او افعالو کي په ټولو کمالاتو متصف دئ، له هر عیب او نقص نه پاك او منزه دئ، د کایناتو ټوله ښکلا، حسن، کمال، جمال او ښېگڼې د ده له لوري دي او ده د عالم جزء جزء ته په ودیعت ورکړي. هغه واحد ذات دئ چي هیڅ شریك او سیال نه لري، بې مثله او بې مثاله دئ، انتهاء او ابتداء نه لري، اول دئ او آخر، فناء نه لري، هغه ظاهر دئ داسي چي د کایناتو هره برخه ئې په وجود شهادت ورکوي، باطن دئ چي د انسان په وهم او فهم کي نه ځائېږي او انسان ئې له درك او ادراك نه عاجز دئ، د کایناتو هیڅ شی ورسره مشابهت نه لري، تل پاتې ژوندی دئ، مرگ نه لري، ټول شیان ئې پیداکړي دي، د ټولو کایناتو خالق، پالونکي او رب دئ، د دې پراخ عالم اداره او تدبیر د ده په واك کي ده، هغه قیوم دئ چي یوه شېبه هم د کایناتو د ټولو امورو له ادارې او تدبیر نه نه غافل کېږي. مرگ او ژوند د ده له لوري دي او د ده په اراده ترسره کېږي، چا ته ژوند ورکوي، پیداکوي ئې، څوك وژني او بیابه ئې بېرته راژوندي کوي، هیڅ پېښه د هغه له ارادې پرته نه شي واقع کېدلی، هره لویه او وړه پېښه د هغه په اراده، اذن او تدبیر سره رامنځته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، ټول کائنات د هغه د قضاء او قدر تابع دي، د شیانو په پیدا ایښت کي او په تحولاتو او بدلونونو کي ئې خاص حکمتونه او مصلحتونه اینښي دي، هیڅ شی ئې بیهوده، عبث او بې هدفه ندی پیدا کړی، هرڅه ئې په ډېره ښه او غوره توګه پیدا کړي او هر څیز ئې د خاص هدف د تحقق لپاره په کار ګمارلی. په خاص شکل او کیفیت سره د اشیاوو خلقت او پیدا ایښت د ده کار دئ، ځکه هغه خالق، بارئ او مصور دئ، د کمال صفات ئې ازلي او ابدي دي، نه څه ترې کم او نه څه ورباندي اضافه کېږي. هغه غني او بې نیازه دئ، هیچا ته محتاج او اړ ندئ، غناء ئې ذاتي صفت دئ، ټول مخلوقات فقیر او ده ته اړ دي، هرڅه په موجودیت، بقاء او دوام کي الله ته محتاج دي. هغه قدیر او توانا دئ، ټول کارونه ورته آسان دي، هر څه ئې پیدا کړي، برابرکړي، اندازه او مقدار ئې ورته ټاکلی، پیل او پای ئې ورته تعیین کړی، هر څیز ته ئې خاص مسیر ټاکلی او لارښوونه ئې ورته کړې. په هرڅه عالم دئ، نه څه له پیدا ایښت نه مخکي ترې پټ او مخفي دي او نه له پیدا ایښت نه وروسته. علم ئې په هر څه حاوي دئ، ښکاره او پټ، شاهد او غائب، ماضي او راتلونکې، هر څه ورته معلوم دي، هیڅ ترې پټ ندي، وړوکی، لوی، لېري، نږدې، رڼا او تیاره، ټول ورته ښکاره او عیان دي. هغه نه یوازي دا چي دا دنیا او کاینات ئې پیدا کړي بلکه هغه د رب په حیث د هرڅه پالنه او ساتنه کوي. هرڅه د ده په تقدیر او اراده ترسره کېږي، ټول د ده د قضاء او قدر په وړاندي تسلیم دي، اراده ئې په هر کار او هر ځای کي حاکمه او نافذه ده، هیڅ شی ئې د ارادې مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشي نيولی، هغه چي اراده ونكړي هيڅ شی نشي واقع كېدی، د بندگانو اراده د ده د ارادې تابع ده، څه چي وغواړي همغه كېږي او څه شي ته ئې چي اراده ونشي، نه شي كېدلی، د ده له ارادې او توفيق نه پرته بندگان هيڅ نشي كولی. نه څوك د هغه قضاء ردولی شي او نه څوك دا وس لري چي د هغه حكم وځنډوي. هيڅ داسي قدرت نشته چي د هغه له امر نه پورته وي او د هغه د حكم او امر مانع واقع شي، د هغه قضاء حاكمه او حكم ئې نافذ دئ، هرڅه د ده (سبحانه و تعالی) په حكم او امر تر سره كېږي. داسي هم نده چي د كايناتو د خلقت او پيدايښت، د قضاء، سننو، قدر او تقدير له ټاكلو وروسته ئې خپلي مخي ته پرېښي دي، داسي چي اوس حوادث او پېښي په خپله د حاكمو ضوابطو او سننو مطابق واقع كېږي ،نه، داسي نه ده، بلكي هره شېبه او هره پېښه د هغه په اذن او توفيق او د ثابت او تغيير نه منونكي قدر او قضاء مطابق تر سره كېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د توحید غوښتني

خالص او له شرك نه منزه توحید څه داسي مبرمي غوښتني لري چي باید د موحد په اعتقادي او عملي شخصیت کي راڅرګندي شي، که دا غوښتني پوره نشي نو دا یا توحید نه دئ او یا ناقص او شرك لړلی توحید دئ. قرآنکریم د توحید دا ډول غوښتني په مفصله توګه بیاني کړي دي، چي مونږ ئې په لاندي څو عنوانونو کي خلاصه کوو:

## ستاینه:

موحد بایدپدې باور وي چي الله تعالی په ذات، صفاتو او افعالو کي د کمال په ټولو صفاتو متصف او له هر عیب او نقص نه منزه دئ. موحد ټول موجودات د خپل رب د صفاتو او افعالو مظهر ګڼي او پدې عقیده وي چي هیڅ څه بیهوده او عبث ندی پیدا شوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې خور عالم کې نه څه خلا او تشه شته، نه څه کموالی او زياتوالی، نه داسي کوم څه پاتې دئ چي کموالی ئې احساس شي او نه داسي څه چي اضافي او غيرضروري وګڼلی شي، هرڅه پوره او په خپله اندازه پيدا شوي. موحد دې عالم ته د توحيد له منظار نه ګوري او هر څه ئې ورته ښايسته او بشپړ برېښي او هيڅ عيب پکې نه ګوري او که ئې کوم عيب تر سترګو شي نو دا يا د خپل لنډ او محدود فکر او نظر عيب ګڼي او يا ئې د خپلي نامناسبي معاملې او ناسمو کړو محصول عيب. تل د خدای ستاينه کوي، په هر حالت او هر صورت کې، د دې خور عالم په غېږ کې هره ښکلا، کمال او جمال دې د همدې ښکلا، کمال او جمال د خالق ستايني ته هڅوي، د هر بدلون او تحول تر شا حکمتونه او مصلحتونه ګوري، که له کوم نعمت نه برخمن شي هغه د خپل مهربانه او منعم خدای ورکړه او عنايت ګڼي او که له کوم نقمت، کړاو او ستونزي سره مخ شي هغه د خپلو کړو عادلانه بدله او جزا بولي.

## لمانځنه

حقيقي موحد يوازې د يوه خدای عبادت کوي، بل هيڅ شی او هيڅوک د لمانځني وړنه بولي او له الله نه پرته د هيچا په وړاندې د اطاعت او بندګۍ سر نه ټيټوي. د خدای عبادت او لمانځنه نه يوازې د الله په وړاندې د بنده مسئوليت او پر بندګانو د الله حق شمېري بلکه عبادت د معنوي ارتقاء، روحي تسکين، قلبي ډاډ، آزادۍ او سرلوړۍ راز او عامل شمېري، د الله بندګي د نورو له بندګۍ نه ورته دآزادۍ درس ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآنکريم د لمانځني لپاره د"عبادت" اصطلاح غوره کړې، مسلمان مکلف دئ چي هره ورځ په پنځګونو لمونځونو کي په دې صيغې سره تعهد او تړون وکړي "اياكَ نَعبُدُ: يوازي ستا عبادت کوو"

عبادت د عبد له کلمې نه مشتق دئ،او عبد(بنده) هغه چا ته ويل کېږي چي لاندي خصوصيات او ځانګړتياوي لري :

- عبد يعنى هغه چي د خپل ځان مالك نه دئ، ځان او نفس ئې د بادار امانت دئ، مکلف دئ چي له خپل توان، قدرت او استعداد نه د خپل بادار د حکم مطابق کار واخلي.
- کوم مال، پانګه، وسايل او امکانات چي په خپل واك کي ئې لري هغه ټول د ده د بادار امانت دئ، دا حق نه لري چي لدې امانتونو نه د خپلي خوښي او غوښتني مطابق ګټه واخلي.
- هيڅ کار په خپل سر او خپله خوښه نه کوي، په هرڅه کي د خپل بادار حکم او امر ته انتظار کوي.
- دوستي او دښمني ئې له خپلو تمايلاتو او احساساتو نه نه وي راولاړه شوې، نه شخصي دوست لرى او نه شخصى دښمن، د خپل بادار دوست ئې دوست وي او دښمن ئې دښمن.
- له ټولو هڅو، هلو ځلو او کوششونو نه ئې هدف دا وي چي د خپل بادار رضا او خوښي ترلاسه کړي، په هر کار کي ئې هاند دا وي چي دې هدف ته ورسېږي او خپل آقا راضى کړي، لدينه په کلکه ډډه کوي چي د خپل نفس د ارضاء لپاره خپل بادار ناراضه کړي.

څوك چي د يوازني خداى د عبادت ژمنه کوي هغه په حقيقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



كي له خداى سره په دغو ټولو مفاهيمو ژمنه او تعهد كوي، د خداى عبادت همدا ټول مفاهيم احتوا كوي.

قرآنكريم، "عبادت" او "استعانت" د توحيد د ماڼۍ دوه اساسي ستني او اركان ګڼي او په دې ټينګار كوي چي له الله تعالى پرته نه بل څوك د عبادت وړ دى او نه د استعانت وړ، نه به د بل لمانځنه كوئ او نه به له بل نه مرسته غواړئ، لكه څرنګه چي بايد يوازي د يوه الله لمانځنه وشي همداسي بايد يوازي له يوه خداى نه مرسته وغوښتى شي. نه ګورې چي مسلمانان پدې مكلف شوي چي په هر لمانځه كي بايد په مكرره توګه له خپل خداى سره عهد وكړي او هرځل دا ژمنه تجديدكړي چي: خدايه! يوازي ستا عبادت كوو او يوازي له تا مرسته غواړو "اِيَاكَ نَعْبُدُ وَاِيَاكَ نَسْتَعِيْن" داستعانت او عبادت پدې عهد او ژمنه كي داسي حصر او تأكيد راغلى چي له الله تعالى نه پرته له بل هرچا نه مرسته غوښتل او د بل چا عبادت كول په بشپړه توګه نفى كوي. قرآنكريم فرمايي:

وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللَّه إِلَهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِه فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِنْدَ رَبِّه إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ * النور: ١١٧

او څوك چي له الله سره بل معبود ونيسي، پداسي حال كي چي پدې باندي هيڅ دليل هم نه لري، حساب ئې له خپل رب سره دئ، بيشكه چي دا كافره ډله به كله هم بريالۍ او كاميابه نشي.

هيله من يم د دې آيت په وړاندي لږ توقف وكړئ او الفاظ او مفاهيم ئې په غور او دقت له نظره تېر كړئ، په دې مبارك آيت كي ويل شوي: هر څوك چي د الله تعالى په څنګ كي بل چا ته، بل دربار

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پناه ځای ته د سوال او احتیاج لاس اوږد کړي او مرسته ترې وغواړي، په حقیقت کي ئې همدا مرجع خپل اله او د خدای شریك گرځولې، دا پداسي حال کي چي د دې غلط تصور او انگېرني لپاره هیڅ دلیل او برهان نه لري، په همدې خاطئ تصور سره چي گمان کوې: "د خدای تر څنگ بل داسي معبود او اله هم شته چي د دعا په قبلولو کي ورسره شریك دئ" هغه د کافرانو په ډله کي شامل شوی او له فلاح او بریا نه محروم شوی.

قرآن کریم په استعانت کي شرك او توحید په څو جالبو او ښکلیو مثالونو کي په ډېر ښایسته انداز کي ترسیم کړي، هلته چي فرمایي:

**فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ:** العنکبوت: ٦٥

بیا کله چي په کښتۍ کي سپاره شي نو الله ته پداسي حال کي سوال او دعا کوي چي دین ئې ورته سوچه او خالص کړی وي، خوکله ئې چي د وچي په لوري وژغورو نو ناڅاپه شرك کوونکي شي.

یعنی کله چي انسان په کښتۍ کي سپور شي او دا وویني چي د نجات له ټولو وسایلو او امکاناتو سره ئې رابطه شلېدلې، په خپلي شا او خوا کي هیڅ داسي څه نه گوري چي زړه ورپوري وتړي، تکیه وربانديوکړي او مرسته ترې وغواړي او له ټولو ئې امید قطع شي، نو پدې حالت کي یوازي د خدای لوري ته مخه کړي، مرسته ترې غواړي او مستقیماً او نېغ په نېغه هغه ته رجوع کوي، همدې حالت ته قرآنکریم په دین کي اخلاص ویلی دئ، یعني انسان هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت په خپل دين کي مخلص دئ او هغه وخت ئې ايمان له شرك نه پاك او منزه دئ چي په کښتۍ کي د سپور انسان په څېر يوازي يوه خدای ته ئې مخه وي او يوازي هغه ته پناه يوسي؛ خو گورو کله چي کښتۍ د بحر له څپو نه روغه ساحل ته ووځي، نو بيا د همدې انسان حالت بدل شي، هغه د څپو په منځ کي احساس ئې ورسره پاتې نشي، نور نو هغه کس نه وي چي د الله نه پرته ئې هيچا ته طمعه نه وه، له خدای نه سوی له ټولو نه ئې اميد قطع کړی وو، يوازي له يوه خدای نه ئې مرسته غوښته، اوس ئې د اميد دروازې ډېري شوې، د يوه دربار په عوض ئې گڼو دړو ته سترگي دي، کله دا د خپل نجات عامل گڼي او کله هغه بل، کله ئې گمان دا وي چي د فلان مرستي وژغورلو او کله د هغه بل توجه او عنايت د خپلي ژغورني وسيله گڼي او پدې سره خپل دين او ايمان په شرك ملوث او ککړ کړي او د شرك مرتکب شي.

همدارنگه قرآن د يونس سوري په ۲۱ ،۲۲او ۲۳ آيتونو کي فرمايي:

وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِنْ بَعْدِ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُمْ إِذَا لَهُمْ مَكْرٌ فِي آيَاتِنَا قُلْ اللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ * هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ حَتَّى إِذَا كُنْتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِمْ بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا بِهَا جَاءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنْجَيْتَنَا مِنْ هَذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الشَّاكِرِينَ * فَلَمَّا أَنْجَاهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ مَتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ *** يونس: ۲۳

او كله چي خلكو ته د ېبرزويني څه خوند وروڅكو، وروسته له هغه چي كوم كړاو وررسېدلى وي، نابېره له دوى سره زمونږ د آيتونو په هكله د مكر اراده راپيدا شي. ورته ووايه: الله تعالى په مكر كي تر ټولو سريع دئ، بيشكه چي زمونږ رسولان ستاسو مكرونه ليكي، الله هغه ذات دئ چي تاسي په وچه او اوبو كي بيايي، تردې چي تاسي په كښتىكي وئ او كښتىٍ له سورو سره يوځاى د ملايم او خوندور نسيم سره وخوځي او پدې سره خوشحاله شي، خو ناڅاپه تېز باد او طوفان ورباندي راشي او له هر لوري څپې ورباندي راتاو شي او گمان وكړي چي محاصره شول، پدې وخت كي الله ته پداسي حالت كي دعا كوى" او مرسته ترې غواړي چي په خپل" ديانت كي ورته مخلص شوي وي او وايي: كه دي لدې نه وژغورلو نو حتماً به شكر كوونكي بندگان وو، خو كله چي نجات وركړو بيا د خپل تعهد خلاف په ناحقه په ځمكي كي سركشي او بغاوت كوي. اې خلكو! په يقين سره چي ستاسي سركشي او بغاوت ستاسي په ضرر ده " دا دركړى شوى فرصت" د دنيوى ژوند يوه متاع ده، بيا مو زمونږ لوري ته راتگ دئ او په هغه څه به مو خبر كړم چي تاسو كول.

## توحيد، وېره او هيله

سوچه توحيدحكم كوي چي د انسان خوف او طمع بايد يوازي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له الله تعالی څخه وي، له بل هیچا نه د الله تعالی په څېر نه وېره ولري او نه طمع، موحد پدې باور لري چې د ګټې او تاوان پرېکړه الله تعالی کوي، تر څو پورې چې د هغه اراده نه وي شوې نه چا ته ګټه رسېدی شي او نه زیان، که د ټولې دنیا خلك راغونډ شي او وغواړي تا ته ګټه یا زیان ورسوي، د الله تعالی له اذن او ارادې پرته هیڅ نه شي کولی او څه چې خدای مقرر کړي له هغه نه څه کم او زیات نشي کېدی، که خدای وغواړي چې تا ته ګټه ورسېږي نو څوك د هغه مخه نشي نیولی او که د هغه له لوري تا ته د زیان فیصله وشي نو څوك به وي چې دا فیصله وځنډوي؟

قرآنکریم څه ښه فرمایي:

**قُلْ مَنْ ذَا الَّذِي يَعْصِمُكُمْ مِنَ اللَّهِ إِنْ أَرَادَ بِكُمْ سُوءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً وَلَا يَجِدُونَ لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا***

الاحزاب:۱۷

ووایه: هغه به څوك وي چې تاسي له الله نه وساتي که هغه ستاسو لپاره د کوم زیان اراده وکړي او یا درته د رحمت اراده وکړي؟ له الله تعالی پرته به بل یار او مددګار ونه مومي.

بل ځای کې فرمایي:

**قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَاللَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيم *** المائده: ۷٦

ووایه: آیا له الله پرته د داسي څه عبادت کوئ چې نه تا سي ته د کوم زیان واك لري او نه د کومې ګټې او دا خو الله دئ چې اورېدونکی پوه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازمه ده د دې مبارك آیت په اړه لږ دقت وکړو او د مخکینیو آیتونو په رڼا کې ئې ژور مفاهیم په غور او دقت سره تر نظر تېر کړو. دا آیت د هغه بحث پای دئ چې د المائدې سورې له ۷۲ آیت نه پیل شوی، دلته هغو کسانو ته اشاره شوې چې مسیح علیه السلام ئې د بندګۍ له مقام نه د الوهیت مقام ته اوچت کړی او د شرك مرتکب شوي، حال دا چې مسیح علیه السلام بني اسرائیلو ته ویل: د خدای جل شأنه عبادت وکړئ، هغه زما او ستاسو ټولو رب دئ، هر څوك چې له خدای سره شریك ونیسي پر هغه باندي خدای جنت حرام کړی، ځای ئې دوزخ دئ، دا ظالمه ډله هیڅ مل او ملګری نه لري. پدې پسې فرمایي: هغه کسان چې ویل ئې: خدای له دریو خدایانو نه یو دئ، دا کسان کافر شوي، له الله پرته بل معبود او اله نشته، بیا فرمایي: د مریم علیها السلام زوی مسیح علیه السلام فقط یو پیغمبر وو، داسي پیغمبر چې له ده مخکې د ده په شان ډېر پیغمبران تېرشوي؛ مور ئې نېکه او صادقه ښځه وه. د دې مبحث په پای او وروستۍ برخه کې دا ۷۶ آیت د دې بحث د خلاصې او تتمې په شکل راغلی او دا څرګندوي چې بني اسرائیل د مسیح او مریم علیهما السلام په هکله په خپلي عقیدې کې د شرك مر تکب شوي، د هغه په اړه د دوی عقیده مشرکانه ده، د دوی عبادت ئې کړی او د ګټې په جلب او د زیان په دفعه کې ئې له هغوی مر سته غوښتې، له همدې کبله قرآن کریم د دوی په هکله فرمایي: بني اسرائیلو له مسیح او مریم علیهماالسلام نه د ګټې د حاصلولو او د زیان د دفع کولو په هیلي او د مرستې په غوښتلو سره د هغوی عبادت کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ئې خپل خدایان نیولي، پداسي حال کي چي مریم او مسیح علیهما السلام لکه د نورو په شان نه د ګټي مالکان دي، نه چاته زیان رسولی شي، نه د چا چیغي اورېدلی شي او نه د چا د کوم درد دوا ورسره شته، دا یوازي الله دئ چي د ټولو فریادونه اوري، دعاګاني قبلوي او د خپلو بندګانو له ټولو دردونو او غمونو خبر دئ.

که ته پدې باور وې چي خدای ستا د رزق او روزي مالك دئ، د هر څه خزانې له هغه سره دي، باران د هغه په اراده ورېږي، دانې او مېوې د هغه په حکم شنې کېږي، د مرګ او ژوند، عزت او ذلت، کامیابی او ناکامي، صحت او رنځ ، دا ټولي فیصلې د هغه له درباره صادرېږي ، لدې عقیدې او باور سره سره که ته له الله تعالی نه پرته له بل چا نه طمع کوې او په زړه کي له بل چا نه وېره او هیله پالې، نو آیا دا په رښتیا چي د ډېر افسوس او حیرت خبره نده!!

## محبت

د توحید بله مهمه او اساسي غوښتنه له الله تعالی سره کلکه او خالصه مینه ده، داسي او دومره زیات محبت چي د بل هیڅ شي محبت ورسره د مقایسه کېدو نه وي، لازمه ده له الله تعالی سره دومره محبت ولرو چي ساری او مثال ونلري. که مونږ له الله تعالی نه پرته له بل چاسره د خدای د محبت په شان محبت ولرو په حقیقت کي د شرك مرتکب شوي یو او دا محبوب مو له الله تعالی سره شریك او سیال ګرځولی دئ، په دې هکله قرآنکریم فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَمِنْ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ...*** البقره: ٦٥

ځيني کسان داسي غيرالله له خدای سره ند او سيال نيسي چي له هغوی سره د الله د محبت په څېر محبت کوي، خو مؤمنان له الله سره ډېره کلکه مينه لري،...

د انسان مينه او محبت له کوم کس يا کوم څيز سره يا د هغه څيز يا کس له ښکلا او کمال نه منشأ اخلي او همدا ښکلا او کمال ئې مينه او حيرت راپاروي او د دې باعث شي چي محبت ورسره وکړي ،او يا ئې د ده په ژوند کي اغېزه دومره ستره او رغنده وي او د ده په اړه ئې پېرزوينه، احسان او عنايت هومره وي چي د ده د ميني او محبت باعث شي، د هغه احسان د ده مينه او محبت راپاروي. په کايناتو کي هيڅ داسي څه نشته چي له دې يا هغه اړخه له الله تعالی سره برابري وکړی شي، همدا وجه ده چي له الله تعالی سره محبت بايد له هر بل محبت نه زيات، سوچه او لوړ وي. محبت په اصل کي د انسان د اړيکو او د انسان د حرکت د لوري او هدف د معلومولو لپاره دقيق معيار او محك دئ، په دې معيار سره دا معلومېدی شي چي د انسان معرفت د خپل رب په هکله څومره او باور ئې څنگه دئ. که د خدای په يادولو سره ئې زړه ولړزېدو، په سترگو کي ئې اوښکي ورغړېدې، په څېره کي ئې د محبت او ميني نښې څرگندي شوې،که دا وشول نو ويل کېدی شي چي خپل رب ئې ښه پېژندلی، عقيده ئې پخه، باور ئې موحدانه او توحيد ئې له شرك نه منزه دئ او که له خدای نه پرته د بل چا په ياد سره ئې دا حالت شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو پوه شه چي له خداى سره ئې سيال او شريك نيولى، په باورونو كي ئې شرك رخنه كړې او د توحيد ونه ئې د شرك چنجي ورسته كړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ربوبيت كي شرك

## آيا الله تعالى د امورو په سمبالولو كي شريك لري؟

له قرآنكريم نه د بېلتون او غفلت په سبب د مسلمانانو په منځ كي ګڼ شمېر داسي عقايد خواره شوي چي د اسلام له اساساتو سره ټكر كوي او قرآن ئې د توحيد منافي او د شرك عامل شمېري او د هغه د نفى لپاره ئې مفصل بحثونه كړي.

له دغو عقيدوي انحرافاتو نه يو هم په ربوبيت كي شرك دئ، په دې معنى چي څوك د كايناتو په اداره او د امورو په سمبالولو كي ئې له خداى سره بل څوك شريك وګڼي او دا عقيده ولري چي الله تعالى د كايناتو اداره او د امورو تدبير ئې په يوازي توګه نه كوي بلكه كارونه ئې له نورو ذواتو سره وېشلى، ځيني په خپله كوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني نور ئې هغوی ته سپارلی او هغوی ته ئې دا واك ورکړي چي د خپلي خوښي مطابق پکي تصرف وکړي. دا ډله خلك يا دا گمان کوي چي: الله تعالی د دنيا او عالم له پيدايښت او په هغه کي د ضوابطو له وضعه کولو نه وروسته دا مخلوقات په خپل حال پرېښي دي، امور او کارونه په خپله د الهي مقدراتو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، ټول کارونه همداسي په خپل سر د الهي سننو مطابق روان دي، الله تعالی نه هيڅ مداخله پکي کوي او نه دې ډول مداخلې ته څه ضرورت ليدل کېږي!! او يا دا گمان کوي چي: الله تعالی هم لکه د دنيوي واکمنانو په شان د خپلي پاچائې د چارو د ادارې او سمبالولو پخاطر هره برخه يوه چاته سپارلې ده او په همدې برخه کي ئې همدا کس خپل نائب او د چارو "قيم" او "متصرف" منلی دئ!! اوس که څوك پدې برخه کي له کوم مشکل سره مخ کېږي نو بايد د همدې برخي قيم، وصی او متصرف ته مراجعه وکړي، له هغه مرسته وغواړي او له دې لاری خپل مشکل حل کړي، پدې معنی چي د الله تعالی دربار ته له رجوع نه مخکي بايد دغو متصرف او قيم ذواتو ته مراجعه وشي، له دوی نه د خپلو مشکلاتو د حل غوښتنه وشي او يا له همدې لاري، د مراتبو د تسلسل مراعات سره پوړ په پوړ پورته ولاړ شي او خپل سوال د الله در بارته وړاندي کړي،دوی وايي: که د الله تعالی د پاچايې دا واکمن مأمورين، هغه چي ته ئې د امورو په تدبير او موجوداتو په اداره کي د الله نائب او وکيل شمېري که دا متصرفين ستا د مشکلاتو د حل وس او توان لري، ستا فرياد اورېدی شي او ستا دعاگاني اجابت کوی شي، نو بيا څه ضرورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ چي د مراتبو د تسلسل له مراعات نه پرته او مستقيما د الله دربار ته د مراجعى بې باكي كوې؟!! خپل حيثيت دي وپېژنه، هغه ځاى ته د تلو بې ځايه هڅه مه كوه چي نه ئې اهليت لرى او نه توان، دا خبره ومنه چي د الله تعالى دربار داسي دروازى لري چي د هر چا په وړاندي نه پرانيستل كېږې او داسي ساتونكى لرى چي هرچا ته د نږدې كېدو اجازه نه وركوى!! دې دربار ته د رسېدو لپاره وسيلې، واسطې او سفارش كوونكي ته اړتيا شته، دا واسطې او سفارش كوونكي وپېژنه، د هغوى لاس او لمن ونيسه، ترڅو د الله دربار ته لار پيدا كړې او دروازه ئې در ته پرانيستل شي، دا د الله په هكله د مشركينو گمان وو، راشئ وگورو چي قرآن پدې هكله څه وايي:

**إِنَّ رَبَّكُمْ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ ذَلِكُمْ اللَّهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ *** يونس: ٣

بيشكه چي ستاسي رب هغه ذات دئ چي آسمانونه او ځمكه ئې په شپږو ورځو كي پيدا كړه، بيا ئې په عرش استوا وكړه، چارى سمبالوي، هيڅ داسي شفاعت كوونكي نشته چي د ده له اذن او اجازې پرته شفاعت وكړى شي، دا ستاسي رب دئ، نو د ده عبادت وكړئ، آيا عبرت نه اخلئ.

دا مبارك آيت لاندېني مهم مطالب بيانوي:

- الله تعالى ځمكه او آسمانونه په شپږو تكويني مراحلو كي پيدا كړل.
- آسمانونه او ځمكه ئې له پيدايښت نه وروسته مهمل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې مخې ته نده پرېښې، بلکې په هغه عرش ئې د ټولو موجوداتو د مالك، حاكم او واكدار په حیث استوا وکړه چې ځمکه آسمانونه ترې لاندې دي. د دې پراخې هستې د ټولو امورو تدبیر ئې په خپل واك او اختیار کې ساتلی دئ.

• هیڅوك د الله له اذن او اجازې پرته د هغه په وړاندې د شفاعت او سفارش توان او صلا حیت نه لري، هغه د دنیا د پاچایانو په شان ندی چې د نورو سفارش او شفاعت ته اړ وي، داسې نده چې باید بل څوك یو مظلوم ور معرفي کړي، بل څوك د چا د لیاقت او اهلیت په هکله معلومات ورکړي او د ده او بنده ترمنځ واسطه شي.

• هغه رب او پالونکی چې باید یوازې د هغه عبادت وکړې او یوازې له هغه نه مرسته وغواړې، صفات ئې دا دي: د ټولې هستې خالق، ستا او د ټولو مخلوقاتو رب او پالونکې دئ، په عرش ئې استوا کړې، د هرڅه مالك او واكدار دئ، د هستې د ټولو امورو د تدبیر اختیار ورسره دئ، ستا او هغه ترمنځ د رابطې لپاره هیڅ وسیلې، واسطې، سفارش او شفاعت کوونکې ته ضرورت او اړتیا نشته. دا درس باید درته پند وي او د هغه په رڼا کې نېغه لاره له کړې نه بېله کړې او د الله تعالی له دربار نه پرته بل دربار ته له رجوع او پناه وړلو نه ځان وساتې. قرآنکریم په بل آیت کې په دې هکله فرمایي:

**قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنْ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَمَّنْ يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَمَنْ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنْ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنْ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الْحَيِّ وَمَنْ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ اللَّهُ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ***

يونس: ۳۱

ووايه: څوك له آسمان او ځمكي نه تاسي ته روزي دركوي؟ او څوك ستاسي د غوږونو او سترگو مالك دئ؟ او څوك ژوندی له مړه نه او مړی له ژوندي نه راوباسي؟ او څوك چاری سمبالوي؟ دوی به حتماً وايي: چي الله، نو ورته ووايه: آيا نه وېرېږئ، ځانونه نه ساتئ؟

په دي مبارك آيت كي دا اساسي مطالب زمونږ مخي ته اېښودل شوي:

- دا خو يوازي الله دئ چي د رزق او روزي انتظام ئې په واك كي دئ ،كه له آسمانه باران راووېرېږي، كه د لمر وړانگې پرځمكه لگېږي او له ځمكي نه مېوې او دانې راټوكېږي او كه ځمكه ستاسي لپاره په خپله غېږ كي د څښلو اوبه ساتي او پدې ترتيب سره ستاسي د روزۍ اسباب او وسايل برابروي، ووايي داسي كوم څوك شته چي پدې كارونو كي له الله تعالى سره شريك وي؟
- ستاسي د غوږونو او سترگو اصلي او حقيقي مالك څوك دئ؟ دا نعمتونه چا دركړي او دا د چاپه ارادې سره ستاسي په خدمت كي دي او تاسي ته لار ښيي؟ كه خدای اراده وكړي چي دا سترگي او غوږونه درنه واخلي، آيا داسي څوك شته چي دا شيان بېرته دركړی شي؟
- آيا له الله تعالى نه پرته په دي ټولو موجوداتو كي داسي څوك شته چي له مړي نه ژوندی او له ژوندي نه مړی راوباسي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرگ او ژوند فيصله څوك کوي؟ د چاپه حکم سره مړه خاوره په دانو او مېوو بدلېږي او بيا د انسان او حيوان په بدن کي ژوندۍ نطفه ترې جوړېږي؟

- پدې پراخ کاينات کي چي په هره برخه کي ئې حرکت، خوځښت او د کمال په لور هاند او تحرك دئ، هرې خوا ته ئې نظم او نسق، ښکلا او ښايست دئ، هرڅيز له نيست نه هست کېږي، بيا وده مومي د کمال په لور درومي او کله چي د کمال او ودې يوه ثابت حد ته ورسېږي نو د زوال مرحله يې پيل شي او په مرگ محکوم شي، پناه شي او ځای ئې بل ته خوشی شي. څوك دي چي دا ټول امور اداره او تنظيموي؟ آيا له دينه پرته چي ووايو او اعتراف وکړو چي د دې هستی د ټولو امورو تدبير د الله تعالی په لاس کي دئ، آيا له دې اعتراف نه پرته بله چاره لرو؟ قرآنکريم څه ښه فرمايي:

**اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَفْعَلُ مِنْ ذَلِكُمْ مِنْ شَيْءٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ *** الروم: ٤٠

خدای هغه ذات دئ چي تاسي ئې پيدا کړی، بيا ئې تاسي ته روزي درکړه، بيا تاسي وژني، بيا مو بېرته راژوندي کوي، آيا ستاسي له شريکانو نه داسي څوك شته چي له دې کارونو نه کوم يو وکړی شي؟! پاکي ده الله لره او هغه لوړ دئ له هغه څه نه چي دوی ئې ورسره شريك گرځوي.

يعني ستاسي په پيدايښت کي، ستاسي په رزق او روزي کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ستاسو په مرگ او ژوند کي هيڅوك له خدای سره شريك نه دي، الله تعالى له دې عيب نه پاك او لدينه لوړ دئ چي په دې کارونو کي څوك د ځان شريك ونيسي. قرآنکريم په يوه بل آيت کي لکه څرنگه چي خلقت په الله تعالى پوري مختصوی او د ماسوی الله اشتراك پکي له بنياده نفی کوي همداراز د امورو تدبير او انتظام هم په الله پوري مختص شمېري او پدې کار کي هم د بل چا شراکت نفی کوي، فرمايي:

**إِنَّ رَبَّكُمْ اللَّهُ الَّذي خَلَقَ السَّمَاوَات وَالْأَرْضَ فِي ستَّة أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَات بِأَمْرِه أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمينَ *** الاعراف: ٥٤

بېشکه چي ستاسي رب هغه الله دئ چي ځمکه او آسمانونه ئې په شپږو ورځو (شپږوتکويني مراحلو)کي پيدا کړي، بيا ئې په عرش استواء وکړه، د شپې پرده په ورځي غوړوی، "يوه بله" په ډېره چټکی سره لټوي، لمر، سپوږمی او ستوري د هغه حکم ته تابع دي، پوه شه چي پيدا ايښت او امر ده لره مختص دئ، د عالمونو رب او پالونکي بابرکته دئ.

قرآنکريم په خلقت او امر کي د ماسوی الله يعني له الله نه پرته د بل هرچا هر راز ونډه نفی کوي او فرمايي:

**يَأَيُّهَا النَّاس ضرب مَثَلٌ فَاستَمعُوا لَهُ إِنَّ الَّذينَ تَدْعُونَ من دُون اللَّه لَن يخْلُقُوا ذُبَاباً وَ لَو اجْتَمَعُوا لَهُ وَ إِن يَسلُبهُمُ الذُّبَاب شيْئاً لا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يَستَنقذُوهُ منْهُ ضعُف الطالب وَ الْمَطلُوب* مَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِه إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ *** الحج: ٧٣-٧٤

اې خَلَکو! يو مثال راوړل کېږي، ورته غوږ شئ: بيشکه څوك چي تاسي له الله پرته خپلي مرستې ته رابولي، يو مچ هم نشي پيدا کولی او که دا مچ څه ترې وتښتوي نه ئې شي ترې ژغورلی، طالب او مطلوب دواړه بې وسه شول، د الله تعالی قدر ئې لکه څنګه چي له ده سره ښايي ندی پېژندلی، بيشکه چي الله زورور عزتمند دئ.

يعني له الله تعالی نه پرته چي تاسي له بل هر څه او هرکس نه مرسته وغواړئ، که دا په آسمان کي وي او که په ځمکه کي، انسان وي که پرښته، ژوندی وي که مړ، يو هم نشي کولی يوه وړه او حقيره حشره پيدا کړي او که دا حشره څه ترې وتښتوي نو د هغه د ژغورني توان هم نه لري، نه څه شی پيدا کولی شي او نه ئې ژغورلی شي، په دې معامله کي طالب او مطلوب دواړه کمزوري او بې وسه دي، مطلوب کمزوری او بې وسه دئ ځکه چي نه د کوم څيز د خلقت او پيدا کولو توان لري او نه پر نورو د حکمرانۍ او واکمنۍ قدرت ورسره شته او طالب ځکه کمزوری او ضعيف دئ چي پداسي يوی بې وسه او کمزوری متکاء ئې تکيه وکړه او مرسته يې ترې وغوښتله چي د هيڅ څه واك او توان نه لري.

د قرآنکريم لومړنی درس، د دې الهي کتاب په لومړنی آيت کي پدې ټکي ټينګارکوي چي:

الحمدلله رب العالمين: ټولي ستايني هغه الله لره دي چي د عالميانو رب او پالونکی دئ"

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني دا کاینات داسي رب او پالونکی لري چي د هرڅه پالنه کوي، د هستي د هرې برخي ساتنه او د چارو سمبالول ئې په واك کي دي او په ټولو امورو کي د رب په حیث تصرف کوي. د خدای د ربوبیت نفی یا **تعطیل** او دا اعتقاد چي الله تعالی د مخلوقاتو له پیدا کولو وروسته د امورو اداره او د چارو سمبالول ئې په کایناتو حاکمو ضوابطو او سننو ته پرېښې، همداراز په ربوبیت کي شرك یعني دا باور چي د کایناتو د امورو په اداره کي خدای شریك لري، دا دواړه (د ربوبیت نفی او په ربوبیت کي شرك) د قرآنکریم له بنیادی او اساسي مفاهیمو سره ټکر او تناقض لري. نه پوهېږو هغه کسان چي د دې ډول شرك مرتکب کېږي، د قرآن هغه په سلګونو آیتونه څنګه توجیه کوی چي د ربوبیت په توحید دلالت کوي او په پوره صراحت او قاطعیت سره په دې خبری ټینګار کوی چي یوازي الله تعالی د ټولو امورو متصرف او پالونکیدی؟! دا ډله د دې آیتونو په هکله څه وایي:

**وَلِلَّه عَاقِبَةُ الْأُمُور** الحج: ٤١

د ټولو امورو پایله الله لره ده

**وَإِلَى اللَّه تُرْجَعُ الْأُمُورُ *** البقره: ٢١٠

ټول کارونه د الله په لوري ګرځول کېږي

**أَلا إِلى اللَّه تَصِيرُ الأُمُورُ*** الشوری: ٥٣

پام چي ټول کارونه د خدای لور ته ورګرځي

**قُلْ إِنَّ الأَمْرَ كلَّهُ للَّه** آل عمران: ١٥٤

ووایه چي بیشکه کارونه ټول الله لره دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پداسي حال کي چي قرآنکریم رسول الله علیه السلام ته فرمایي چي ته د هیڅ شي واك او اختیار نه لرې، دا په خدای پوري اړه لري چي د چا توبه قبلوی او چا ته عذاب ورکوي، دا یوازي د خدای کار دئ، نه په تا پوري اړه لري او نه بل چا پوري، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هکله چي حکم دا وي نو د نورو عادي خلکو په هکله به حکم څه وي؟

الله تعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته فرمایي:

**لَيْس لَك مِنَ الأَمْرِ شیْءٌ أَوْ يَتُوب عَلَيهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظلِمُونَ*** آل عمران:۱۲۸

د دې کار هیڅ څه په تا پوري اړه نه لري، یا به ئې توبه قبلوي او یا به ئې د دې لپاره تعذیبوي چي ظالمان دي.

قرآنکریم په ربوبیت کي د شرك د نفی او تردید لپاره پدې قاطع دلیل او حجت استدلال کوي چي که په ځمکه او آسمان کي له یوه خدای نه پرته نور خدایان وی نو حتماً به د ځمکي او آسمان ټولی چاری مختل او هر څه به تباه شوي وو، دا ځکه چي په هغه صورت کي به هر خدای له خپلي خوښي سره سم د دې عالم اداره غوښتله، د آراوو اختلاف، په اجراءاتو او تصرفاتو کي د ارادو تعدد به حتماً په ټکر او تصادم منتج کېده او دا به په کائناتو کي د لویي تباهي سبب جوړېده. په هستي او کایناتو کي دا حاکم نظم او نسق پدې دلالت کوي چي د مخلوقاتو د امورو د تدبیر واك او اختیار له یوه ذات سره دئ.

**لَوْ كانَ فِيهِمَا ءَالِهَةٌ إِلا اللَّهُ لَفَسدَتَا فَسبْحَنَ اللَّهِ رَب الْعَرْشِ عَمَّا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يَصفُونَ *** الانبياء: ۲۲

که په آسمان او ځمکي کي له الله پرته نور خدايان وی؛ دواړه حتماً تباه کېدل، نو د دوی له ستايلو نه د عرش پالونکي الله لره پاکي ده.

د قرآنکريم ترټولو ستر او مبارك آيت (آيت الکرسي) پدې رابطه فرمايي چي الله تعالی د ټولو موجوداتو د امورو مدبر او قيوم دئ، د هرڅه قوام لده نه دئ، يوه لحظه هم د کايناتو له اداري څخه نه غافل کېږي، د ځمکي او آسمان د هرڅه مالك دئ، هيڅوك ئې په وړاندي له اجازې پرته د سفارش او شفاعت توان نه لري، په پټو او ښکاره شيانو عالم دئ، د نورو علم هم د ده ورکړه ده، د ده په حکم او اذن سره له څه خبرېدی او په څه پوهېدی شي، د هغه د اقتدار کرسۍ پر آسمانونو او ځمکي احتواء کړې ده، ټول شيان ترې لاندي دي، د دې ارت عالم ساتنه او تنظيم د هغه د ستړيا سبب نه کېږي. فرمايي:

**اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ *** البقرة: ۲۵۵

الله هغه ذات دئ چي له ده پرته بل معبود نشته، همغه ژوندی قيوم ذات، نه خوب وربانديي راځي او نه پرموښی، څه چي په آسمانونو کي دي او څه چي په ځمکي کي دي، ټول هغه لره دي، دا به څوك وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د ده له اجازې پرته د ده په وړاندي سفارش او شفاعت وکړي شي، په هر هغه څه پوهېږي چي د دوی مخی ته دي يا ئې شاته دي او دوی د ده له علم څخه يوازي په دومره څه احاطه کولی شي چي دی ئې وغواړي، د قدرت او واکمنی کرسی ئې پر آسمانونو او ځمکي حاوي ده او د دوی دواړو ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه لوړ ستر ذات دئ.

قرآنکريم د ربوبيت د جزئي او کلي تعطيل د نفی او د دې مفهوم د اثبات لپاره چي خدای په دايمي او دوامداره توگه له يوی شېبې غفلت نه پرته د عالم امور اداره او سمبالوي او همدا راز د دې مطلب د اثبات لپاره چي ټول مخلوقات د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره الله ته رجوع کوي او هغه ئې اړتياوې پوره کوي، فرمايي:

**يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ ***

الرحمن:۲۹

څه چي په آسمانونو او ځمکه کي دي ټول ده ته سوال کوي ، دی هره شېبه په يوه کار کي دئ.

دا او په لسگونو نور آيتونه د دې لپاره کافي دي چي ووايو: هرڅوک چي د هستي د چارو په اداره او تدبير کي له خدای سره شريك ونيسي، هغه په حقيقت کي قرآنکريم تکذيب کړی، د شرک مرتکب شوي او د توحيد له دايرې او د موحدينو له ډلي نه وتلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علم غیب

## آیاعلم غیب خاص الله تعالی لره دئ؟

د اسلام له مهمو اعتقادي مسائلو نه یو هم غیب او علم غیب دئ. قرآنکریم موجودات په دوو برخو وېشلي:

- مشهود (ښکاره) هغه څه چي لمس او لیدی شي.
- غیب (له نظر نه پټ) هغه څه چي نه لیدی شي او نه لمس کېدی شي. هر هغه څه چي انسان ئې نشي لیدی او په حواسو ئې نشي درك کولی، هغه د غیب په شمار کي راځي.

قرآنکریم علم غیب یعني د پټو شیانو علم په الله تعالی پوري خاص شمېري او په ډېر تأکید سره فرمایي چي له الله تعالی نه پرته بل هیڅوك علم غیب نه لري. لاندنیو آیتونو ته توجه وکړئ:

**قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ وَمَا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُون*** النمل: ٦٥

ووایه: په غیب له الله تعالی پرته د آسمانونو او ځمکي هیڅ څه نه پوهېږي او پدې هم نه پوهېږي چي څه وخت به بیا راژوندي کړی شي.

**عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا *** الجن: ٢٦

په غیب پوه خدای چي هیڅوك په خپل غیب نه خبروي.

**فَقُلْ إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلَّهِ فَانْتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُمْ مِنْ الْمُنْتَظِرِينَ ***

یونس: ٢٠

نو ووایه: غیب خو یوازي الله لره دئ، نو انتظار وکړئ چي زه هم ستاسو په څنګ کي له منتظرینو څخه یم.

**وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ *** الانعام: ٥٩

او له ده سره د غیب (د خزانو) کلیاني دي چي له ده نه پرته هیڅوك وربانديي نه پوهېږي، په وچه او بحر کي چي څه شته په ټولو پوهېږي، هیڅ پاڼه نه راپریوځي مګر دی وربانديي پوهېږي او نه د ځمکي په تیارو کي کومه دانه او نه کوم لوند او وچ داسي څه شته چي په څرګند کتاب کي دې نه وي.

دې آیتونو علم غیب په پوره تأکید سره په الله تعالی پوري مختص کړی او د ځمکي او آسمان له نورو ټولو موجوداتو نه ئې نفی کړی، له ملایکو نه، له انسانانو، مړو او ژوندیو نه او له هرڅه او هرچا نه ئې علم غیب نفی کړی، په دې هکله د دې آیتونو الفاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره واضح او څرګند دي چي د هيڅ شك او شبهې مجال نه پرېږدي. د دې آيتونو په رڼا كي په پوره ډاډ او قاطعيت سره ويلی شو: هرڅا چي له الله تعالی نه پرته د بل ڇا لپاره د علم غيب ادعا وكړه او دا ئې وويل چي له الله پرته بل څوك هم علم غيب درلودی شي، هغه په حقيقت كي د الله تعالی كتاب تكذيب كړی.

قرآنكريم په لاندېني آيت كي څو داسي شيان په ګوته كوي چي علم ئې يوازي له الله سره دئ، هلته چي فرمايي:

**إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ *** لقمان: ٣٤

بيشكه چي د قيامت علم له الله سره دئ، هغه باران وروي او په هغه څه علم لري چي د ميندو په رحم كي وي، هيڅوك پدې نه پوهېږي چي سبا به څه كوي، هيڅوك پدې نه پوهېږي چي چيرته به مري، بيشكه چي خدای ښه پوه باخبره ذات دئ.

په دې آيت كي د لاندنيو شيانو علم تر الله تعالی پوري مختص شوی:

الف- د قيامت وخت: قرآنكريم په متعددو آيتونو كي دا مطلب بيان او روښانه كړی چي له الله تعالی نه پرته هيڅوك د قيامت د راتلو له وخت نه ندي خبر.

ب - د باران د اورېدو وخت او ځای. پدې هكله بايد دوه ټكي په پام كي ولرو:

د باران په هكله د انسان وړاندوینه په حدس او ګمان ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، د حدس (گمان) او علم ترمنځ ژور توپير بايد هير نه کړو، گمان ته علم ونه وايو، په هر حدس او گمان کي ګڼ شمېر احتمالات وي؛ خو علم احتمالات يوې خوا ته پرېږدي او قاطع فيصله صادروي، په علم کي متعددو احتمالاتو ته ځای نه وي. کله چي مونږ د پرمختللو وسايلو په واسطه د بادونو سرعت او استقامت او د وريځو حالت او کيفيت معلوموو او بيا په همدې اساس او د دغه معلومات په رڼا کي وايو چي په فلاني وخت او فلاني ځای کي د باران اورېدو احتمال شته، دا وړاندوی‌نه که هرڅومره دقيقه وي، د حدس او گمان له دايرې نشي وتی، انسان نشي کولی ټول هغه عوامل چي د وريځو په جوړيدو، حرکت او د باران، ږلی يا واورې په اورېدو کي لږ يا زيات ونډه او اغېز لري درك او په دقيقه توگه ئې وپېژني او بيا د هغه په رڼا کي سل په سلو کي علمي وړاندوی‌نه وکړي. هغه وړاندوی‌نه چي په هغې کي د يوې ثانيي ۱/۱۰۰۰ ، يا د يوه مليمتر ۱/۱۰۰۰ د اشتباه احتمال ولري دا په حدس او گمان ولاړه ده او نه ښايي هغه ته علم ووايو، ځکه په علم کي د اشتباه هيڅ احتمال نه وي.

همدا وريځ چي په خاص سرعت سره د خاص استقامت او سمت په لور روانه ده او هغه سره وړمه چي د باران سبب کېږي، په څو کيلومتری کي ورته انتظار باسي، دا احتمال شته چي له يوه بل استقامت نه ديوه تېز باد په لگيدو سره خپله لاره بدله کړي او په بله خوا لاړه شي، د همدې ډول احتمالاتو د شته والي له امله د انسان وړاندويني ته علم نشو ويلی، خو الله تعالی عالم الغيب دئ او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو عواملو پوره علم لري.

ج - الله تعالی پدې پوره علم لري چې په رحم کې څه دي، پدې عالم دئ چې دا د مور په ګیډه کې نوی جوړ شوی ماشوم نېکمرغه دئ که بدمرغه، ښکلی دئ که بدرنګه، ذکي دئ که غبي، هلك دئ که نجلۍ...الله پدې علم لري؛ خو انسان نه شي کولی د مور په ګیډه کې د ماشوم د ټولو مواصفاتو په هکله علم ولري. دا چې اوس د اشعي په واسطه او په هغو پرمختللو وسایلو چې د رحم د بل لوري جدار ښکاره کوي، د نطفې د تأنیث او تذکیر حالت معلومېدی شي، دا باید د پورته ذکر شوي آیت منافي ونه بلل شي. پدې وسایلو سره په رحم کې د ماشوم په حالت خبرېدل داسې دي لکه چې د یوه دیوال شا ته د نصب شوې ویدیویي کامرې په واسطه هغه کسان ووینې چې د دېوال شاته ولاړ دي، ته ئې په خپلو سترګو نشي لیدلی خو دوی د همدې کامرې په واسطه وګورې او بیا ووایې چې هلته فلانی او فلانی ولاړ دي، آیا دیته علم غیب ویلی شو؟ هیڅکله نه، همدا راز که د یوه قوي دوربین پذریعه څو کیلومتره لرې چې هلته سترګې کار نه کوي، ته یو څوك په آس سپور ووینې، بیا خپلو ملګرو ته ووایې چې اوس به فلانی زمونږ خواته راشي، آیا دا علم غیب دئ؟ نه، هیڅکله نه، علم غیب دا دئ چې ته بې له وسایلو او ذریعو او بې له دې چې په حواسو ئې درك کړې په پټو شیانو پوه او خبر شې.

د - انسان په دقیقه توګه پدې نه پوهېږي چې سبا به څه کوي، سبا غایب دئ او څه چې سبا راتلونکي دي هغه له انسان نه پټ دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته په ملیونونو احتمالات شته، هیڅوك نه شي كولی په دقیقه توگه په دې پوه شي چې سبا به په څه حالت كې وي او څه به كوي؟ ستا تصمیم صرف یو احتمال كېدی شي، له ډېرو او بې شمېره احتمالاتو نه یو احتمال، كولی شې گمان وكړې، ممكنه ده گمان او تخمین دې واقعیت ته ډېر نږدې وي، خو دانشې كولی په سبا پېښېدونكو حوادثو او هغه څه چې سبا ئې كوې علم ولرې.

ه - هیڅوك پدې نه پوهېږي چې چیرته به مري، څه وخت به د مرگ قاصد ورته راځي او په كوم ځای او كوم حالت كې به د روح امانت خپل مالك ته سپاري.

قرآنكریم په پوره تأكید سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته فرمایي چې خلكو ته په څرگندو ټكیو كې ووایه چې ته علم غیب نه لرې، یوازې زېری وركوونكی او وېروونكی یې، د الهي وحی امین او د الهي پیغام داسې وړونكي چې بېله كمښت او زیادت نه ئې خلكو ته رسوي، قرآنكریم دا هم بیانوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خلكو ته اعلان كړی چې كه هغه له جنت، دوزخ، ملائكو، جنیاتو، قیامت او نورو پټو امورو څخه خبري كوي او پدې هكله معلومات وركوي، نو تاسې دا گمان ونكړئ چې هغه علم غیب لري، څه چې وایي هغه وحی ده نه د ده شخصي علم او پوهه.

قرآنكریم په دې هكله فرمایي :

**قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنْ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِي السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ** * الاعراف:۱۸۸

وَوایه : د خپل ځان لپاره د گټې او زیان مالك نه یم، مگر هغه څه چې خدای ئې وغواړي، که په غیب پوهېدلی نو د ځان لپاره به مې ډېره گټه ترلاسه کوله او هیڅ تاوان به نه رارسېدو ، زه د مؤمنانو ډلې ته د یوه انذار کوونکی او زېری ورکوونکی نه پرته بل څه نه یم.

دا آیت شریف مونږ ته په ډېره دقیقه توگه لارښوونه کوي او یو حساس او دقیق معیار په اختیار کې راکوي او وائی: علم غیب د گټې د ټولو مواردو د لاس ته راوړو او د تاوان له ټولو مواردو نه د ځان ژغورني وسیله ده، څوك چې علم غیب ولري هغه ته له هیڅ پېښې تاوان نه رسېږي، له هیڅ څه نه صدمه نه گوري، د هیڅ دښمن په وړاندې ماتې نه خوري، په خپل ژوندکې له هیڅ خنډ او مانع سره نه مخ کېږي، په هرعمل کې بریالی وي، ځکه پوهېږي چې د ضرر او زیان موارد کوم دي، له هغو نه ځان ساتي، په دې پوهېږي چې د گټې او منفعت عوامل او موارد کوم دئ، ټول خپلوي او کار ترې اخلې، له هغه خوړو نه ډډه کوي چې صحت ته ئې ضررلري، د خپل هر درد دوا پېژني، نو پدې اساس نه ناروغه کېږي، نه ئې دښمن دا فرصت موندلی شي چې پر ده غالب شي، ځکه هغه ته د غلبې عوامل او لارې چارې معلومې وي او ټول د ځان په گټه په کار اچوي، دښمن نشي کولی هغه زنداني کړي، له وطن نه ئې وشړي، وئې وژني، د خلکو له ملاتړ نه ئې محروم او کمزوری کړي، دا ځکه چې هغه مخکې له مخکې نه د دښمن له تصمیم نه خبرېږي او لازم تدابیر نیسي، په جگړه کې برى د هغه چا وي چې د مقابل لوري له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقشې، اهدافو، وسایلو او تاکتیك نه خبر وي، د کمزورۍ نقطې ئې ورته معلومې وي. رنځ هم د رنځ له عواملو نه د ناخبرۍ له امله پیدا کېږي، زیان او ضرر هم هغه وخت چا ته رسېږي چې د زیان عوامل او اسباب ونه پېژني. که پیغمبرانو علیهم السلام او نورو لویو شخصیتونو علم غیب درلودی نو زندان ته به نه اچول کېدل، په شهادت به نه رسول کېدل، ماتې به ئې نه خوړله، له وطن نه به نه شړل کېدل، ملګرې به ئې د دښمن په لاس نه وژل کېدل او نه به تعذیبیدل، له مشکلاتو او کړاوونو سره د هغوی مخامخ کېدل پدې دلا لت کوي چې هغوی علم غیب نه لري. قرآنکریم د الله رسول صلی الله علیه وسلم ته امر کوي چې خلکو ته ووایې چې علم غیب نه لري:

**قُل لا أَقُولُ لَكُمْ عندى خَزَائنُ اللّه وَ لا أَعْلَمُ الْغَيْب وَ لا أَقُولُ لَكُمْ إنِى مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلا مَا يُوحَى إِلَىَّ *** الانعام: ۵۰

ووایه: زه نه درته وایم چې د الله خزانې له ما سره دي او نه په غیب پوهېږم او نه دا درته وایم چې زه پرښته یم، زه یوازې د هغه څه پیروي کوم چې راته وحی کېږي.

ما ته ووایاست: پداسې حال کې چې په هر څه پوه خدای چې عالم الغیب والشهاده دئ، په تأکید او مکرره توګه د قرآنکریم په متعددو آیتونو کې په څرګنده توګه وایي چې له الله نه پرته هیڅوك علم غیب نه لري، له ده نه پرته نه په آسمان کې څوك علم غیب لري او نه په ځمکه کې، الله خپل پیغمبر ته امر کوي چې د خلکو ابهام او تشویش رفع کړي او دا ورته اعلان کړي چې علم غیب نه لري، هغه یوازې پیغمبر دئ، هغه څه وایي چې ورته وحی شوې. اوس لدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صراحت سره سره که ثوك راشي او د الله او رسول صلی الله علیه وسلم د قول مغایره او مخالفه ادعا وکړي او ووایي چي علم غیب لري او یا دا هڅه وکړي چي د بل چا لپاره علم غیب ثابت کړي، آیا دا ادعا دروغجنه او بې بنسټه نه ده؟ آیا دا د الله او د ده د رسول د قول د تکذیب هڅه نده؟

په قرآنکریم کي دوه آیتونه داسي دي چي یو شمېر کسان استدلال وربانديي کوي او له الله تعالی نه پرته د نورو لپاره ئې د علم غیب د اثبات د دلیل په توگه وړاندي کوي، لومړی ئې د آل عمران ۱۷۹ آیت او دوهم ئې د الجن د سوري ۲۲ آیت دئ. نوموړي آیتونه دا دي:

**مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّى يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنْ الطَّيِّبِ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَإِنْ تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ** * آل عمران: ۱۷۹

الله تعالی داسي ندی چي مؤمنان به د پاك او ناپاك له بېلولو نه پرته همداسي ستاسو په موجوده حالت کي پرېږدي او الله داسي هم نه دئ چي تاسی له غیب نه خبر کړي، لکن خدای له پیغمبرانو نه چي ثوك وغواړي هغه غوره کوي، نو په خدای او په پیغمبرانو ئې ایمان راوړئ، که مو ایمان راووړ او تقوی مو غوره کړه نو ستاسي لپاره ستر اجر دئ.

**عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا * إِلَّا مَنْ ارْتَضَى مِنْ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رَسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا * لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا رِسلَتِ رَبِّهِمْ وَ أَحَاطَ بِمَا لَدَيهِمْ وَ أَحْصى كلَّ شيْءٍ عَدَدًا *** الجن: ۲٦-۲۸

په غیب پوه خدای، چي له خپل غیب نه هیڅوك نه خبروي، مگر هغه رسول او استازی چي په خپله ئې غوره کړي وي چي د هغه مخي او شاته څارونکي لېږي، ترڅو پدې پوه شي چي د خپل رب پیغامونه ئې رسولي دي، پداسي حال کي چي د دوی په هر څه ئې احاطه کړي ده او هرڅه ئې په دقیق شمېرلو سره شمېرلي.

پدې مبارکو آیتونو د غیرالله لپاره د علم غیب د اثبات په خاطر استدلال ډېر بې بنسټه، بې محتوی او غیرعلمي استدلال دي، ځوك چي گمان کوی په دې آیتونو کي پیغمبران له عدم علم غیب نه مستثنی شوي سخته اشتباه کوي، د دې باطلې مدعا لپاره پدې آیتونو استدلال لویه غلطي ده، دوی په حقیقت کي نه پدې آیتونوکي دقت کړی او نه ئې لدینه مخکي او وروسته آیتونو ته توجه کړیده او نه ئې د قرآنکریم هغه ټول آیتونه په نظرکي نیولي چي په پوره صراحت او قاطعیت سره علم غیب تر الله پوری محدود او مختص بولي او له الله تعالی نه پرته له هر څه نه که په ځمکه کي دي که په آسمانونو کي علم غیب نفی کوي. د دې ډلي استناد هغه کسانو ته ورته دئ چي په قرآنکریم کي د خپلي نظریي د اثبات لپا ره دلایل لټوي، خو کله چي د خپل قول د ثبوت لپاره صریح او څرگند دلیل ونه مومي نو بیا کوشش کوي په قرآنکریم کي داسي الفاظ او کلمات ومومي چي لده سره د مدعا په اثبات کي مرسته کولی شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د دې پرځای چې خپل افکار له قرآن نه واخلي او قرآنکريم د خپلو افکارو لپاره محك او معيار وټاکي برعکس هڅه کوي خپل افکار پرقرآنکريم تحميل کړي، دوی د خپلو نظرياتو د اثبات لپاره آيتونه توجيه او تأويلوي!! پر قرآنکريم د ايمان غوښتنه خو دا ده چې د هر آيت په وړاندي (آمنا و اسلمنا) ووايو، په پوره خلوص ورته تابع شو، هر هغه فکر او ذهنيت لرې واچوو چې له قرآن سره توپير او مغايرت لري او خپل افکار د قرآن په رڼا کي تصحيح او سم کړو، نه داسي چې قرآنکريم د خپلو نظرياتو او افکارو په ګټه تأويل کړو.

هغه کسان چې ګمان کوي د جن د سورې په **۲۷** آيت کي استثناء د الله تعالی د غوره شوو پيغمبرانو عليهم السلام لپاره علم غيب ثابتوي، دا کسان د څو لويو اشتباهاتو مرتکب شوي:

دوی له دې آيت نه مخکي **۲۵** او **۲۲** آيتونو ته توجه نده کړې، هغه چې فرمايي:

**قُلْ إِنْ أَدْرِي أَقَرِيبٌ مَا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُ رَبِّي أَمَدًا * عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا ***

ووايه: نه پوهېږم آيا هغه څه چې له تاسو سره ئې وعده شوي ده، نږدې ده او که رب مي کومه نېټه ورته ټاکلې ده، هغه رب مي چې په غيب پوه دي او هيڅوك په خپل غيب نه خبروي.

پدې آيتونوکي رسول صلی الله عليه وسلم ته امرکېږي چې ووايي: زه علم غيب نه لرم، نه پوهېږم چې ستاسي په هکله الهي وعده کله سرته رسېږي، يوازي زمارب په غيب عالم دئ او هيچا ته په غيب د پوهېدو مجال نه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی دیته ندي متوجه چي پدې آیت کي استثناء پیغمبرانو علیهم السلام ته نه بلکه د وحی راوړونکي پرښتې ته متوجه ده، په ۲۷ آیت کي له رسول نه مراد د وحی راوړونکي پرښته ده چي مخکي او وروسته ئې نورې ساتونکي پرښتې هم لیږل کیږي، ترڅو د وحی پیغام په پوره توګه له کمښت او زیادت او ځنډ او تأخیر نه پرته په خپل وخت پیغمبر ته ورسوي. دوی دي ته متوجه ندي چي دا مبارکه سوره له پیل نه تر پاي پوري په دې تأکید کوي چي له الله نه پرته بل څوك علم غیب نه لري. دوی پدې نه پوهیږي چي علم غیب او د وحی پذریعه د غیب په هکله اطلاع او معلومات یو له بل سره توپیر لري، د غیب په هکله یوازي د وحی پواسطه اطلاع موندلی شو او د وحی پذریعه له غیب نه اطلاع او خبریدل علم غیب ندی!! خدای په ځمکه او آسمان کي هیچا ته علم غیب ندی ورکړی، خو پیغمبران علیهم السلام ئې د وحی پذریعه له یو شمیر غیبي امورو نه خبر کړي او الله تعالی په خپلو کتابونو کي داسي غیبي امور بیان کړیدي چي انسان ئې په مستقیمه توګه له ادراك نه عاجز دئ. الهي کتابونو ته له مراجعي نه وروسته هرڅوك له ډیرو غیبي امورو نه خبریدلی شي، جنت، دوزخ، پرښتې، پیریان، روح، برزخ، قیامت او داسي نور ټول غیبي امور دي چي مونږ د قرآنکریم له لاري پدې شیانو خبر شوي یو. متأسفانه دا ډله پدې غلطۍ کي لویدلی چي د وحی په ذریعه له غیب نه اطلاع ته علم غیب وایي او له غیبي امورو نه اخبار او اطلاع له علم غیب سره خلط کوي.

همداراز هغه کسان چي د آل عمران د سورې د ۱۲۹ آیت د ې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخي "**وَلَكِنَّ اللّهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ**" په هکله دا تصور لري چي دلته ځيني پيغمبران له عدم علم غيب نه مستثنى شوي، پدې استثناء استدلال کوي او پيغمبرانو عليهم السلام ته د علم غيب ثابتولو هڅه کوي، پدې کار سره دوى د څو اشتباهاتو مرتکب شوي: د دې آيت د بحث اصلي موضوع ته ئې پام ندى کړى، د آيت له وروستۍ برخي نه داسي انتباه اخلي چي د همدې آيت له لومړنۍ برخي سره هيڅ اړخ نه لګوي، د آيت پيل داسي دئ:

**مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّى يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنْ الطَّيِّبِ:**

الله تعالى داسي ندى چي مؤمنان به ستاسو پدې موجوده حالت کي پرېږدي، تر څو ناپاك له پاك نه بېل کړي.

يعني د خداى سنت دا ندى چي مؤمنان د ښه او بد، پاك او ناپاك ترمنځ له توپير، تمييز او بېلتون نه پرته همداسي ګډ او مختلط پرېږدي. حتماً به داسي حالت راولي چي دا دواړه ډلي سره بېلې شي، بيا فرمايي:

**وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ**

او خداى داسي ندى چي تاسي پرغيب خبر کړي.

يعني د ښه او بد، پاك او ناپاك ترمنځ د تفکيك او بېلتون طريقه دا نده چي تاسي له غيب نه خبرکړي او د علم غيب له لاري پدې پوه شئ او دا درك کړئ چي څوك خبيث او څوك طيب دئ. پدې پسې متصل فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَإِنْ تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ:**

خو الله تعالی له خپلو پیغمبرانو نه چي څوك وغواړي هغه غوره کوي، نو په خدای او پیغمبرانو ئې ایمان راوړئ، که ایمان مو راووړ او تقوی مووکړه نو ستاسي لپاره لوی اجر دئ.

یعني د پاك او ناپاك، خالص او ناخالص، مخلص او نامخلص ترمنځ تفکیك او بېلتون د پیغمبرانو د غوره کولو او خلکو ته د هغوی د لېږلو له لاري ترسره کېږي،د پیغمبرانو علیهم السلام په بعثت سره خلك په دوو ډلو وېشل کېږي او پاك له ناپاك نه بېلېږي. پر خدای او رسولانو باندي په ایمان، د هغوی په اطاعت او په تقوی سره د پاکانو په ډله کي شاملېږی او لوی اجر مو په برخه کېږي.

پدې آیت کي به یوازي هغه چا ته څه ابهام او اغماض ښکاري چي د رنځور زړه خاوند وي او هغه ته له کږې زاویې گوري. عجیبه ده دا کسان د دې پرځای چي دا آیت د خپلو کږو او باطلو افکارو د تصحیح او سمون لپاره خپل لارښود ونیسي او ووایي چي خدای هیچا ته علم غیب نه دی ورکړی، برعکس تصور کوي چي پدې آیت کي د یو شمېر پیغمبرانو علیهم السلام لپاره د علم غیب د اثبات دلیل وجود لري !!

دوی متوجه ندي چي پدې ډول تعبیر سره هر مخاطب ته دا انتباه ورکوي چي گویا په قرآنکریم کي تناقض شته، ځیني آیتونه ئې په صراحت او قاطعیت سره اعلانوي چي له الله تعالی پرته هیڅوك علم غیب نه لري؛ خو په ځینو نورو آیتونو کي داسي نښانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدل کېږي چي مخاطب ته دا انتباه القاء کوي چي له الله تعالی نه علاوه نور هم علم غیب لرلي شي!! حقیقت دا دئ چي الهی کلام لدې عیب نه پاك او منزه دئ، نه یوازي هیڅ تناقض پکي نشته بلکه آیتونه ئې ټول په خپل منځ کي یو د بل موئید، همغږي او یو د بل شرح او تفسیر. هرڅوك چي له کوم آیت نه داسي تعبیر او انتباه واخلي چي له بل آیت سره تناقض او ټکر ولري هغه غلط شویدی او په قرآنکریم کي ئې د تناقض پیدا کولو غلطي کړي ده.

قرآنکریم د متعددو کیسو له لاري هم دا حقیقت په ګوته کوي چي پیغمبران علیهم السلام علم غیب نه لري:

د ابراهیم علیه السلام په هکله فرمایي: یوه ډله پرښتې د ښایسته ځوانانو په شکل کي د هغه کور ته راځي، هغه هرکلی ورته وایي، ځی یو خوسی ورته حلالوي، په غوړیو کي ئې وریتوي او هغه د دوی مخي ته ږدي، ناڅاپه متوجه کېږي چي میلمانه ئې ډوډۍ ته لاس نه وروړي، د وېرې احساس کوي، وایې هسي نه چي میلمانه ئې د دښمنۍ قصد ونلري، ځکه خو ډوډۍ نه خوري، هغه وخت معمول دا وو چي څوك به د دښمنۍ په نیت د چا کور ته ورغی نو د هغه پر دسترخوان به ئې ډوډۍ نه خوړله. پرښتو چي هغه پریشانه ولید نو ورته وئې ویل: مونږ ستا د رب له لوري رالېږل شوي یو، ترڅو د اسحاق او ورپسې د یعقوب زېری درکړو، ابراهیم علیه السلام تعجب کوي او میرمن ئې په حیرانتیا سره پوښتنه کوي چي دا څنګه کېدی شي چي مونږ د اولاد خاوند شو، پداسي حال کي چي زه بوډۍ او خاوند مي بوډا؟ ملایکو ورته وویل: آیا د الله تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار ته حیران یی او شك کوی؟! ابراهیم علیه السلام له خپل هغه اوچت معنوی مقام سره سره لدې نه عاجز وو چې کورته راغلې پرښتې وپېژني او لدینه هم خبر ندی چې الله تعالی ورته زامن، اسحاق او یعقوب ورکوي او پدې هم نه پوهېږي چې دا پرښتې په څمکه کې څه مأموریت لري، پوښتنه ترې کوي: ستاسي مأموریت څه دئ؟ پرښتې ورته وایي: مونږ راغلي یو دا لاندې کلی چې اوسېدونکي ئې ظالمان دي په بل مخ واړوو. ابراهیم علیه السلام ورته وایي: هلته خو لوط علیه السلام هم اوسېږي!! هغه کلی څنګه ورانوی چې لوط علیه السلام غوندې غوره شخصیت پکې اوسېږي؟ پرښتې وایي: مونږ د کلی اوسېدونکي پېژنو، لوط علیه السلام او اهل ته ئې نجات ورکوو، پرته له میرمنې نه ئې، میرمن به ئې له نورو سره وروسته پاتې کېږي او له هغوی سره به یوځای هلاکېږي.

قرآنکریم د یعقوب علیه السلام په هکله فرمایي: زامنو ئې اراده وکړه چې خپل ورور یوسف علیه السلام له مخې نه ایسته کړي او په څاه کې ئې واچوي. خپل پلار ته راغلل او وئې ویل: پلاره! د یوسف په هکله ولې پرمونږ باور نه کوې؟ پداسې حال کې چې مونږ د هغه خیر غواړو، سبا هغه له مونږ سره دښتې ته ولېږه ترڅو ساعت تېري او لوبې وکړي، یعقوب علیه السلام نه پوهېږي چې زامن ئې د یوسف علیه السلام په هکله بدنیت لري، هغه ورسره لېږي، ماښام چې بېرته کور ته راګرځي، پلار ته وایي: مونږ مسابقه درلوده، سیالي مو کوله، یوسف مو د خپل سامان خوا ته پرېښی وو، لیوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلی او هغه ئې وخوړ، دا ئې په وینو رنګ جامې، یعقوب علیه السلام لدې نه خبر نه وو او علم ئې نه درلود چې په ګران زوی ئې څه تېر شوي، له ډېره غمه ئې سترګې ړندې شوې او ترهغه د یوسف علیه السلام له حاله خبر نه شو چې زامنو ئې له مصر نه د ده خبر راووړ.

له لوط علیه السلام نه حکایت کوي چې همدغه د ابراهیم علیه السلام خوا ته راغلې پرښتې په اصل کې د ده د دعا په اساس او د ده د مرستې لپاره لېږل شوې وې، خو کله چې د ده خوا ته راغې دی نه پوهېږي چې دا ملایکې دي او د ده مرستې ته راغلی دي، برعکس د دوی په راتګ سره سخت غمجن شو، دومره چې زړه ئې تنګ شو او وئې ویل: ای کاش کوم پیاوړی ملاتړ او مرستندوی مې درلودای چې د دې مفسد او بدکار قوم د هجوم په وړاندې مې له خپلو میلمنو دفاع کړې وی!! لوط علیه السلام هغه وخت پدې پوه شو چې دا خو ملائکې دي نه ځلمیان چې پرښتو په خپله ځان ورمعرفي کړ او ورته وئې ویل مونږ پرښتې یو، ستا مرستې ته راغلي یو او مأموریت مو د دې ظالم قوم دا کلی نسکورول دي.

د زکریا علیه السلام کیسه داسې کوي چې الله تعالی ئې دعا قبوله کړه، یوه پرښته ئې د زوی د زېږي لپاره ورولېږله، زکریا علیه السلام لمونځ کاوو چې پرښتې زېری ورکړ، ده په ځواب کې ورته وویل: اې خدایه! ما ته به څنګه زوی راکوې، زه خو زوړ یم او میرمن مې شنډه ده؟! د دې ننبه به څه وي؟ ورته وویل شول: ننبه ئې دا ده چې د زوی د تولد په ورځو کې به درې ورځې خبرې ونشې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآنکریم د اسلام د ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خوب کیسه کوي، خوب ئې ولید چې مسجدحرام ته داخل شوی او عمره ادا کوي، د همدې خوب په اساس له یو زر څلور سوه کسانو سره د مکې په لور روان شو، حدیبیه ته چې ورسېد له خنډ سره مخ شو، قریشو ئې مخه ونیوله، مکې ته د ده او د یارانو له ننوتو او د مناسکو ترسره کولو نه ئې مخنیوی وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ناچار ودرېد، له عمرې نه منصرف شو، هملته ئې د قربانۍ څاروي ذبح کړل او ټول له احرام نه ووتل او له قریشو سره د یوه تړون په اساس بېرته مدینې ته ستون شو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه خوب یو کال وروسته تحقق وموند، دا جریان پدې دلالت کوي چې نه رسول الله صلی الله علیه وسلم علم غیب درلود او نه ئې یارانو رضي الله عنهم، ان تردې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل خوب د تحقق له وخت نه هم خبر نه وو.

قرآن فرمائی چې پیغمبر علیه السلام حتی له دې خبر نشو چې یوه ډله پیریان د ده خوا ته راغلل، د ده تلاوت ئې واورېدو، په قرآن ئې ایمان راوړ، خپل قوم ته ولاړل او هغوی ته ئې وویل چې مونږ عجیب قرآن واورېدو، هغوی ئې د الله عبادت ته راوبلل، که له الله تعالی نه پرته بل چا علم غیب درلودای نو رسول الله صلی الله علیه وسلم باید پدې پوه شوی وی چې پیریانو د ده تلاوت واورېد، ترې متأثره شول، ایمان ئې ورباندې راوړ، باید هغه پدې خبر شوی وی، خو داسې نه وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم لدې جریان نه څه موده وروسته د وحی په واسطه خبرېږي او مونږ هم لدې حادثې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د وحی په واسطه خبر شوي يو، دا پېښه داسي وه چي رسول الله صلی الله عليه وسلم د طائف له سفر نه ډېر غمجن او ناامیده راستون شو، مکي ته نږدې وادي نخله ته چي راورسېد هلته ئې د قرآنکريم تلاوت کاوو، دا تلاوت پيريانو واوريد، ترې متأثره شول، په محمد صلی الله عليه وسلم او قرآنکريم ئې ايمان راوور، رسول صلی الله عليه وسلم دغه وخت پدې نه وو خبر چي پيريانو د ده تلاوت اورېدلی او ايمان ئې ورباندي راوړی، څه موده وروسته قرآنکريم نازل شو او دی ئې له دې پېښي نه خبر کړ. هغه علم چي د وحی په واسطه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورکړل شويدی اوس د قرآنکريم په متن کي زمونږ ټولو په اختيار کي دي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ډول علم ته بايد علم غيب ونه ويل شي.

بخاري روايت کوي چي عائشي رضي الله عنها وويل:

**مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ ( لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ ) (وَ مَا كانَ لِبَشرٍ أَن يُكلِّمَهُ اللَّهُ إلا وَحْياً أَوْ من وَرَاء حجَاب أَوْ يُرْسلَ رَسولاً فَيُوحيَ بإِذْنه مَا يَشاءُ ) وَمَنْ حَدَّثَكَ أَنَّهُ يَعْلَمُ الْغَيْبَ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ لَا يَعْلَمُ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ ***

که چا درته وويل چي محمد صلی الله عليه وسلم خپل رب ليدلی دئ نو پوه شه چي دا شخص دروغ وايي، ځکه الله تعالی فرمايي: "سترګی ئې نشي ليدلی"، "او هيڅ انسان لره نه ښايي چي الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي سره، يا د حجاب له شا نه او يا کومه فرشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولېږي نو هغه د الله په حکم هغه څه ورته وحي کړي چي غوښتي ئې وي" او که چا درته وويل چي هغه علم غيب لري، نو دا هم دروغ وايي ځکه الله تعالى فرمايي : له الله پرته هيڅوك علم غيب نه لري.

د يوه بل اولوالعزمه پیغمبر نوح علیه السلام کیسه بیانوي او وايي: له نوح سره ئې ميرمني او زوی ملگرتیا ونکړه او په کښتۍ کي ورسره سپاره نشول، وروسته پاتې او په طوفان کي غرق شول، نوح عليه السلام د داسي پېښې انتظار نه درلود، د الله تعالى له وعدې نه ئې انتباه دا وه چي ټوله کورنۍ به ئې ژغورل کېږي، د طوفان په وخت کي ئې خپل زوی ته بلنه ورکړه؛ خو هغه د ده خبره ونه منله، په کښتۍ کي له سپرېدو ئې ډډه وکړه، دوی په خبرو کي وو چي د طوفان څپې ئې ترمنځ حايل شوې. کله چي کښتۍ پرغره تم شوه، نوح عليه السلام خپل رب ته دعا وکړه او وئې ويل: لويه ربه! زما زوی خو زما له اهل څخه دئ او ستا وعده هم رښتونې ده، نو د هغه ډوبيدل يعني څه!! خدای ورته وفرمايل: زوی دې ستا له اهل څخه ندی، هغه ناصالح وو، تا لدينه په خپلي پناه کي ساتم چي له جاهلانو څخه وې.

ووائې چي دا جريان په څه دلالت کوي؟ آيا پدې چي نوح عليه السلام علم غيب درلود او که پدې چي هغه پدې نه پوهېدو چي زوی ئې د ده له اهل څخه ندی او غرق به شي؟! دا او دیته ورته ډېر داسي مثالونه شته چي په قرآنکریم کي د دې لپاره راغلي چي د هغوکسانو لپاره د ابهام او تشويش هيڅ مجال پاتې نشي چي د قرآنکریم د صريحو آيتونو سره سره ئې پدې اړه قناعت نه وي حاصل شوی چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له الله پرته بل څوك د غيب علم نه لري، لا ئې هم پدې هکله په زړه او دماغ کې څه توهم او شبه پاتې وي. دا ډله خلك له ماسوی الله نه د علم غيب د نفی په هکله په لسګونو قرآني آيتونه له نظره غورځوي او د علم غيب په رابطه داسي تصور لري چې د قرآن له روح سره ټکر کوي.

ځيني کسان وايي چې له موسی عليه السلام سره د خضر عليه السلام د سفر او ملګرتيا کيسه او د سليمان عليه السلام له درباريانو نه د هغه کس کيسه چې په کتاب ئې علم درلود او د سبا د ملکې تخت ئې د سترګو په رپ کې د سليمان عليه السلام مخې ته کيښود، دا کيسې دا ښيي چې يوازې تر الله تعالی پورې د علم غيب منحصرولو او محدودولو ادعا درسته نده، د دوی په ځواب کې بايد ووايو:

• د سليمان عليه السلام په کيسه کې د دوی د تصور خلاف داسي قاطع دلايل شته چې له الله تعالی نه پرته له بل هرچا نه علم غيب نفی کوي. په همدې کيسه کې دا په ډاګه شوی چې سليمان عليه السلام پدې علم نه درلود چې د سبا په نوم کوم ملك شته او يوه ښځه ورباندې حکومت کوي،اوسېدونکې ئې مشرکان دي او لمر ته سجده کوي او ملکه ئې لوی تخت لري، دا معلومات يو مرغه (هدهد) ورکوي، که سليمان عليه السلام علم غيب نه لري نو څنګه امکان لري چې د ده يو امتي دې علم غيب ولري؟!

• په الهي کتاب د يوه پوه انسان دا خبره او دا عمل ولې علم غيب شمېرئ؟ قرآن خو دا ندي ويلي چې ده علم غيب درلود، تاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کومه ځایه دا خبره کوئ !؟

• په کوم اساس د کیسې له یوې برخې نه داسې تعبیر او انتباه اخلئ چې سل په سلو کې له نورو برخو سره تناقض لري؟!

• څه اشکال لري که د قرآنکریم له صریحو آیتونو سره متناقض او مخالف تصور او تعبیر پرېږدئ او دا ومنئ چې دا سړی مستجاب الدعوات وو، دعا ئې وکړه او خدای ئې دعا قبوله کړه او د سترګو په رپ کې د ملکې تخت د سلیمان علیه السلام مخې ته کېښودی شو.

همدارنګه له موسی علیه السلام سره د هغه کس ملګرتیا چې په ځینو روایاتو کې ئې نوم خضر ښودل شوی، د دې کیسې په هکله هم باید دې ډلې ته ووایو: قرآنکریم دا څرګندوی چې د دې کیسې هدف دا دئ چې موسی علیه السلام ته دا وښیي او ورته ثابته کړي چې له هر پوه نه پورته بل پوه شته، "وفوق کل ذی علم علیم" نه ښایي په خپل محدود علم غره شو او خپل علم مکمل او د علم پای او انتهاء وګڼو.

• پدې کیسه کې هیڅ داسې دلیل نشته چې د خضر علیه السلام لپاره علم غیب ترینه ثابت شي، قرآن ندي ویلي چې خضر علیه السلام په غیب پوهېدو، نه پوهېږو دوی دا انتباه له کومه ځایه اخیستی ده؟!

• د ظالم او غاصب پاچا په هکله د هغه علم، د هغه ځوان له نېك عمله مور او پلار نه د ده خبرتیا او تر نړېدونکې دیوال لاندې د هغو یتیمانو خزانه چې صالح مور پلار ئې له لاسه ورکړي وو، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومات ولې په علم غیب حمل شي؟ دا ولې د هغه د پوهې او بصیرت نښه ونه شمېرو، لکه څرنګه چې قرآن فرمایي: وَفَوقَ كُلِ ذِي عِلمٍ عَلِيمٌ

له هغه پوه او عالم سړي سره د موسى علیه السلام د ملګرتیا په کیسه کې څو په زړه پوري او د زیاتې توجه وړ ټکي زمونږ مخې ته ایښودل شوي:

• موسى علیه السلام چې د پنځو اولوالعزمه پیغمبرانو څخه دئ له خپل پوه او عالم ملګري نه داسې څه ویني چې د ده لپاره د توجیه او منلو وړ ندي، په ظاهر کې داسې بد او قبیح ورته ښکاري چې په وړاندې ئې چوپ نشي پاتې کېدی، فوراً اعتراض کوي. که څه هم ژمنه ئې کړې وه چې ترڅو پوري ده خبر نه وي ورکړی او مسئله ئې نه وي ورته بیان کړې، تر هغې پوري به د هیڅ کار په اړه پوښتنه نه کوي، خو ګورو چې موسى علیه السلام هرځل خپل تعهد هیروي، سکوت ماتوي او له خپل ملګری نه سوال کوي، اعتراض ورباندي کوي او ورته وایي: دا څه عجیب کار!! دا څومره ناوړه عمل!! او ملګری ئې هرځل ورته وایي: تا ته مي ویلي وو چې زما ملګرتیا نه شي کولی، زما پرکارونو صبرنه شې کولی، ځکه چې په راز ئې نه پوهېږې، د کارونو له اسرارو نه بې خبري د دې سبب کېږي چې بې صبره شې. دا کار درې ځله تکرارېږي، بالآخره موسى علیه السلام اعتراف کوي چې لدې شخص سره د ملګرتیا توان نه لري او د هغه د عجیبو کارونو په وړاندي صبرنه شي کولی. که موسى علیه السلام علم غیب لرلی نو داسې به نه کېدل، نه به ئې په خپل ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتراض کاوو او نه به ئې له ملګرتیا نه پاتې شوی وی، که موسی علیه السلام چې له اولوالعزم رسولانو څخه دئ، علم غیب نه لري نو بل به څوك وي چې د علم غیب خاوند وي؟!

• موسی علیه السلام پدې اعتراض وکړ چې د مسکینانو کښتۍ ولې تخریب شي او ولې له سفر نه پاتې شي، خو لدینه خبر نه وو چې څو قدمه وړاندي دې کښتۍ او مالکانو ته ئې خطر متوجه دئ، هلته د یوه ظالم پاچا پلویانو کمین نیولی، هره کښتۍ چې مومي غصبوي ئې! د موسی علیه السلام ملګری پدې خبر وو، د دې لپاره چې دا کښتۍ او غریب مالکان ئې له خطر سره مخ نه شي یو تدبیر ئې وسنجاوو، کښتۍ ئې سوری کړه، ترڅو له سفر نه پاتې شي، دا کار چې د موسی علیه السلام لپاره د توجیه وړ نه وو په حقیقت کي د کښتۍ د مالکانو لپاره لوی خدمت وو او په همدې کي د موسی علیه السلام لپاره یو لوی درس پروت وو او هغه دا چې یو چا ته د ډېري ګټې لپاره لږ ضرر رسول د ستاینې وړ دئ نه د اعتراض وړ.

• په دوهم ځل ئې هم د خپل پوه او عالم ملګري په کړو صبر ونشوی کړی، بیائې اعتراض وکړ چې دا ځوان دې ولې بې موجبه په قتل ورساوو؟! لدینه خبر نه وو چې دا ځوان یو شریر، سخت زړی، فاسد او کافر انسان دئ، مور او پلار ئې مسلمانان دې او د ده خطر دومره لوی شوی چې کورنۍ ئې تهدیدوي، دا په اصطلاح یو فاسد غړی دئ، جراحي ته ضرورت لري، د دې فاسد او خطرناك غړي قطع کول په واقع کي لدې مؤمني کورنۍ سره مرسته ده. د موسی پوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالم ملگري دې مؤمني کورنۍ ته لوی خدمت وکړ، د یوه شریر انسان له شره ئې وژغورله او موسی علیه السلام ته ئې دا درس ورو ښود چې: په سالم بدن کې د فاسد غړي جراحي ممانعت نه لري ، له سالم بدن نه د هغه غړي قطع کول ضروري دي چې د اصلاح او جوړیدو امکان ئې نه وي. که اسلامي ټولني ته د یوه شریر او فاسد انسان له خوا گواښ او تهدید متوجه شي او تر خطر لاندي راشي چې له تصفیيءاو منځه وړلو پرته بله چاره ونلري، نو د دا ډول غړي له منځه وړل د اعتراض نه بلکه توجیه وړ عمل دئ.

- دریم ځل ئې پدې اعتراض وکړ چې ولې له هغه بخیل قوم سره د کاږه دیوال په جوړولو او له غورځیدلو نه مخنیوی کې مرسته کوي، له داسي قوم سره ولې مرسته کوي چې دومره بخیل او بې احساسه دئ چې اړ او مجبور انسان ته یوه مړی ډوډۍ هم نه ورکوي او ولې ئې دې خلکو ته مفت او مجاني کار وکړ؟ موسی علیه السلام د خپل ملگري پدې عمل انتقاد وکړ، ځکه هغه پدې نه وو خبر چې تردې دیوال لاندي د هغو دوو یتیمانو خزانه ده چې له مؤمنو والدینو نه په میراث ورته پاتې ده، د موسی علیه السلام ملگری په خپل دې مفت او بې مزده کار سره هغو یتیمانو ته غټ خدمت وکړ او په عین وخت کې ئې موسی علیه السلام ته دا لارښودنه وکړه چې انسان ته نه ښایي تل بالمثله معامله وکړي، مناسبه نده چې د ټولني د اکثریت بدکړه او ناسمه معامله تا له کمزوري اقلیت سره له نېکي نه منع کړي.

عجیبه ده؛ هغه کسان چې زړونه ئې بیمار دي، لدې ښوونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له پندونو نه ډکي کيسې نه سرچپه او غلطه انتباه اخلي او د داسي يوه تصور د اثبات لپاره پرې استدلال کوي چي په حقيقت کي دا کيسه د هغه د ترديد او نفی لپاره راغلي. دوی هڅه کوي لدې کيسې نه د پيغمبرانو عليهم السلام لپاره د علم غيب د اثبات لپاره د دليل په توگه کار واخلي، پداسي حال کي چي دا کيسه په واقع کي د موسی عليه السلام نه د علم غيب نفی کوي.

پدې هم بايد ځان پوه کړو چي د عيسی عليه السلام د هغه غيب ويلو معنی او مفهوم څه دئ چي قرآنکريم ترې يادونه کړي ده؟ قرآن د آل عمران سورې په ۴۹ آيت کي له عيسی عليه السلام نه داسي حکايت کوي:

**وَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ** * آل عمران: ٤٩

له هغه څه نه چي تاسي ئې خورئ او له هغه څه نه چي په کورونو کي ئې ذخيره کوئ، تاسو خبروم، پدې کي ستاسي لپاره نښه ده که باور لرئ.

پدې اړه بايد لاندينې ټکي په پام کي ونيول شي:

- پيغمبران عليهم السلام د ژوند په ډېرو برخو کي خاصې ځانگړتياوې لري او نه ښايي عادي خلك په هغوی باندي قياس کړو او په دوی پورې مختص او خاص حکم نورو ته هم وغزوو.
- د پيغبرانو عليهم السلام معجزې بايد عامې ونه بلل شي او بايد نورو ته د معجزو د اثبات هڅه ونشي.
- هغه څه چي پيغمبرانو عليهم السلام ته د وحی له لاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



القاءکېږي باید د هغوی له ذاتي علم سره خلط نه کړی شي او وحی باید د پیغمبرانو علیهم السلام لپاره د علم غیب په معنی ونه نیولی شي.

- د عیسی علیه السلام معجزې لکه د مړیو ژوندي کول، له خټې د جوړ شوي مرغه په بدن کي روح پوکل، له مور نه ړوند پیدا شوي او پیس ته شفا او نور، دا د هغه خاصې معجزې دي چي عمومیت ئې صحیح ندی.
- دا ډول پېښې باید د نورو آیتونو په رڼا کي تفسیر او تشریح کړو او نه ښایي داسي تعبیر ترې واخلو چي د قرآن له نورو صریحو آیتونو سره تصادم کوي.

د الانعام سورې پنځوسم آیت دا بیانوي چي رسول صلی الله علیه وسلم علم غیب نه لري،

**قُل لا أَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَائِنُ اللَّهِ وَ لا أَعْلَمُ الْغَيْب وَ لا أَقُولُ لَكُمْ إِنِى مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلا مَا يُوحَى إِلَىَّ قُلْ هَلْ يَستَوِى الأَعْمَى وَ الْبَصِيرُ أَ فَلا تَتَفَكَّرُونَ *** الانعام: ٥٠

ووایه: زه نه دا وایم چي د الله خزانې راسره دي او نه په غیب پوهېږم او نه دا وایم چي زه پرښته یم، زه خو یوازي د هغه څه متابعت کوم چي ما ته ئې وحي کېږي، ووایه: آیا ړوند او سترګه ور سره برابر دي، آیا تفکر نه کوئ؟!

په یوه آیت کي او په یوه بل پسې "په غیب نه پوهېدل" او "د وحي متابعت" راوړل دا مطلب افاده کوي چي که پیغمبر علیه السلام د وحی په اساس له غیب او غیبي امورو نه خبری کوي نو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ده علم غیب نه، بلکه د الله له لوري وحی ده، مبادا د وحي له لاري په غیبي امورو پوهېدل د پیغمبر علم غیب وګڼلی شي.

پدې مطلب هم باید ځان پوه کړو چي له نښو، نښانو او آثارو نه په یوه پټ او غیبي څیز پوهېدل او د عقلي دلائلو له مخي د هغه په موجودیت حکم؛ باید علم غیب ونه ګڼلي شي، په عقلي دلایلو اود پټ څیز پر آثارو د علم په اساس د هغه په حالت خبرېدل علم غیب ندی. همدا راز الهام، خوب او هغه فراست چي د ایمان او تقوی نښه ده او پدې سره کله کله انسان د پټو حقایقو او احتمالي راتلونکو پېښو په هکله نسبي پوهه ترلاسه کوي او د واقع کېدو تخمین ئې کوي دا هم باید علم غیب ونه بلل شي. که وغواړو دا مسئله په یوه مثال سره توضیح کړو نو وایو:

تاسي له خپلو ملګرو سره په یوه کوټه کي ناست یاست، د باندي چي څه تېرېږي هغه له تاسي نه پټ دي، پدې وخت کي ستاسي یو دوست وایي چي اوس به قسیم، ورپسې، نسیم او ورپسې حکیم کوټې ته راداخل شي. بل کس له کوټې نه وځي او د دریو کسانو د پلونو له نښو او ځرنګوالي نه ګمان کوي چي دا درې کسان به ظاهر، طاهر او قاهر وي، دوی تقریباً نیم ساعت مخکي لدې ځای نه تېر شویدي، کېدی شي اوس فلاني ځای ته رسېدلي وي. پدې صورت کي لومړنی کس چي کوټې ته د دریو کسانو د راتلو ادعا ئې کړې وه، غیب وینه کړې ده، د ده دا خبره د منلو نده، دا غیب دئ او په غیب له الله پرته بل څوك نه پوهېږي، خو که فرضاً همداسي وشي او همغه درې کسان راشي نو بیا حتماً به څه فریب او

(c) ketabton.com: The Digital Library



چل په منځ کي وي. دوهم کس چي له آثارو او خپل فراست نه ئې کار اخیستی، تخمین ئې کړی، هرڅومره ئې چي فراست او پوهه ډېره وي، په همغه اندازه به ئې خبره حقیقت ته نږدې وي. د لومړني کس عمل غیب ویل دي او د منلو ندی او د دوهم کس عمل یو استنباط او استدلال دئ چي هم روا دئ او هم د ستایلو وړ.

قرآنکریم د هغه بصیرت او فراست په هکله چي د تقوی له امله انسان ته په لاس ورځي فرمایي:

**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ***

الانفال:۲۹

اې مؤمنانو! که تقوی وکړئ؛ الله تعالی به فرقان درکړي، بدي به مو له منځه یوسي او بخښنه به درته وکړي او الله تعالی د لوی فضل خاوند دئ.

یعنی تقوی تاسی ته داسي بصیرت او فراست درکوي چي کولی شی په هغه سره په پوره آسانۍ د حق او باطل، ښه او بد، مفید او مضر، دوست او دښمن ترمنځ توپیر وکړئ او هروخت مناسبه فیصله وکړئ او ګټور تصمیم ونیسئ. د ژورو حقایقو ادراك، د نظر وسعت، په پیچلیو مسائلو او پداسي قضایاوو پوهېدل چي د سطحي نظر خاوندان ئې نه شي درکولی، د تقوی نتیجه ده. رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي:

د مؤمن له فراست نه ځان وساتئ؛ ځکه هغه د ایمان په رڼا کي لیدل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداراز فرمایي:
مؤمن هوښیار او زیرك وي.
هغه څه چي مؤمن ئې په خپل فراست سره درك کوي، د الهام له لاري ورښودل کېږي،او یا ئې په خوب کي ویني، دا باید له علم غیب سره اشتباه نه کړو.

باید وگورو چي کوم کسان د ماسوی الله لپاره د علم غیب ادعا کوي؟ آیا دا امکان لري چي په قرآن پوه او عالم شخص دا ډول ادعا وکړي؟ او آیا دا ممکنه ده چي په خدای ایمان لرونکي موحد انسان، چي په قرآن ایمان لري، خپل رب پېژني او د انسان د استعدادونو له حدودو نه واقف دي؛ له الله تعالی سره په علم غیب کي بل څوك شریك کړي؟ واقعیت دا دئ چي فقط هغه کسان د داسي ادعا جرأت کوي چي غواړي خلك د الله تعالی د بندگۍ په ځای د خپل ځان او یا د ځان په څېر د بل انسان عبادت ته راوبولي، دا ډله بې علمه او جاهلو خلکو ته وایي: راشئ د دې ښاغلي لاس او لمن ونیسئ، د ده په درشل کي سرونه ټیټ کړئ، ترڅو مو د غیب له اسرارو نه خبر کړي، له هغه زیان نه مو وژغوري چي تاسو ترې بې خبره یاست خو هغه ورباندي پوه دي، هغه کولی شي له تاسو نه د داسي خطرونو په وړاندي دفاع وکړي، هغه ستاسي په حال خبر دئ، پدې پوهېږئ چي تاسی له کوم برخلیك سره مخ کېدونکي یاستئ، که تاسي د هغه لمن ونیسئ، دربار ته ئې پناه وروړئ، نو برخلیك به موبدل کړي، تقدیر به داسي واړوي چي ستاسي په گټه به وي، هغه له هرځای نه ستاسي فریاد اورېدی شي او ستاسو مرستي ته رسېدي شي....دا ټولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادعاگاني دروغجني او غولوونكي او دا خيالات او باورونه بې اساسه او په شرك ككړ دي او د اسلام له اصولو او اساساتو سره تناقض لري. له الله تعالی نه پرته هیڅوك علم غیب نه لري، هیڅوك د الله له ارادې پرته د هیڅ شي وس نه لري، له الله پرته هیڅ مرسته كوونكی، مغیث او دعا قبلوونكی‌نشته، د هیچا له وسه نده پوره چې تقدیر بدل كړي، چا ته ګټه او زیان ورسوي، هرڅه د الله تعالی په واك او اختیار كې دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**عَن ابن عباس قَال : كُنْتُ خَلْفَ النبيِّ يَوْماً، فَقَالَ: يَا غُلاَمُ، إنِّي أُعَلِّمُكَ كلمَات: إحْفَظ الله يَحْفَظْكَ، إحْفَظ الله تجِدْهُ تجَاهَكَ، إذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ الله، وَإذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بالله، وَاعْلَمْ أَنَّ الأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إلاّ بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ الله لَكَ، وَإن اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إلاّ بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ الله عَلَيْكَ، رُفِعَت الأَقْلاَمُ وَجَفَّت الصُّحُف.** رواه الترمذي

له ابن عباس رضی‌الله عنه روایت شوی چې وایي: یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم شا ته سپور وم، راته وئې ویل: اې ځوانه! څو خبرې درښیم: د الله تعالی د حقوقو حفاظت وكړه، ترڅو الله ستا ساتنه وكړي، كه د الله د حقوقو ساتنه وكړې؛ خپلې مخې ته به ئې ومومې، كه څه دې غوښتل نو له الله ئې وغواړه، كه مرسته دې غوښتله نو له الله ئې وغواړه، پدې پوه شه چې كه د نړۍ ټول خلك

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغونډ شي او وغواړي تا ته څه ګټه ورسوي، نو يوازي هومره ګټه درړسولی شي چي الله درته ليکلي او که ټول پدي راغونډ شي چي تا ته کوم تاوان ورسوي نو يوازي هومره تاوان درړسولی شي چي الله درته ليکلی، قلمونه پورته شوي او صحيفی وچي شويدي. يعنی د مقدراتو کتاب وچ شوي، نور نه څه پکي زياتېږي او نه څه ترې کمېږي او هغه قلم چي د انسان برخه ليك ئې ليکو پورته کړي شوي او له ليکلو ودرېدلی.

ديته په پام چي د غرض خاوندان له دې باطل تصور او ذهنيت نه ناوړه استفاده کوي او خلك ورباندي غولوي او بې لاري کوي، قرآنکريم په مکرره توګه له ماسوی الله نه علم غيب نفي کوي او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په تأکيد سره مکرراً امر کوي چي اعلان وکړي علم غيب نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توسل

یو بل قرآني مفهوم چي د عوامو او عوام غولوونکو له خوا ظلم ورسره شوی، سخت مظلوم واقع شوی او داسي جامه وراغوستل شوې چي نه ئې له ښکلي شکل سره ښايي او نه ئې له اوچتې وني سره اړخ لګوي؛ د "توسل" مفهوم دئ. وسيله په قرآنکريم او حديث کي د هغه نېك عمل په معنى استعمال شوې چي د الله تعالى د تقرب او نږديوالي موجب ګرځي، الله تعالى فرمايي:

**يَاأَيُّهَا الَّذينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُوا فِي سَبيله لَعَلَّكُمْ تُفْلحُونَ *** المائد: ٣٥

اې مؤمنانو! له الله نه ووېرېږئ او د ده لوري ته وسيله ولټوئ او د ده په لار کي جهاد وکړئ ترڅو بريالي شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې آيت کي د مؤمنانو د برياليتوب لپاره درې شرايط ښودل شوي:

١- تقوی او ځان ساتنه.

٢- د الله تعالی لوري ته د وسيلی لټول.

٣- د الله تعالی په لار کي جهاد.

که دا مبارك آيت د قرآن په رڼا کي تفسيرکړو او په قرآن کي دا ولټوو چي تقوی، وسيله او د الله په لار کي جهاد کومو اعمالو ته ويل کېږي چي بنده الله ته نږدې کوي؛ نو وبه گوروچي قرآنکريم لمونځ، زکات، حج، روژه، په نېکۍ امر، له بدي نه نهی، د الله په لار کي مال لگول، له الله او رسول نه اطاعت او د اسلام د حاکميت لپاره جهاد؛ الله ته د نږديوالي او تقرب وسايل دي. د اسلام له نظره هيڅ داسي عمل نشته چي د فرائضو تر ادا کولو نه زيات الله تعالی ته د تقرب سبب شي، پيغمبر عليه السلام فرمايي چي انسان د سجدې په حالت کي تر بل هر حالت نه الله ته ورلنډ وي. خو که د رنځورو زړونو خاوندانو ته ووايو چي د قرآن له نظره دا اعمال، الله ته د تقرب وسايل دي؛ د هغوی شيطان پدې خبرو نه قانع کېږي! که ورته وويل شي چي د دعا د اجابت او قبلېدو تر ټولو غوره وخت د فريضې له ادا نه وروسته شېبې او لحظې دي، د دعا د قبلېدو لپاره تر ټولو غوره ځای جومات او د جهاد سنگر دئ، په دې هم نه راضي کېږي، که څه هم دا د الله او د ده د رسول خبره ده. دوی داسي دريځ نيولی چي نه د خدای خبره مني او نه د ده د رسول!! آيا د تعجب او حيرت خبره نده چي څوك په قرآن باندي له ايمان سره سره له وسيلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه داسي تعبير ولري چي سل په سلو كي له قرآنكريم سره تناقض لري؟ قرآنكريم "وسيله" هلته ذكر كړي چي له هغې نه مخكي او وروسته ئې د شرك په نفی او له غيرالله نه د مرستې غوښتلو په تحريم ټينګار كړی او فرمايلي ئې دي: كه له خدای نه پرته له هرچا نه، كه په ځمكي كي وي يا آسمان كي، مړ وي يا ژوندي، انسان وي يا پرښته او له هرچا او هر څه نه استعانت او مرسته وغواړئ، هغه نه درنه د زيان دفع كولو وس لري او نه ستا حالت بدلولی شي، هغه چي مشركان مرسته تري غواړي په خپله د الله دربار ته د تقرب د وسيلې په لټه كي دي، غواړي د الله په وړاندي نږدې مقام ترلاسه كړي، په خپله ئې ستر‌ګي د الهي رحمت په لوري دي او له عذاب نه ئې وېره لري. فرمايي:

**قُلْ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا * أُوْلَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمْ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا *** الاسراء: ٥٦-٥٧

ووايه: له الله تعالی نه پرته چي "پر هر چا او هرڅه د ملجأ او مرجأ" ګمان كوئ؛ "خپلي مرستې ته" ئې راوبولئ، هغوی نه له تاسو نه د ضرر دفع كولو توان لري او نه ئې د بدلولو، هغه چي مشركان ئې مرستي ته رابولي؛ هر يو ئې چي الله ته ډېر نږدې وي په خپله د الله دربار ته د تقرب وسيله لټوي، د هغه رحمت ته ئې ستر‌ګي دي او له عذابه ئې وېره لري، بېشكه چي ستا د رب عذاب د دې وړ دئ چي وېره تري وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآنکریم خپلو مخاطبینو ته امرکوي چي له شرك او له ماسوی الله نه له مرستې غوښتلو نه ډډه وکړي، یوازي له خدای نه مرسته او مدد وغواړي او د الله لوري ته ورلنډ شي. پداسي حال کي چي د خدای لوري ته وسیله لټول، د شرك د نفی لپاره او د هغه ترخنګ ذکر شوي، خو متأسفانه عوام غولوونکي او ټګماران دا جزء داسي تفسیروي چي له ماسوی الله نه د مرستې غوښتلو د جواز دلیل پکي وموندل شي. د سني او شیعه ټول علما او معتبر تفاسیر؛ وسیله یا د تقرب یعنی نږدیوالي په معنی اخلي او یا د هغه عمل په معنی چي د تقرب موجب ګرځي، په احادیثو کي چي هرچیرته د وسیلې کلمه راغلې نو مطلب ترینه تقرب (نږدیوالی) او د الله په وړاندي لوړ مقام دئ. تفسیر نمونه له نهج البلاغه نه په روایت سره وایي چي علي رضی الله عنه فرمایي:

**ان افضَل مَاتوسل به المُتوسلُون الی الله سبحانهُ وتَعالی الایمانُ بهِ وَبرَسُوله وَالجهادُ في سب ِ له فَانهُ ذَروَةُ الاسلام، وَكلمَةُ الاخلاص فَانهَا الفِطرة واقامِ الصلاة فَانهاالملة ، وایتاء الزكاة فانها فَریضَة وَاجبة وصَوم شَهررمَضَان فَانهُ جُنة منَ العقَاب وحج البَیتِ واعتمَاره فَانهما یَنفیَان الفقرَویرحضَان الذنبَ، وصِلة الرحم فَانها مُثراة فِی المال وَمنساة في الاجَل وَصَدَقَة السر فَانها تَكْفُرُ الخَطیئَة وصَدقة العلانیةَ فَانها تَدفَعُ میتَة السُوء وصَنَائِعُ المَعْرُوفِ فَانها تَقي مصَار ع الهوَان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترټولو غوره شیان چي الله تعالی ته د تقرب سبب کېږي عبارت دي له: په خدای او رسول ایمان، د الله په لار کي جهاد، چي هغه د اسلام لوړه څوکه ده، د اخلاص کلمه چي د فطرت غوښتنه ده، د لمانځه ادا کول چي د اسلام ستنه ده، د زکات ورکړه چي یوه واجبه فریضه ده، د رمضان روژه چي د گناه او عذاب په وړاندي ډال دئ، حج او عمره چي فقرله منځه وړي او گناوې وینځي، صله رحم چي مال زیاتوي او عمر اوږدوی، په پټه خیرات ورکول چي گناوې له مینځه وړي او په ښکاره توگه خیرات ورکول چي د ناوړه مرگ مخه نیسي اونېك کارونه چي انسان له نیستی اوهلاکت نه ژغوري. تفسیرنمونه (ص۳۲۴ تر۳۲۵)

مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښودنه کوي چي له آذان نه وروسته دا دعا وکړو:

**اللهمَّ ربَّ هٰذه الدعوةِ التامَّة والصَّلاةِ القائمة آتِ محمداً الوسيلةَ والفضيلةَ، وابعثْه مَقاماً محموداً الذي وَعدْتَه***

متفق علیه

اې ربه! د دې بشپړې بلني او د دې ادا کېدونکي لمانځه ربه! محمد صلی الله علیه وسلم ته وسیله، فضیلت او لوړه درجه ورکړه او په هغه ستایل شوي مقام ئې ببرته راژوندی کړه چي تائې وعده ورسره کړېده.

وواياست: مونږ پدې دعا کي له الله تعالی نه د اسلام ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته کومه وسیله غواړو؟! الهي دربار ته مزید تقرب او که پر بل انسان توسل چي د ده او الله ترمنځ وسیله شي، سوالونه ئې خدای ته ورسوي او د دعا د اجابت لپاره ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفارش او شفاعت وکړي؟!! اوس دا هم ووایاست چي له لاندي راتلونکو دوو تعبیرونو نه کوم یو له قرآن او احادیثو سره تطابق لري او کوم یو ورسره ټکر کوي:

- وسیله یعنی له الله تعالی نه د مرستې پخاطر په بل چا توسل او هغه د ځان او الله جل جلاله ترمنځ وسیله او واسطه گرځول، هغه مغیث او د مشکلاتو حلوونکی گڼل او د ده له لاری الله تعالی ته د سوال او دعا رسول!!
- وسیله یعني الله ته په نېك عمل سره نږدېوالی.

راشئ وگورو چي د "وسیلې" لدغو دوو معانیو نه کومه یوه د اسلام له روح سره برابره ده؟ که قرآنکریم ته په دقت سره ځیر شو نو په هیڅ آیت کي به هم دا ونه مومو چي الله تعالی ته د تقرب لپاره په ماسوی الله د توسل جواز ترې ثابت شي او صراحتاً یا اشارتاً پدې دلالت وکړي چي الله تعالی ته د رسېدو په لار کي داسي ساتونکي او څارونکي گمارل شوي چي لومړی باید دوی ته مراجعه وکړو، د دوی له لاري د الله دربار ته ځان ورسوو، خپل سوالونه او عرایض د دوی په لاس د الله حضورته وړاندي کړو، که نه نو الله تعالی ئې نه قبلوي، د دې برعکس قرآنکریم په ټینگار سره وائې:

الله تعالی تاسو ته ستاسو د غاړې له رگ نه هم درنږدې دئ.
الله تعالی دعا قبلوي.
هرڅوك چي خدای ته رجوع وکړي توبه ئې قبلوي.
هر چا چي له خدای نه مرسته وغوښتله همغه ورته کافي دئ.
له خدای نه پرته تاسي بل ولي او مرستندوی نه لرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې د خدای عبادت وکړئ او یوازې له همغه مرسته وغواړئ.

خو دا خبره چې آیا د دې جواز شته چې له کوم ژوندي انسان نه د دعا غوښتنه وکړو؟ هو، دا نه یوازې جائز ده بلکه الله تعالی د یوه مسلمان دعا د بل په حق کې ژر قبلوي، الله تعالی د مور او پلار دعا، د دوستانو دعا او د مسلمان له خوا بل مسلمان ته دعا، ژر قبلوي، خو پدې شرط چې له داسي چا نه دعا وغوښتل شي چې ژوندی وي او د دعا توان ولري، انسان له مرگ نه وروسته بل چا ته د دعا وس او توان نه لري، بلکه په خپله د نورو دعا ته محتاج وي، دا که هرڅوك وي او د هر څومره لوړ مقام خاوند وي. نه گورئ چې مونږ د هر لمانځه په وروستۍ برخه کې محمد صلی الله علیه وسلم، ابراهیم علیه السلام او نورو صالحو بندگانو ته دعا کوو او له لوی خدای نه ورته لوړې درجې غواړو.

د دعا د الفاظو او طریقې په هکله هم باید زمونږ لپاره قرآنکریم او نبوي احادیث معیار وي، په قرآنکریم کې د ډېرو پیغمبرانو علیهم السلام دعاگاني رانقل شویدی، داسي دعاگاني چې پیغمبرانو علیهم السلام د خپلو مشکلاتو د حل لپاره د الله تعالی حضورته وړاندې کړې او رحیم خدای هغه قبولی کړې دي. زمونږ اړتیاوی، غوښتني او سوالونه به حتماً د الله تعالی د دغه غوره بندگانو د غوښتنو په څېر وي، باید د هر ضرورت او مشکل د حل لپاره همغه لاره غوره کړو چې دوی غوره کړې، خپل عرایض په همغو کلماتو سره الله تعالی ته وړاندې کړو چې لدوی نه کوم یوه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې دعا کې کارولې. په قرآني دعاګانو کې له ورايه ګورو چې په هرې دعا کې په مستقيمه توګه الله تعالی ته خطاب شويدی، د هر څه سوال مستقيماً او له کومې واسطې پرته مخامخ الله تعالی ته راجع شوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شفاعت

د قرآنکريم يو بل مفهوم چې غلط تعبير ترې کېږي، مظلوم واقع شوی او عوام غولوونکي ناوړه ګټه ترې اخلي؛ د شفاعت مفهوم دئ، که قرآنکريم ته مراجعه وکړئ نو وبه ګورئ چې پريهودانو باندي د قرآن يو اعتراض دا دئ چې هغوی له شفاعت نه ناسم او غلط تعبير درلود، قرآنکريم فرمايي:

**يَابَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِي الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ* وَاتَّقُوا يَوْمًا لَا تَجْزِي نَفْسٌ عَنْ نَفْسٍ شَيْئًا وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ *** البقرة: ٤٧-٤٨

اې بني اسرائيلو! زما هغه نعمت رايادکړئ چې پر تاسو مي پېرزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او دا چي پر ټولو عالميانو مي فضيلت درکړ او له هغې ورځي نه ووېرېږئ چي نه څوك له بل نه څه شي دفع کولی شي او نه کوم شفاعت ترې قبلېدی شي او نه عوض او بدل ترې اخيستل کېږي او نه ئې مرسته کېدی شي.

دغه مبارك آيت چي په قرآنکريم کي په څه معمولي تفاوت سره څو ځله تکرار شويدی؛ څو اساسي مطالب افاده کوي:

- يو وخت الله تعالی پر بني اسرائيلو هومره پېرزوينه کړې وه چي دوی ته ئې د خپل عصر تر ټولو خلکو نه زيات فضيلت ورکړی وو.
- د قيامت د ورځي او په هغه ورځ د الهي محاسبې په هکله د بني اسرائيلو تصور او باور داسي شو چي گمان ئې کاوه، لويو او الله ته نږدې ذواتو ته د دوی انتساب او له هغوی سره د دوی تړاو او رابطه به له الهي عذاب نه د دوی د نجات سبب شي، گمان ئې کولو چي مونږ پيغمبرانو عليه السلام ته منسوب يو او گڼ شمېر پيغمبران زمونږ له قوم نه غوره شوي، نو دا پيغمبران به خامخا نه پرېږدي چي د دوی قوم او دوی ته منسوب کسان دوزخ ته لاړ شي!! د دوی د دې غلط تصور د تصحيح لپاره ويل کېږي چي: په هغه ورځ هيڅوك له بل نه د څه دفع کولو توان نه لري، هرڅوك به په يوازي توگه خپل رب ته حساب ورکوي، له هر چاسره به د هغه د عمل مطابق معامله کېږي، د الله مقربو بندگانو ته انتساب نه له چا نه عذاب دفع کولی شي او نه ئې له محاسبې خلاصولی شي.
- په هغه ورځ په معاوضې او بدل سره هم له الهي عذاب نه نجات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممکن ندی، د الله تعالی محاکمه د دنیوي محاکمو په شان نده چې په مالي جریمه او عوض سره له مجازاتو نه ځان پرې وژغورلی شو، هلته به هرڅوك د خپل عمل جزا ویني، داسې هم نده لکه عیسویان چې عقیده لري او وایي چې عیسی علیه السلام د خپلو پلویانو د نجات او له الهي مجازات نه د دوی د خلاصون لپاره ځان قربان کړ او په دار شو، نو ځکه به نه لدوی پوښتنه کیږي او نه به مجازات کیږي!! قرآنکریم داسې باورونه او تصورات بې بنسټه او باطل ګڼي.

- دوی د شفاعت په هکله هم جاهلانه او د دیني اصولو مخالف تصور لري، ګمان کوي څرنګه چې دوی د لویو او مقربو شخصیتونو لمني نیولې دي، له هغوی سره د محبت ډبرې ئې په سینه وهلی دي او تل ئې دوی ته مراجعه کړې ده، پر دوی ئې توسل کړی، نو د غه محبت، توسل او انتساب به د دې سبب شي چې د قیامت په ورځ د همدغو نازولو له شفاعت نه برخمن شي!! او چې دوی ئې شفا عت وکړي نو بیا به ولې جنت ته نه ځي او ولې به له دوزخ نه نه ژغورل کیږي؟!

د شفاعت په اړه د دوی د دې غلط تصور لپاره قرآن فرمایي:

- د قیامت په ورځ د هیچا شفاعت د هیچا لپاره هیڅ ګټه نه لري.
- د قیامت په ورځ به داسې څوك ونه موندلی شي چې د مجرم شفاعت ته راودانګي، د هغه مرسته وکړي او له الهي محاسبې نه ئې وژغوري.

قرآنکریم فرمایي:

**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لَا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ وَالْكَافِرُونَ هُمْ الظَّالِمُونَ*

البقره: ٢٥٤

اې مؤمنانو! زمونږ له لوري درکړل شوې روزي د هغې ورځې له رارسېدو نه مخکې انفاق کړئ چې نه پيرل او پلورل پکې شته او نه دوستي او نه شفاعت او کافران ظالمان دي.

همدا راز قرآنکريم هغه شفاعت نفی کوي چې په شرك منتهي کېږي، فرمايي:

وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَى كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُمْ مَا خَوَّلْنَاكُمْ وَرَاءَ ظُهُورِكُمْ وَمَا نَرَى مَعَكُمْ شُفَعَاءَكُمْ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَاءُ لَقَدْ تَقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُمْ مَا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ * الانعام: ٩٤

بېشکه چې زمونږ خوا ته همغسې يوازي راغلئ لکه چې لومړی ځل مو پيدا کړي وئ او هر هغه څه مو شا ته پرېښودل چې مونږ درباندې پېرزو کړي وو او اوس ستاسو هغه شفاعت کوونکي هم نه درسره وينو چې گمان مو کړي وو دوی ستاسو په اړه زمونږ شريکان دي، بېشکه چې ستاسي ترمنځ بېلتون راغی او مزعوم شفاعت کوونکي مو درنه ورك شوي.

همدا راز فرمايي:

وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ *

(c) ketabton.com: The Digital Library



یونس:۱۸

دوی له الله تعالی نه پرته د داسي چا عبادت کوي چي "په نه عبادت سره ئې" دوی ته ضرر نشي رسولی او " په عبادت سره ئې" دوی ته گټه نشي رسولي او وايي: دا د الله په وړاندي زمونږ شفاعت کوونکي دي، وواېه: آيا پدې شفاعت کوونکو سره غواړئ خدای د آسمانونو او ځمکي پداسي څه خبر کړی چي نه ورباندي پوهېږي؟! پاکي ده هغه لره او لدينه ډېر لوړ دئ چي شريك ورسره نیسي.

يعنی: دا مشرك عناصر چي د شفاعت په هکله غلط او باطل تصورلري، د داسي څه عبادت کوي چي دوی ترې د ضرر د دفع کولو او گټي رسولو طمع لري ، پداسي حال کي چي دوی نه د گټي وس لري او نه دتاوان واك، د گټي او تاوان فيصلې له الله تعالی سره دي. مشركين له الله تعالی نه پرته له نورو نه د مرستې غوښتلو د جواز په هکله وايي: مونږ خو د دې شيانو عبادت نه کوو ، فقط دوی د خدای په دربارکي خپل شفاعت کوونکي نيسو ، دوی د خدای په وړاندي زمونږ وسيله او شفيع دي، قرآن د دوی د دې ادعا د ترديد لپاره فرمايي: آيا تاسي غواړئ د خپلو شفاعت کوونکو له لاري الله تعالی ته داسي څه ووايا ست چي هغه نه پرې پوهېږي؟!! په ځمکه او يا آسمان کي له هغه نه پټ دي؟! په دنيا کي چي څوك د حاکم او پاچا په وړاندي د کوم کس شفاعت کوي نو ورته وايي: دا ښه سړی دئ، له تاسي سره اخلاص لري، څه جرم ئې ندی کړی، ستاسي معلومات د ده په اړه مکمل او دقيق ندي، هغه د دې لايق ندی چي سزا ورکړی شي او مجازات شي، بايد عفوه ورته وشي، دا ستاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د نظام په ګټه ده......... آیا فکرکوئ چي الله تعالی هم همداسي دئ لکه دا دنیوي پاچایان چي شفاعت کوونکي ئې د مجرم له حقیقي حالت نه خبروي؟! آیا داسي څه شته چي له الله تعالی نه پټ وي؟! او بیا دا شفاعت کوونکي راشي او الله تعالی ته ئې په هکله معلومات ورکړي ؟! الله تعالی لدې عیب نه پاك او له شریك نه بې نیازه دئ.

قرآن د هغه کسانو حالت څومره ښه ترسیم کړی چي پدې ډول شفاعت باورلري او خپل مزعوم شفاعت کوونکي ئې د الوهیت تر درجې پوری لوړ کړیدي، دا کسان به د قیامت په ورځ په حقیقت پوه شي او وبه ویني چي دوی په غلطه روان وو، د دې خیالي شفاعت کوونکو په هکله ئې باطل تصور درلود، هغه چي دوی په دنیا کي له الله تعالی سره برابر او شریکان ګرځولي وو، نه یوازي د شفاعت کولو توان نه لري بلکه له دوی نه خپله بیزاری اعلانوي او په خپله غلطۍ اعتراف کوي، قرآن فرمایي:

**تَاللَّه إِن كُنَّا لَفِي ضَلاَلٍ مُّبِينٍ * إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ * وَمَا أَضَلَّنَا إِلاَّ الْمُجْرِمُونَ * فَمَا لَنَا مِن شَافِعِينَ * وَلاَ صَدِيقٍ حَمِيمٍ *** الشعراء: ۹۷-۱۰۱

قسم په خدای چي مونږ په ښکاره ضلالت او بې لاري کي وو چي تاسو مو له رب العالمین سره برابرګرځولي وئ، مونږ بل چا نه یو بې لاري کړي مګر دغو مجرمینو، اوس نه شفاعت کوونکي لرو او نه رښتینی دوست.

د قیامت په ورځ چي ټول حقایق به ښکاره شي، وبه لیدل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دا مشركه ډله او په مشركانه شفاعت باور لرونكي به په خپله خپل باورونه غلط شمېرى، ځانونه به گمراه بولي، اعتراف به كوي چي دوی خپل لويان د الوهيت درجې ته اوچت كړي وو او هغه كسان به مجرم شمېري چي دوی ئې بې لاري كړي وو او وبه وايي: اوس نه داسي شفيع لرو چي د خداى په وړاندي زمونږ شفاعت او مرسته كولی شي او نه داسي دوستان او اولياء چي گمان مو كولو دوی پر مونږ او مونږ پر دوی گران يو او د قيامت په ورځ به د الله په وړاندي زمونږ حمايت او شفاعت كوي!!

د قرآنكريم متعدد آيتونه پدې دلالت كوي چي د قيامت په ورځ شفاعت نشته او د هيڅا شفاعت بل چا ته گټه نه شي رسولئ، له الهي عذاب او مجازات نه ئې نه شي ژغورلی، د دې آيتونو ترڅنگ داسي مبارك آيتونه هم شته چي "مشروط شفاعت"په اثبات رسوي او په جواز ئې دلالت كوي، قرآنكريم فرمايي:

**مَنْ ذَا الَّذي يَشْفَعُ عنْدَهُ إِلَّا بإذْنه يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْديهمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحيطُونَ بشَيْءٍ منْ علْمه إلَّا بمَا شَاءَ"**

البقره : ۲۵۵

هغه به څوك وي چي د ده په وړاندي د چا شفاعت وكړی شي، مگر د ده له اذن او اجازې وروسته؟ په ټولو هغو شيانو پوه دئ چي د دوی مخی او يا شاته دي او دوی د ده له علم نه په هيڅ شي احاطه نشي كولی، مگر په هغه څه چي ده غوښتي....

يعنی هغه شفاعت نشته چي تاسي ئې تصور او گمان كوئ، داسي نده چي كومه پرښته يا كوم مقرب بنده به يو شمېر مجرمين

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغونډوي، د خدای حضور ته به ئې ورولي او هلته به ئې شفاعت کوي، نه، داسي نده، بلکه شفاعت کوونکي به هم د خدای له لوري غوره کېږي او شفاعت کېدونکي هم، هغه به مشخصو کسانو ته د خاصو کسانو په اړه د شفاعت اجازه ورکوي، دواړه به د الله تعالی له لوري ټاکل کېږي، داسي گمان ونکړئ چي د لوی رب په وړاندي څوك د ده له اجازې پرته د خبرو او شفاعت توان او جرأت ولري او يا څوك دا توان ولري چي د خدای په نزد بې اجازې د کوم مجرم شفاعت وکړي او په هر څه عالم خدای د کوم مجرم له حال نه خبر کړي او د هغه د داسي صفاتو په هکله ورته معلومات ورکړي چي له مجازاتو نه پرې معاف شي. الله تعالی فرمايي:

**يَوْمَئِذ لَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَانُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا* يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ***

طه:۱۰۹-۱۱۰

په هغه ورځ به شفاعت څه گټه نه رسوي، مگر د هغه چا چي خدای اجازه ورکړي او د ده په وينا راضي شي، هر هغه څه ورته معلوم دي چي د دوی مخي ته دي يا ئې شا ته دي او دوی علماً پر ده احاطه نشي کولی. بل ځای کي فرمايي:

**"....مَا مِن شَفِيعٍ إِلاَّ مِن بَعْدِ إِذْنِهِ ذَلِكُمُ اللّهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ أَفَلاَ تَذَكَّرُونَ" ***

يونس:۳

د الله تعالی له اجازې پرته به هيڅ شفاعت کوونکي نه وي، دا دئ ستاسو رب، هغه چي بايد عبادت ئې وکړی، آيا عبرت نه اخلئ؟

دا آيتونه پدې دلالت کوي چي د قيامت په ورځ به د مشرکانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزعوم شفاعت نه وي، د شفاعت په اړه د دوی تصور او گمان بې اساسه او غلط دئ، دا ډول تصور په شرك ككړ او له شركي افكارو نه راولاړ شوی تصور دی، شریعت هغه شفاعت مني چې د دې خصوصیاتو درلودونكي وي:

- شفاعت كوونكي د الله تعالی له خوا ټاكل كېږي او د الله تعالی له اجازې نه وروسته به شفاعت كولی شي.
- د شفاعت وړ او د سفارش مستحق كسان به هم د الله تعالی له خوا غوره كېږي او له الهي اذن نه وروسته به د دوی شفاعت كولی شي.
- هیڅوك دا جرأت او وس نه لري چې د الله تعالی له اجازې پرته د هغه په وړاندې څه ووايي او نه څوك د هغه له اذن نه پرته د چا د شفاعت حق او جرأت لري.
- هغه شخص د شفاعت وړ بلل كېږي چې مسلمان وي خو جرم ترې شوی وي، د مشرك لپاره شفاعت نشته، الله تعالی له شرك نه پرته د ټولو گناهونو بخښنه كوي. خوشرك نه بخښي او نه د مشرك په حق كې د چا شفاعت قبلوي او هیڅوك هم دا جرأت نشي كولی چې د الله تعالی په وړاندې د كوم مشرك شفاعت وكړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تأویل

دا لیکنه په اصل کي د یوه ایراني لیکوال د یوې مقالې ځواب دئ چي د ورور حکمتیار لخوا ورکړي شوي او د ایراني مشهورې ورځپاڼې (همشهری) د ۱۳۷۹ کال په ۱۷ او ۱۸ گڼه کي خپره شوې وه او په ایراني مطبوعاتو کي ئې زیات بحثونه راولاړ کړي او ډول ډول غبرگونونه ئې راپارولي وو. په ځواب کي ئې دیارلس مقالې ولیکل شوې خو ټولي ناقصي او کمزورې، مونږ دلته همدا لیکنه د درنو لوستونکو د استفادې لپاره رااخلو:

محترم ورور ډاکټر حبیب نبوی یجي په قرآن کي د تأویل او د هرمنوتیك علم په اړه یوه مقاله لیکلې چي په همشهری نومې مشهوره ورځپاڼه کي د اردیبهشت میاشتې په ۱۷ او ۱۸ نېټه خپره شوې وه، نوموړي د تأویل په اړه د ځو نظریاتو یادونه کړې ده؛ خو نه پوهېږم ولې ئې د تأویل په اړه تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهم او اساسي نظر چي فکر کوم له ټولو نظریاتو نه دقیق او زیات صحیح دئ له پامه غورځولی دئ او هیڅ توجه ئې نده ورته کړې!

له همدې کبله مي وغوښتل همدا تشه ډکه کړم، له محترم لیکوال نه پاتې شوی نظر ولیکم او د همشهری درانه لوستونکي د هغه څه لوستلو ته راوبولم چي د دکتور حبیب په مقاله کي توجه نده ورته شوې.

هغه څه چي د تأویل په رابطه د مفسرینو ترمنځ د اختلاف سبب شوی، د آل عمران د سورې په اووم نمبر آیت کي د (متشابه) کلمې په څنګ کي د هغې راوړل دي:

**هُوَ الَّذي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكتَابَ منْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكتَاب وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذينَ في قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ منْهُ ابْتغَاءَ الْفتْنَة وَابْتغَاءَ تأويله وَمَا يَعْلَمُ تأويلهُ إِلَّا اللَّهُ وَالرَّاسخُونَ في الْعلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا به كُلٌّ منْ عنْد رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُوا الْأَلْبَاب*** آل عمران :۷

الله هغه ذات دئ چي پر تائې دا کتاب نازل کړ چي ځیني آیتونه ئې محکم دي او دا د دې کتاب اصل او بنسټ دئ او پاتې ئې متشابه دي. نو هغه کسان چي په زړونو کي ئې کوږوالی دئ هغوی په متشابهاتو پسې درومي، د فتنې په لټه کي او د تأویل لپاره، پداسي حال کي چي په تأویل ئې له الله تعالی پرته هیڅوك نه پوهېږي او هغه کسان چي په علم کي راسخ دي وایي: ایمان مو پری راوړی، ټول د الله تعالی له لوري دئ او پند نه اخلي مګر د عقل

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوندان.

دغه آیت څو اساسي مطالب په ګوته کوي:

۱: د قرآنکریم آیتونه په عمومي توګه په دوه ډوله دي : محکم او متشابه.

۲: محکم آیتونه د قرآنکریم اساسي محور دئ او متشابه آیتونه ئې کمه، محدوده او ضمني برخه ده.

که په قرآنکریم کي لږ غور او دقت وکړو نو دا به راته په ډاګه شي چي د قرآنکریم د بحث او څیړني دوه اساسي محورونه دي، یو شمېرئې په هغو قضایاوو پوری اړه لري چي د انسان لپاره مشهود ، څرګند او ښکاره دي او په انساني قاموس کي ورته صریح او څرګند الفاظ شته، لکه لمر، سپوږمۍ، آسمان، ځمکه، غر، انسان او نور، دوهمه برخه ئې لداسي شیانو سره تړاو لري چي له نظره پټ او غایب دي او انسان په خپل قاموس کي داسي کلمات نه لري چي د هغوی د معرفي کولو لپاره ئې وکاروي. د دې غیبي شیانو د پېژندلو او معرفي کولو لپاره لابد باید هغه الفاظ وکارولي شي چي په اصل کي د ملموسو او ښکاره شیانو لپاره وضع شویدي او ناچار باید د تشبیه له فن نه کار واخیستل شي ترڅو د دې غیبي ځیز یو داسي انځور وړاندي کړی شي چي حقیقت ته نږدې وي، له همدې ځایه آیتونه په دوو برخو وېشل کېږي:

هغه آیتونه چي د ښکاره او مشهود عالم په اړه بحث کوي، پدې ډول آیتونو کي داسي الفاظ استعمال شویدي چي هریو د خپل ځانګړي مورد لپاره وضع شویدی، مفهوم او مدلول ئې څرګند دئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آیت مراد او په خپل مورد د لفظ تطبیق آسانه دئ، دا آیتونه محکم دي، خو هغه آیتونه چي له غیب او غیبي شیانو نه بحث کوي، پدې ډول آیتونو کي د غیبي شیانو د افادې او تعریف لپاره د تشبیه فن کارول شوی او داسي الفاظ پکي استعمال شویدي چي په اصل کي د څرګندو او ټولو ته د ښکاره شیانو لپاره وضع شوي دي، دا آیتونه متشابه بلل کېږي.

لکه په دې مبارك آیت کي:

إِنَّ رَبَّكُمْ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ * الاعراف: ٥٤

د یوم، استواء او عرش الفاظ په حقیقت کي د ښکاره او څرګندو شیانو لپاره وضع شویدي، خو پدې آیت کي د ځمکي او آسمان د پیدا ایښت د شپږو مراحلو او پرځمکه او آسمان د الله تعالی د سلطې او سیطرې د افادې او بیانولو لپاره استعمال شویدي او د دې مطلب د افاده کولو لپاره راغلي چي دا ځمکه او آسمان په شپږو مرحلو کښې پیدا شوي، الله تعالی د هر څه مالك او واکدار دئ او هر څه ئې تر واك او عرش لاندي دي.

او څرنګه چي د قرآنکریم اصلي محور محکم آیتونه دي نو لازمه ده چي متشابه آیتونه همدې لورته راجع کړو او د محکمو آیتونو په رڼا کي ئې تفسیر او توضیح کړو. نه ښایي متشابه آیتونه په مستقله توګه او محکم آیتونو ته له ارجاع نه پرته په ځانګړي ډول بیان او توضیح کړو. هغه کسان چي په متشابه آیتونو پسې ځي او هڅه کوي چي په ځانګړې توګه او محکمو آیتونو ته له ارجاع پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې تفسير کړي، هغوی په غلطه روان دي، زړونه ئې رنځور دي، فکري انحراف ئې د دې سبب شوی چې دا غلط تصور خپل کړي، د هغوی مقصد يا فتنه وي او يا د دې آيتونو پر تأويل علم او پوهه حاصلول. هر چا چې د متشابه آيتونو په مراد اکتفاء ونکړه او د تأويل په لټه کي شو، هغه به يا د رنځور زړه خاوند وي چې فتنه لټوي او يا به ئې داسي کارته ملا تړلی وي چې له الله تعالی پرته ئې هيڅوك هم د کولو توان نه لري. هغه غواړي د متشابهاتو په تأويل پوه شي خو د متشابهاتو علم يوازي له الله تعالی سره دئ؛ ځکه هغه څه چې د انسان له حواسو نه پټ دي او په عالم غيب کي قرار لري او انسان نه شي کولی په خپلو محدودو حواسو ئې درك کړي، قرآنکريم د عالم غيب د دغو پټو شيانو د پېژندني او معرفي کولو لپاره داسي الفاظ استعمال کړيدي چې د انسان لپاره ئې درك او فهم آسانه دئ او په همدی الفاظو سره ئې د غيبي شيانو مناسب او ممکن انځور وړاندي کړی او د کايناتو او عالم په معرفي کولو کي تر هغه ځايه مخکي تللی تر کومه پوری چې انساني عقل د تلو توان لري، لدينه آخوا انساني عقل د مخکي تګ وس او توان نه لري، نور ئې وزرونه سوځي، بايد همدلته توقف وکړي، د هغه د ناقص عقل، قاصر تصور او محدود توان، تنګ نظر، ناقص استعداد او محدود قاموس غوښتنه دا ده چې همدلته په همدې کرښه ودرېږي او نور د مخکي تګ هڅه او هاند ونکړي، هغه نور د مخکي تګ توان نه لري او نه شي کولی د غيبي شيانو په حقيقت او تأويل پوه شي.

د افسوس خبره ده چې يو شمېر دوستان د دې مبارك آيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



صریح حکم ته توجه نه کوي او د آیت د وروستۍ برخی په رابطه داسي څه وایي چي له لومړۍ برخي سره ئې تناقض لري، د آیت لومړنۍ برخه وایي: د رنځور زړه خاوند، فتنه لټوونکی، ماجرا غوښتونکی، شکاك او قناعت نه کوونکی د متشابه آیتونو په لټه کي وي، هڅه کوي پر تأویل ئې پوه شي او په همدی پسې وایي: له الله تعالی پرته هیڅوك د متشابهاتو په تأویل نه پوهېږي. په پای کي فرمایي: د دې ماجرا غوښتونکو، فتنه گرو او بیمارو زړونو خاوندانو په مقابل کي عالمان او د پاخه علم خاوندان وایي: مونږ ایمان ورباندي راوړی دئ، ټول د الله له لوري دئ او له عاقلانو پرته بل څوك پند نه اخلي. د تعجب ځای دئ چي هغوی په دې صراحت سترگی پټوي او ادعا کوي چي د آیت په وروستۍ برخه کي الله او د پاخه علم خاوندان مستثنی شویدي او د (الله) او (الراسخون) ترمنځ "واو" د عطف واو دئ، دا غلط نظر نه یوازي د همدې آیت له لومړنۍ برخي سره ټکر کوي بلکه د بلاغت خلاف هم دئ، که د الله (تعالی) له لفظ نه وروسته توقف ونکړو او دا واو د عطف واو وشمېرو نو باید وروستنۍ جمله ټوله پر ماقبل عطف کړو چي بیائې معنی داسي کېږي: د هغوی پر تأویل له الله او الراسخون في العلم نه پرته بل څوك نه پوهېږي او خدای او د پاخه علم خاوندان وایي: مونږ ایمان ورباندي راوړی، ټول د الله له لوري دي!! یعنی باید د یقولون په لفظ کي ضمیر الله او الراسخون في العلم دواړو ته راجع وي!! او څرگنده ده چي دا نه معقول ده او نه صحیح. د آیت اول او آخر په دې دلالت کوي چي باید د الله له لفظ سره توقف وکړو او د متشابهاتو د تأویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



علم يوازي تر الله تعالی پوری خاص و شمېرو.

په خواشينۍ سره يادونه کېږي چي ځيني نور بيا وايي چي کېدی شي يو آيت يو وخت متشابه وي او بل ځای محکم، يعنی کولی شو له يوه اړخه ئې متشابه وګڼو او له بله اړخه ئې محکم وشمېرو!! دا نظر نه يوازي د آيتونو د وېش په اړه د قرآنکريم له څرګندونو سره اړخ نه لګوي بلکه پدې سره د قرآنکريم د هر آيت په اړه دا ګمان راولاړوي چي شايد دا به هم متشابه وي!! دا نظر هغه کسان وړاندي کوي چي اصلاً د محکم او متشابه په اړه پوره او لازم علم نه لري، دوی د قرآنکريم د مخاطبينو فهم او پوهه معيار ګرځوي، يعنی هغه آيت چي مخاطب پرې پوه شو ، شك او تردد ورته پکي پيدا نشو ، هغه محکم دئ او که شك او تردد ئې پکي وکړ او له فهم نه ئې عاجز شو ؛ نو بيا دا آيت متشابه دئ؛ خو حقيقت دا دئ چي د محکم او متشابه د وېش معيار د مخاطب فهم او علم ندی، آيتونه د مخاطبينو انګېرني او فهم ته له توجه او پاملرني پرته په محکم او متشابه وېشل شويدي. د متشابه لفظ په خپله پدې دلالت کوي چي لدينه هغه آيتونه مراد دي چي د تشبيه فن پکي په کار وړل شويدی، د غيبی عالم شيان پداسي الفاظو سره پکي معرفي شويدي چي په اصل او حقيقت کي د ښکاره او ظاهري څيزونو لپاره وضع او ايښودل شويدي او د تشبيه پذريعه همدا غيبي شيان انسان ته معرفي شويدي.

د تأويل لغوي معنی اصل او اول ته اړول دي او دلته دا مطلب افاده کوي چي متشابه لفظ له فعلي حالت نه خپل اصلي او اولني

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت ته واړولی شي. يعني دا چي له تشبيه نه لاسته راغلی مفهوم کافی ونه شمېرو، بلکه د هغه څيز په حقيقت د پوهېدو هڅه وکړو چي چي د تشبيه له لاري مونږ ته رامعرفي شويدی. د مثال په ډول: زمونږ په عرف او قاموس کي عرش هغه تخت ته ويل کېږي چي پاچا ورباندي کښېني او دا ئې د قدرت او واك ننښه وي. دا عرش يو جسم وي چي څلور پښې لري. ښه نو د الله تعالی د عرش معنی څه ده؟ که مونږ د دې لفظ د تأويل هڅه وکړو نو بايد پدې اکتفاء ونکړو چي د الله تعالی عرش د ده د قدرت او بې مثاله واکمنۍ مظهر او ننښه ده، بلکه دا معنی کافی ونه شمېرو او هڅه وکړو چي د الله تعالی د عرش په ماهيت ځان پوه کړو، حال دا چي ممکنه نده د الله تعالی د عرش ماهيت درك کړو او په حقيقت ئې پوه شو، لا زمه ده چي په خپل حد ودرېږو، له پولو نه د تجاوز او تېرېدو هڅه ونکړو. هرڅوك چي د عرش د ماهيت او کيفيت او د استواء د کيفيت په هکله بحث او مناقشې کوي دا ډول کسان به يا د رنځور زړه خاوندان وي او يا به د خلکو په منځ کي د فتنې ايجادول غواړي او يا به د بې ځايه غرور او لوئی په مرض اخته وي او ځان به ورته لوی ښکاري، په خپل عقل به غره وي او داسي مرۍ يا گوله به خولی ته وړي چي ترستوني ئې نه شي تېرولی او له خپل تڼغر نه به پښې اوږدې غځوي. پدې ټول پوهېږو چي قرآنکريم د انسانانو په ژبه نازل شوی او خپل پيغام ئې پداسي الفاظو سره بيان کړی چي په عربي قاموس کي موجود دي او دا الفاظ په اصل کي د مشهودو او ښکاره څيزونو لپاره وضع شوي، کله چي قرآنکريم انسان ته له ښکاره او څرگندو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیانو نه خبري او بحث کوی نو لفظ او مدلول ئې دواړه واضح او څرگند وي، انسان ئې په آسانۍ سره درك کولی او وربانديې پوهېدلی شي، مخاطب د دا ډول کلماتو د اورېدلو او ویلو په وخت کې له هیڅ مشکل، شك او اشکال سره نه مخ کېږي، خو کله چې د قرآنکریم د بحث موضوع بدلېږي، له غیبی او غیرمشهودو شیانو نه خبری کوي او د پټ عالم بحث شروع کېږي، نو پدې صورت کې د انساني قاموس په وړاندې سره کرښه کښل کېږي، دغه قاموس بیا د دې پټ او غیبې عالم د اجزاوو د تعریف او پېژندنې لپاره مناسب او لا زم الفاظ نه لري، دا پټ عالم په انساني قاموس کې نه شی ځائیدلی، دا قاموس د دې غیبې شیانو د معرفي کولو صلاحیت او ظرفیت نه لري، د ناچارۍ له مخې د دې غیبي امورو د معرفي کولو لپاره باید همغه ناقص او تنگ الفاظ وکارول شي او همغه د مشهودو او ښکاره شیانو لپاره وضع شوي الفاظ استعمال شي او په همدی الفاظو سره د انسان د فهم او پوهی لپاره د غیبي شیانو یو تصویر او ترسیم وړاندې شي او د تشبیه د فن په مرسته انساني عقل ته د غیبي امورو نقشه انځور شي. د دا ډول آیتونو د الفاظو تأویل او د تشبیه له حالت نه اصلي او لومړني حالت ته اړول د انسان د وس خبره نده، پدې کیفیت له الله تعالی پرته بل څوك نه پوهېږي، ځکه ترکومه حده چې ممکنه وه او انسان ئې توان درلودو، ترهغه حده همدې متشابه آیتونو په همدې الفاظو سره دا شیان معرفي کړي دي، لدینه آخوا انساني عقل د مخکې تگ استعداد او توان نه لري، انسان باید همدلته په همدې پوله توقف وکړي، نور باید د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندي تګ هیله او هڅه ونکړي، همدا ئې د توان آخرینۍ او وروستۍ پوله ده، عقل او فهم ئې نور د مخکي تګ توان نه لري، نور نشي کولی دا شیان لدینه زیات وپېژني.

ځیني دوستان وایي: له مونږ سره داسي روایات شته چي ثابتوي "الراسخون فِي اَلعِلمِ" یا د پاخه علم خاوندان په تأویل پوهېږي، پدې اړه لاندیني ټکي یادول غواړو:

• پدې کي شك نشته چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحاب او اهل بیت رضي الله عنهم له بل هرچا نه د قرآنکریم په ژبه ښه او زیات پوهېدل، هغوی له ټولو نه زیات د قرآنکریم په مفهوم او هدف پوه وو، مسلمانان ټول پدې اتفاق لري او ټول عقیده لري چي د قرآني مفاهیمو د زده کړې او پوهې لپاره باید د اصحابو رضي الله عنهم نظریاتو ته مراجعه وشي، پدې رابطه هیڅ اختلا ف نشته، اختلاف پدې کي دئ چي د روایت راوي څوك دي؟ آیا دا روایت له مصئون او ډاډمني لاري مونږ ته رارسېدلي؟ او آیا د وخت تېرېدو او د راویانو تعدد خو پر روایت څه اثر ندی کړی او په الفاظو کي ئې د څه بدلون باعث ندی شوی؟ آیا د روایاتو د ثبتولو په اړه همغه اهتمام او دقت شوی چي د آیتونو په ارتباط شوی؟

• نه ښایي هر روایت معیار وګرځوو او د قرآن آیتونه د هغه په ګټه توجیه کړو، بلکه لازمه دا ده چي هر روایت قرآن ته راجع کړو، په قرآن ئې وتلو، که له قرآنکریم سره موافق او برابر وو نو قبول ئې کړو او که نه نو د قبول وړ ئې ونه ګڼو. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که زما له خوا داسي حدیث درته ورسېد چي له قرآن سره ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعارض او ټکر درلود نو هغه په دیوال ووهئ (مه ئې قبلوئ)

• هغه روایت چې له عقل سره ئې سمون نه درلود او داسې مطلب ئې افاده کاوو چې پر انسانې عقل برابر نه راتو او له عقلي معیار سره ئې ټکر کولو او هغه روایت چې یوه لوی شخصیت ته داسې قول پکې منسوب شوی وي چې د لویانو له اقوالو سره سمون ونلري، د اسلامي معیارونو له مخې کمزوری او ناوړه ګڼل کېږي، لکه د ځان ستایل او نورو ته ښکنځلی او بد رد ویل، له قدرت سره مینه، ځان زړه ور، شجاع، غیرتي، په غیب پوه ګڼل او داسې نورې ادعاګانې کول، نو د داسې روایاتو په اړه باید محتاط وو، هم د دې روایت په هکله او هم ئې د راوي په هکله باید شك ولرو او له ترویج او نشر نه ئې ډډه وکړو، ځکه دا امکان نه لري او له توقع نه بهر ده چې یو لوی شخصیت د ځان ستاینه وکړي، امکان نه لري په اسلام او قرآن پوه انسان د علم غیب ادعا وکړي، د صالحو او مؤمنو شخصیتونو دود ندی چې د ځان لپاره د مقام او قدرت غوښتنه وکړي، امکان نه لري چې یو عالم، د دین په اساساتو پوه او په اسلامي اخلاقو متخلق انسان دا ادعا وکړي چې زه د راسخ فی العلم له ډلې نه یم، د پاخه علم خاوند او د متشابهاتو په تأویل پوه، که پوهېدلی نو دا کار به ئې کړی وو، د ادعا په ځای به ئې متشابهات توضیح کړي وو، مونږ خو د دوی په اقوالو کې هیڅ داسې بېلګه نه ګورو چې د کوم متشابه آیت په اړه ئې څه ویلي وي.

• د تأویل په اړه چې محترم ورور داکتر ایجی کوم تحلیل کړی له هغه نه داسې څرګندېږي چې ګویا د قرآنکریم الفاظ څو مختلفې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معناگاني لري او د قرآنکريم آيتونه د ظهر او بطن، ښکاره او پټ (مخ او منځ) لري او د هر آيت په بطن کي بيا نور بطنونه شته!! راشی وګورو چي دا وينا د قرآنکريم ستاينه او توصيف دئ او که نه برعکس دا قرآن ته د يوه عيب د انتساب په معنا ده؟! د قرآنکريم په اړه کېدی شي دوه انګېرني ولرو:

١. قرآنکريم واضح، مبين او څرګند کتاب دئ چي له آسمان نه ځمکي ته د انسان د هدايت لپاره "نازل" شوی، الفاظ او مفاهيم ئې مخاطب ته څرګند او د فهم وړ دي.

٢. قرآنکريم داسي کتاب دئ چي الفاظ او مفاهيم ئې سخت مغلق، پيچلي او له فهم نه لوړ دي، له محدودو کسانو پرته نور څوك ئې په معنی او هدف نه شی پوهېدلی.

راشئ دا وګورو چي له دغو دوو تصوراتو او انګېرنو نه کوم يو حقيقت ته نږدې او صحيح دئ؟ دا هم بايد وڅېړو چي ولې او په کوم دليل ځيني کسان د قرآنکريم په هکله دا ادعا کوي چي قرآن پيچلی او مغلق کتاب دئ او له محدودو افرادو پرته نورو ته د درك او فهم وړ ندی؟ د دې تصور د پيدا کېدو علت څه دئ؟ آيا دا پر قرآنکريم د علم او پوهې په نتيجه کي رامنځته شوی دئ؟ او که قرآنکريم ته زيات احترام د دې تصور د راولاړېدو سبب دئ؟ او که جهل او ناپوهي ئې عامل دئ؟ او يا دا چي غرض او مرض، انحصار طلبي او له دين نه دکان جوړول ئې ترشا دي؟ څوك چي د قرآنکريم په هکله دا غلط او ناقص تصور لري، د خپلي رأيی د اثبات لپاره څه دلايل وړاندي کوي؟ د قرآنکريم کومې برخي پيچلی او له فهم نه لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولي؟ د دې موضوعاتو څېړل ډېر وخت او اوږده بحث ته ضرورت لري، خو هڅه به وکړو چې په مختصرو الفاظو سره پدې هکله څه ناڅه رڼا واچوو:

قرآنکریم په پوره صراحت، تأکید او تکرار سره دا خبره کوي چې قرآني آیتونه روښانه، واضح، آسانه، د فهم وړ، له غموض او ابهام نه پاك او فارغ دي، فرمایي:

**تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ** * القصص:۲

دا د روښانه او واضح کتاب آیتونه دي

**وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقرآن لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ** * القمر:۱۷

بیشکه چې قرآن مو د یادونې لپاره آسانه کړی؛ آیا پند اخیستونکی شته؟

دا مبارك آیت درې ځله په قرآن کې تکرار شویدی.

پداسې حال کې چې د دې کتاب نازلوونکی حکیم خدای په ډېر صراحت، وضاحت، تأکید او تکرار سره فرمایي چې قرآن آسانه، واضح او څرګند دئ، د هر چا لپاره د فهم وړ او د هر پنداخیستونکي لپاره د پند وړ دئ، که څوك د دې الهي قضاوت او حکم په مقابل کې دا ادعا وکړي چې په قرآنکریم کې یو شمېر پیچلي او د غامضې معنی درلودونکي الفاظ او برخي هم شته چې هر چا ته د فهم وړ ندي، آیا دا نظر به د منلو وړ وي؟ آیا دا قضاوت د قرآني قضاوت مخالف ندی؟! آیا د قرآن په مقابل کې بې باکي او بې حرمتي نده؟ الله تعالی د خپل کتاب په اړه یو څه وایي او دا خلك د دې قول مخالف بل څه، الله تعالی قرآن آسانه او د فهم وړ بولي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی عیب وریوری تړي، د فهم له سطحی نه ئې لوړ شمېري او لګیا دي د دې باطل تصور د اثبات لپاره دلایل لټوي!!

په سلګونو آیتونه پدې دلا لت کوي چې قرآنکریم واضح، روښانه او آسانه دئ،که یوازي همدا پورته ذکر شوي آیتونه هم وي نو همدا کافي وو چي مخالفت ئې نه وی شوی او داسي تصور راسره هیڅ کله نه وی پیدا شوی چي قرآني آیتونه سخت، پیچلي او له فهم نه لوړ دي.

الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم خلك تشویقوي چي قرآنکریم ته رجوع وکړي، هغه د خپلي لاري مشال وګرځوي، بلنه ورکوي چي په دې کتاب سره له تیارو نه د رڼا لور ته لاره مومي، ورته وایي چي پدې کتاب سره هم ځان پېژندی شي او هم الله تعالی، هم دنیا او هم آخرت، ښه له بد ، خیر له شر ، ګټور له زیانمنو شیانو نه ورباندي بېلولی شي، دا کتاب معیار دئ، تله ده، مشال دئ، لارښود دئ، د ټولو لپاره رانازل شوی او د ټولو لپاره د فهم او درك وړ دئ. لدې وضاحت او صراحت سره سره شته داسي کسان چي د دې حقیقت په خلاف غلط تصورات لري او وایي: د قرآنکریم پر مفاهیمو پوهېدل آسانه ندی، دا د هر چا د وس خبره نده، دا کار د ټولو لپاره ممکن ندی، پدې کتاب کي پیچلي او غامض مسائل شته، هرڅوك ورباندي نشي پوهېدی او په دې ترتیب سره هغه قرآنکریم چي باید د نورو معرفي کوونکي وي په خپله د تعریف او پېژندني بلی وسیلی ته اړ شمېرل کېږي او د دې په ځای چي د نورو لپاره مشال او څراغ وي په خپله روښانه کوونکي ته محتاج بلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي!! دا څه عجیب قضاوت!! دا څومره بې انصافه تصور!! او دا څومره ناروا او غلطه انګېرنه!!

قرآن فرمایي! که دکوم آیت په مفهوم پوه نه شوئ،کوم آیت مشکل او سخت درته ښکاره شو نو د همدې مشکل مفهوم توضیح او بیان په نورو آیتونو کي ولټوئ، ځکه چي دا کتاب داسي دئ چي یوه برخه ئې د بلې تشریح او بیان کوي، سوالونو ته ځواب وایي، اشکالات رفع کوي او ابهامات له منځه وړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که داسي حدیث درته راغی چي له قرآن سره ئې تناقض او توپیر درلود نو په دیوال ئې ووهئ. خو دا ښاغلي وایي: زمونږ خبره د قرآنکریم په هکله معیار او ملاك ده!! خپل نظریات دومره باارزښته شمېري چي باید قرآني مفاهیم وربانديي وتلل شي او د قرآن په ځای د دوی تصورات مرجع او مصدر وبلل شي!!

دیني تحریکونه او اسلامي خوځښتونه تل دا عارضه او مشکل لري چي د تأسیس له لومړي پړاو نه وروسته ئې یوه داسي خاصه ډله رامنځته شي چي له دین نه ځانته دکان جوړ کړي او د خلکو د تحمیق په وسیله ئې بدل کړي، په چل سره او د دین په نامه له خلکو مال او دولت ترلاسه کوي او نه پرېږدی چي خلك د دین په اصلي غوښتنو پوه شي، قرآنکریم د دې ستر خنډ په هکله فرمایي:

**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنْ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ...***

التوبه: ٣٤

اې مؤمنانو! زيات شمېر احبار او رهبان (د یهودو او نصرانیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



علماء) په ناحقه د خلکومالونه خوري او د الله تعالی د لاری خنډ گرځي.

هرکله چي د الله دین دغو خلکو ته پاتې شوی او دا خلك پدې توانېدلي چي له دین نه د خلکو د تحمیق او ناوړه گټي ترلاسه کولو وسیله جوړه کړي، نو کریم خدای د خلکو د هدایت لپاره پیغمبران رالېږلی، ترڅو دین د دوی له انحصار نه آزاد کړي، د دوی له خوا جوړ شوي خرافات او په دین پوری په ناحقه لگیدلی تورونه له منځه یوسي، د خلکو پراوړو په ناحقه ایښودل شوي درانه بارونه لری کړي او د همدې مکارو او دروغجنو له خوا د خلکو په لاس پښو کي اچول شوي ځنځیرونه مات کړي، د الله تعالی او خلکو ترمنځ بې اساسه او کاذب موانع ختم کړي او خلکو ته دا وښیي چي دا د دېن دروغجن او مکار ټیکه دارن، د بندگانو او الله تر منځ واسطه ندي، الله تعالی ته د رسېدو لاره له دوی نه نده تېره شوې، هر بنده کولی شي له خپل رب سره مخامخ او له واسطې پرته راز او نیاز وکړي او دا ورته په ډاگه کړي چي خدای د ټولو رب دئ، هر چیر ته د هرچا دعا او فریاد اوري، هر بنده ته د غاړی تر رگ نه ورلنډ دئ، هغه ته د رسېدو لپاره هیڅ وسیلی ته اړتیا نشته، هیڅوك د هغه له اجازې او امر پرته د هیچا شفاعت نه شي کولی، چا ته چي الله تعالی د زیان اراده کړې وي هیڅوك خیر نشي وررسولی او چا ته ئې چه خیر غوښتی وي هیڅوك ضرر نشي ورسولی. او ټولو ته اعلانوي چي خدای ته رجوع وکړئ، یوازي د ده عبادت وکړئ او یوازي له ده نه مرسته وغواړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی خپل کتاب انسانانو ته رالېږلی، مخاطبين ئې ټول انسانان دي، دا د کومې ځانګړی طبقی لپاره ندی نازل شوی، دا د انسانانو د علم او فهم له سطحې سره برابر کتاب دئ. الله تعالی دا "کتاب" د خلکو د فهم سطحې ته "رانازل" کړی، هغه ئې دومره لاندې راوستی چې د هرچا لاس وررسېدی شي، هغه کسان چې د قرآنکريم په رابطه وايي چې دا يو پيچلی او غامض کتاب دئ هغوی يا دا غواړي چې دين په خپل انحصار او ګروت کې وساتي، ناوړه ګټه ترې وکړي او د دين په عام کېدو کې د خپلي سوداګری زيان ويني او يا دا چې له قرآن نه هيڅ علم نه لري، قرآن ته ئې په غور او دقت مراجعه نده کړې او د قرآن په نسبت خپل جهل ئې د قرآن د غموض لپاره دليل ګرځولی دئ او يا دا چې د همدې تبليغاتو تراغېزې لاندې راغلی، همدا غلطه خبره ئې په پټو سترګو منلی. دا ډله د خپل غلط تصور د اثبات لپاره دا دليل وړاندې کوي چې: قرآنکريم دوه ډوله آيتونه لري: يو محکم او بل متشابه. محکم هغه دي چې الفاظ او مفاهيم ئې واضح، روښانه او صريح وي، هر څوك ورباندې پوهېدلی شي؛ خو متشابه هغه دي چې د قرآنکريم د حکم په اساس د تأويل وړ ندي!! دا د دوی غلط نظر او دليل دئ خو حقيقت بيا بل څه دئ، رحمن خدای چې دا دين ئې د انساني ژوند د تنظيم لپاره رالېږلی دئ، په څرګندو او روښانه الفاظو سره ئې د انسانانو او د دوی د ملموس او ښکاره ماحول په هکله بحث او خبري کړيدي، ښه او بد، مضر او ګټور، خير او شر ئې د همدوی په ژبه ورته بيان کړي دئ، د حقايقو د بيان لپاره ئې دا دين له آسمانه ځمکي ته راکوز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی، دومره ئې راکوز کړی او داسي ئې بیان کړی چي د انسان د فهم او ادراك له سویې سره بالکل برابر شي، حامل ئې په خپله امي دئ، په امي قوم کي مبعوث شوی، لومړي حاملان ئې په لیك لوست نه پوهېدل، د بلال حبشي، سلمان فارسي، صهیب رومي او ابوذر غفاري په څېر کسان چي نه ئې عربي سمه زده وه او نه په لیك لوست سم پوهېدل، دوی مخامخ له پیغمبر علیه السلام نه د قرآن آیتونه ترلاسه کول، په مراد ئې پوهېدل، نورو ته ئې رسول او د پلي کولو لپاره ئې جهاد ته ملا تړله. متأسفانه همدا عام فهمه، آسانه او روښانه دین د وخت په تېرېدو سره د داسي کسانو په لاس کي لویدلی چي غواړي نور خلك ورباندي تحمیق کړي، دین په ځان پوري منحصروي او نورو خلکو ته وایي: دا دین یوازي زمونږ لپاره د فهم وړ دئ، نور څوك پدې دین نه شی پوهېدلی، د الله تعالی په ژبه یوازي مونږ پوهېږو، نور دا توان نه لري چي د دېن په رموزو او اسرارو پوه شي، که څوك غواړي له الله تعالی سره رابطه ونیسي نو باید زمونږ له لاری خدای ته د رسېدو کوشش وکړي، دوی د خدای استازي، د دېن ترجمانان او د خدای او بنده ترمنځ واسطه او وسیله دي!! پدې ډول بې اساسه خبرو سره هغه دین چي ډېر آسانه او عام فهم دئ، په داسي یوه دین بدل کړی چي د یوې خاصې ډلي په واك کي محدود او منحصر پاتې شي، الله تعالی دین له آسمان نه ځمکي ته رالېږلی، خو دوی ئې بېرته له ځمکي نه آسمان ته پورته کړي، هومره لوړ چي د هیچا لاس نشي وررسېدی!! دا خلك، هغه دین چي لومړنی حامل او راوړونکي ئې امي وو، پداسي دین بدلوي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فيلسوفان ئې په الف باء نشي پوهېدی!! هغه دين چې د انسان او طبيعت په هکله بحث کوي، پداسي څه بدلوي چې د بحث محور ئې خارق العاده کارونه او ماوراء الطبيعت توکي او پېښې وي!! د دې ډلي د غلط تفسير له مخي د قرآنکريم ټول څرګند او صريح الفاظ په پيچليو او غامضو مفاهيمو بدلېږي او محکم آيتونه ئې هم د انسان د فهم له دايرې نه وزي، که قرآنکريم له لمر، سپوږمۍ، ځمکي، آسمان، غرونو، سيندونو، وريځو او باران نه خبري کوي نو د دوی په اند د دې روښانه الفاظو معنی هم هغه نده چې عام خلك ئې انګېري، که څوك غواړي د دې الفاظو په اصلي معنی پوه شي نو بايد د دوی په اصطلاح دين پوهانو ته رجوع وکړي، هغه چې د دوی له زعم او ګمان سره سم د الفاظو په بطن پوهېږي، که داسي ونکړي او د کلماتو معنی بل ځای ولټوي نو حتماً به د اشتباه مرتکب شي!! دا انګېرنه او تصور چې له دين نه دکان جوړوي، دين د څو محدودو کسانو په انحصار کي راولي او دين د هغو کسانو د لاس آله جوړوي چې خلك پرې تحميق کړي او د خلکو مالونه پرې وخوري، قرآنکريم دا حالت څومره ښه انځور کړی:

**وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتَابِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ الْكِتَابِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ***

آل عمران:۷۸

له دوی نه يوه ډله داسي ده چې په خپلي ليکني او کتاب خپلي ژبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي اړوي چي ته هغه د الله تعالی د کتاب يوه برخه وبولی، پداسي حال کي چي هغه د الله د کتاب برخه نده، دوی وايي: دا خبري ټولی د الله له لوري دي، پداسي حال کي چي د الله له خوا ندي، په خدای پوري دروغ تړي سره له دې چي ښه پوهېږي.

گورئ چي دا مکاره او ټگماره ډله خپلي ليکني او خپلي خبري د الله تعالی کتاب ته منسوبوي، خپل غلط او مغرضانه تفسير او تعبير ته الهي تعبير وايي، دوی دا غلطي قصداً او په لوی لاس کوي، ښه پوهېږي چي دا خبری نه د الله تعالی په کتاب کي شته او نه د الهي کتاب معنا هغه ده چي دوی ئې وايي. په دې آيت پسې له ذکر شوو نورو آيتونو نه دا په ډاگه معلومېږي چي په دې رنځ اخته کسان يا هغه خلك دي چي له دين نه ناوړه گټه پورته کول ورته په ميراث رسېدلي او يا هغه واکمنان دي چي له دين نه د خپل زعامت او واکمنۍ د اثبات لپاره وسيله جوړوي او دين د خلکو د غلامۍ آله گرځوي او يا هغه کسان دي چي غواړي پيغمبرانو عليهم السلام او ديني مشرانو ته د انتساب له لاري امتيازات لاسته راوړي، همدا کسان دي چي ځيني شخصيتونه د الوهيت تر مقامه پورته کوي، د خدای شريکان ئې جوړوي، د علم غيب خاوند او د عالم په امورو کي د تصرف حق ورته ثابتوي، له دوی نه مرسته او پردوی توسل لازمي گڼي او ادعا کوي چي يوازي د دوی له لاري د الله تعالی دربار ته لار موندل ممکن ده!! دوی دا ادعاگاني له دغو درنو شخصيتونو سره د محبت او هغوی ته د درناوي له امله نه کوي، بلکه لدينه ئې هدف خپلي گټی وي، غواړي په همدې سره خپل مقام اوچت کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه دوی ځان د دغو شخصیتونو د مادي او معنوي مقام وارث ګڼي، هر کرامت چي د هغوی لپاره ثابت کړي ګټه ئې دوی ته راګرځي، له همدې نه د امتیازاتو د لاسته راوړلو وسیله جوړوي، قرآنکریم پدې هکله فرمایي:

مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُؤْتِيَهُ اللَّهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا عِبَادًا لِي مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ كُونُوا رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُونَ* وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلَائِكَةَ وَالنَّبِيِّينَ أَرْبَابًا أَيَأْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ * آل عمران :۷۹-۸۰

هیڅ انسان ته نه ښایي چي الله تعالی ورته کتاب، حکم او نبوت ورکړي او بیا هغه "لدې الهي پېرزویني وروسته" خلکو ته ووایي: له الله تعالی نه علاوه زما بندګان شئ! بلکه "د دې برعکس هغه ته دا ښایي چي" ووایي: د دې لپاره باید خدای پالونکي شی چي تاسو خو نورو ته دا کتاب ورزده کوئ او په خپله ئې لولی. او هغه تاسو ته دا امر نه کوي چي ملائکي او پیغمبران خپل اربابان ونیسئ، آیا تاسي ته د کفر امر وکړي، وروسته له هغې چي د دوی په دعوت سره په اسلام مشرف شوئ یاست؟!

له دې لاري چي دین ته کوم زیان اوښتی، هومره ستر زیان دي چي جبران ئې ګران کار دئ، همدا غلط تصور د ډېرو ژورو دیني انحرافانو سبب شویدی!! که ووایو چي له همدی لاري دین تحریف شوی، د ژوند له ساحې او صحنې نه وتلی، د خرافانو ښکار شوی او د مابعد الموت په دایره کي محدود پاتې شوی، نو مبالغه به مو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي کړي.

دا تصور او عقیده چي ګویا د قرآنکریم الفاظ بطون لري، ظاهر ئې یو او باطن ئې بل څه دئ، همدې تصور د هغه کسانو په مخ دروازه خلاصه کړیده چي غواړي خپلي خبري او غوښتني د دین خبري او غوښتني وګرځوي، خپل بدعتونه د دین په نامه مشهور او معروف کړي او له همدې لاري امتیازات لاسته راوړي.

د مذهب په نامه او عنوان د نویو لارو او ضوابطو ایجاد او په دین کي بدعتونه رامنځته کول او بیا همدې بدعت او نویو ایجاد شوو دودونو دستورونو ته له اصل مذهب او دین نه زیات ارزښت ورکول، دا داسي یو آفت دئ چي اکثراً مذهبي کړۍ ورباندي اخته کېږي. دا پداسي حال کي چي د دین تقاضا او حکم دا دئ چي باید نه څه ورباندي زیات او نه څه ترې کم کړی شي، د دین له نظره لکه څنګه چي له دین نه څه راکمول جرم دئ همداسي په دین له ځانه څه ورزیاتول هم نابخښونکي ګناه ده. دین نه هیڅ زیاتوني ته اړتیا لري او نه څه کمول مني، دین مکمل او ښایسته دئ، نه خد او خال ته ضرورت لري او نه خراش او تراش ته؛ خو هغه ټګماره ډله چي له دینداری نه ځانته حرفه او پیشه جوړوي، په خاصو ظروفو کي راوړاندي شي او د خاصو اهدافو پخاطر د مذهب د ښایست او ښکلا تر شعار او عنوان لاندي د خلکو د راجلبولو په نیت په مذهب کي نوی لاری اختراع کړي، بیا ئې مذهب ته منسوبوي، ورپسي همدا د دین تر پرده لاندي له ځانه جوړ شوي ضوابط ورو، ورو دومره اهمیت او ارزښت پیدا کړي چي د دین اصلي او حقیقي څېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر سورې لاندې راولي، همدا کسان په خپلو بدعتونو سره له آسانه او عام فهمه دين څخه داسې يو مذهب جوړ کړي چې د انسان سليم فطرت ترې کرکه کوي، انساني عقل ئې نه شي منلی او د انسان د طبيعی اړتياوو مخالف او معارض واقع شي.

همدا رنځ بيا د دې سبب شي چې د تقوی او اخلاص تر پردې او شعار لاندې د دين د اصلي روح مخالف قيود او اصول وضع شي، حلال شيان حرام وبلل شي او د انسان ديني و جايب له ټاکلی دايری نه ووزي، زياتونه پکې وشي او د قرآنکريم په ژبه دا دين ته منسوب شيان د خلکو لپاره د اضافي بار او درنو ځنځيرونو شکل غوره کړي.

که قرآنکريم ته رجوع وکړو نو وبه وينو چې دا د هر مسلمان داعي يوه ستره دنده او وظيفه ګڼي چې د پورته ياد شوې ستونزې او رنځ معالجه وکړي او مسلمانان په دې آفت له اخته کېدو نه وژغوري. قرآن وايي چې پيغمبران عليهم السلام له همدې ډول مشکلاتو سره مخ شويدي او هغوی زياتې هلې ځلې کړيدي تر څو د تحريف شوي دين او مذهب پيروان پدې قانع کړي چې د دوی مذهبي مشران د بدعت مرتکب شويدي، هغوی له ځانه په دين کي زياتونه کړيده، حلال شيان ئې بې دليله په دوی حرام کړيدي، قرآنکريم له يوه پيغمبر عليه السلام نه حکايت کوي او فرمايي:

**وَلِأُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ وَجِئْتُكُمْ بِآيَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ** * آل عمران: ٥٠

او ترڅو هغه ځيني شيان درته حلال وګرځوم چې پر تاسو باندي حرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي شوي او ستاسي د رب له لوري مي څرګنده نښه درته راوړی، نو له خدای نه ووېرېږئ او زما متابعت وکړئ.

همدا راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وظیفې او مسئوولیت په هکله قرآنکریم فرمایي چي هغه راغی تر څو له خلکو درانه بارونه کوز کړي او د خلکو په لاسونو او پښو کي لویدلي ځنځیرونه وشلوي، همدې مطلب ته په اشارې سره فرمایي:

**الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ *** الاعراف:۱۵۷

هغه کسان چي د امي رسول او پیغمبر متابعت کوي، هغه چي دوی ئې نوم په تورات او انجیل کي له ځان سره لیکلی مومي، هغه چي دوی په نېکي ګماري او له بدي نه ئې منع کوي او پاك شیان ورته حلال او ناولي ورته حرام ګرځوي او بارونه ئې د دوی له اوږو راکوزوي او هغه ځنځیرونه شلوي چي د دوی په لاسونو او پښو کي لویدلي وو، نو چا چي پر هغه ایمان راوور، د ده مرسته ئې وکړه او د هغه نور پیروي ئې وکړه چي په ده باندي نازل شویدی، همدا کسان برلاسي او بریالي دي.

ګورئ چي پیغمبر د خلکو بارونه سپکوي، ځنځیرونه شلوي، انسانان آزادوی، ټول پاك شیان "چي پخوا ئې یوه برخه ځینو ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرام کړي وو" حلال گرځوي او ټول ناولي شیان حرام شمېري، خلکو ته داسي نور او چراغ ورکوي چي له تیارو او خرافاتو نه ورباندي ووځي او د حقیقت روښانه دنیا ته لاړ شي.

## د ځینو اشتباهاتو تصحیح

"دا د تأویل په اړه د یوی بلی مقالې عنوان وو چي نوموړی ورځپاڼی ته ولېږلی شوه"

د همشهری ورځپاڼی د اردیبشهت میاشتي په **۴** او **۵** نېټه زما لیکنه (د تأویل په هکله یو بل نظر) تر عنوان لاندي خپره کړه، زه ئې مننه کوم، په ځانگړې توگه له هغې تبصرې نه چي د مقالې په اړه ئې درلوده؛ خو د همدې میاشتی په ۱۱ نېټه په همدې ورځپاڼه کي زما د مقالې په هکله د لومړی تبصرې خلاف د یوی داسي تبصري شاهد وم چي د حیرانتیا وړ وه او دا ترې څرگندیده چي د ورځپاڼې مسئوولین زما د مقالې د خپرولو له امله ترفشار لاندي راغلي او دېته اړایستل شوي دي چي معذرت وغواړي او د خپل ځان د تبرئې او د خپلي دغې اشتباه د جبران لپاره مناسب اقدام وکړي، خپلي مخکنۍ خبري بېرته واخلي او د موضوع په اړه د خپلو علماوو او مراجعو آراء نشر کړي.

له همدې نېټې نه څه موده وروسته، په څو پرله پسې گڼو کي د همدې موضوع په اړه د یو شمېر علماوو نظریات او مرکې خپرې شوې، "صدا و سیمای جمهوری اسلامي ایران" هم د دغې موضوع په رابطه له یوه عالم سره مفصله مرکه درلوده، چي دا ټول مي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقت سره تعقیب کړل او په همدې رابطه او د دې نظریاتو په حواله لاندیني ټکي وړاندي کول غواړم:

- د یوې موضوع په هکله د مختلفو نظریاتو خپرول غوره اقدام دئ، حقیقت هغه وخت ښه ځرگندیدلی شي چي د خپل معارض او ضد ترخوا کیښودل شي، د حق پلویان له مناقشې او له مخالفو نظریاتو نه وېره نه لري، بلکه دا یو ضرورت شمېري او په خلاصه تنده ئې اوري، دا د باطل خاصیت دئ چي په تیاره او تنهائې کي خوښ وي، د مقابلې او مناقشې توان او جرأت نه لري، حقیقت خو د مؤمن ورکه متاع ده، مؤمن د هرې خبري د اورېدو حوصله لري، مؤمن ټولي خبري اوري بیا ئې له منځه حق انتخابوي او هغه څه مني چي حق وي:

**فَبَشرْ عِبَاد * الَّذينَ يَستَمعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئك الَّذينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَ أُولَئك هُمْ أُولُوا الأَلْبَبِ ***

الزمر: ۱۷-۱۸

آیا دا نه گورئ چي قرآنکریم حتی د هغو کسانو په ځواب کي چي ویل به ئې رسول صلی الله علیه وسلم، مجنون دئ، شیطاني القاءات ورته کېږي، ساحر، جادوگر او کاهن دئ، د دې او دیته ورته اباطیلو د ځواب لپاره تر ټولو غوره، معقوله او منطقي لاره اختیاروي او فرمایي:

**وَمَا صَاحبُكُمْ بمَجْنُونٍ * وَلَقَدْ رَآهُ بالْأُفُق الْمُبينِ * وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بضَنينٍ * وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ * فَأَيْنَ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تَذْهَبُونَ * إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ * لِمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَقِيمَ * التکویر: ۲۲ - ۲۸

ستاسي ملگری لیونی ندی، په ښکاره افق کي ئې لیدلی او هغه په غیب بخل نه کوي "د کاهنانو په شان ندی چي په غیب ویلو اجره غواړي" او خبره ئې د رټل شوي شیطان خبره نده، نو چیرته ځی؟ دا خو له پند او یادوني پرته بل څه ندي، ستاسي د هر هغه چا لپاره چي غواړي په نېغه لاره روان شي.

پوهېږئ چي دا د کوم ذات ځواب دئ؟ دا د هغه قهار او مالك الملك الله ځواب دئ چي د مرگ او ژوند فیصله له ده سره ده، د رزق او روزي خزانې ورسره دي، فعال لمایرید دئ، له حق نه د منکرو او گستاخو حق دښمنه خلکو په ځواب کي د دې په ځای چي له قهر او غضب نه کار واخلي، عذاب وربانديي نازل کړي، د نرمۍ او مهربانۍ لاره نیسي او رسول صلی الله علیه وسلم د هغوی د ملگري په توگه ورمعرفي کوي.

د تأویل په اړه چي پدغو مقالو کي څه لیکل شوي د هغوی په ځواب کي باید ووایم:

متأسفانه یو شمېر دوستان تفسیر او تأویل مترادف لفظونه شمېري؛ خو حقیقت داسي ندی، قرآنکریم د تأویل لفظ یوازي د متشابه آیتونو په هکله استعمال کړی، د قرآن له نظره د متشابهاتو د تأویل هڅه ناوړه عمل دئ، دا د هغو کسانو کار گڼل شوي چي رنځور زړونه لري او فتنې لټوي، د تعجب او افسوس وړ ده که د قرآن له دې صراحت سره سره د متشابهاتو تأویل، مذموم او ناوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمل ونه بلل شي:

**فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ *** آل عمران: ۷

او هغه کسان چي په زړونو کي ئې کوږوالی دئ، د همدې کوږوالي له امله په متشابهاتو پسې ځي، فتنې لټوي او د تأویل هڅه کوي، پداسي حال کي چي له الله تعالی پرته هیڅوك ئې په تأویل نه پوهېږي.

نه پوهېږم په کوم دلیل دا مذموم او ناوړه عمل د پاخه علم خاوندانو ته منسوبېږي؟ پدې پوهېږو چي یو غیبي او پټ ځیز له مشهود او ښکاره ځیز سره له تشبیه پرته په بل څه نشو درك کولی، انسان نه د غیبي شیانو د کیفیت د ادراك توان لري او نه ئې د معرفي کولو لپاره په خپل قاموس کي خاص او ځانګړي الفاظ. قرآنکریم خپلو مخاطبینو ته د غیبي شیانو د معرفي لپاره د تشبیه فن کارولی دئ، د متشابه آیتونو په ذریعه ئې انسان ته د غیبي نړۍ په لوري د فهم لاره پرانستې ده او د غیبي شیانو ادراك ئې ترممکنه حده ورته آسانه کړی.

له غیبي شیانو نه چي د قرآنکریم متشابه آیتونه کوم انځور او تصویر وړاندې کوي، په هغه کي د انسان د عقلي او ذهني قدرت او ظرفیت وروستی حد مراعات شویدی، ترکومه حده چي د انسان عقل کار کولی شي، په قاموس کي ئې د دې شیانو لپاره چي کوم الفاظ موجود وو هغه ټول په کار وړل شویدي. دا د انساني توان وروستۍ پوله ده، لدینه آخوا د مخکي تګ او مزید علم ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو توان او وس نه لري. قانع او په خپل حد پوه انسان همدلته توقف کوي او د وړاندې تگ هاند نه کوي، خو حریص، د ناروغ زړه او دماغ خاوند او شکاك انسان پښې له خپل ټغر نه اوږدې غځوي او د وړاندې تگ سعی او هڅه کوي.

د آیت وروستۍ برخه په څرگنده توگه وايي چې د پاخه علم خاوندان د دې پر ځای چې د متشابهاتو د تأویل هڅه وکړي، توقف کوي او وايي: مونږ ایمان پرې راوړی، ټول زمونږ د رب له لوري دئ.

یو شمېر دوستان د تأویل او تفسیر تر منځ دې توپیر ته متوجه ندي او دیته پام نه کوی چې تأویل تر متشابهاتو پوري خاص دئ، د تأویل لفظ د ټولو آیتونو لپاره ندی استعمال شوي، دوی د همدې غلط تصور له مخې د ډېرو اشتباهاتو مرتکب شویدي، هر چیرته ئې چې داسي آیتونه لیدلي چې مجمل دي، شرحې او تفصیل ته ضرورت لري، مجاز، تمثیل او استعاره پکې په کار وړل شویده، نو مخکې لدینه چې غور وکړي فوراً وايي: دا آیتونه د هر چا لپاره د فهم او پوهې وړ ندی، باید دلته له تأویل نه استفاده وشي!! همدا ډله بیا تأویل په دوو برخو وېشي: یو جائز تأویل او بل ناجایزتأویل، پر همدې وېش په استناد سره وايي چې دا ضروري ده چې یوه ډله علما باید د متشابهاتو په تأویل پوه وي!! څرگنده ده چې دا ډېر کمزوری تصور او بې اساسه استدلال دئ، د آیتونو تفسیر، بیان او تشریح روا او جایز عمل دئ، خو د متشابه آیتونو تأویل د قرآن د حکم په اساس ناوړه عمل دئ.

- د الرسخوان في العلم په هکله باید ووایو چې تر خاصو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو دا مختص کول او داسي ادعا کول چي لدي نه فقط اهل بیت مراد دي، صحیح خبره نده، قرآنکریم د اهل کتاب د یو شمېر علماوو لپاره همدا صیغه په کار وړی ده، هلته چي فرمايي:

**لَكِنْ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُونَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَالْمُقِيمِينَ الصَّلَاةَ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالْمُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أُوْلَئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ أَجْرًا عَظِيمًا ***

النساء: ١٦٢

لکن د دوی راسخین في العلم او مؤمنان پر هغه څه ایمان لري چي پر تا باندي نازل شوي او پر هغه څه هم چي له تانه مخکي نازل شوي، لمونځ کوونکي، زکات ورکوونکي، پر خدای او آخرت ایمان لرونکي، ډېر ژر به دوی ته ستره بدله او اجر ورکړو.

د الرسخوان في العلم صفت تر محدودو او خاصو کسانو پوري مختص کول نه یوازي له قرآنکریم سره توافق نه لري بلکه دا تصور له قرآن سره ټکر کوي.

سره لدې چي د قرآنکریم آیتونه ټول روښانه او مدلول ئې څرګند دئ، الفاظ ئې په ډېر ښکلي او ښایسته انداز کي او پداسي طریقې له یوه بل سره په یوه مزي کي پویل شوي چي هم ئې عمومي مطلب واضح وي او هم د هر لفظ ځانګړی معنی، او مخاطب ئې په ډېره آسانۍ سره درك کولی او درباندي پوهېدلی شي. د آیتونو مفاهیم واضح او هرچاته د فهم وړ دي، که څوك په کوم آیت یا لفظ پوه نشي نو باید مخکي وروسته آیتونو ته مراجعه وکړي تر څو د مطلوب آیت په مفهوم پوه شي. د هر لفظ صحیح او دقیقه معنی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت معلومېدلی شي چي له نورو الفاظو سره ئې رابطه په پام کي ونیول شي، همداراز د آیت دقیق تفسیر هم هغه وخت ممکن دئ چي د آیتونو سیاق او سباق ته جدي توجه وشي.

د تأویل معنی باید د ژبې د کتابونو په ځای په خپله په قرآنکریم کي و لټوو، کېدی شي په عربی کي د دې لفظ لپاره متعددې معناګاني راغلې وي او پدې آیت کي حتماً لدې متعددو معناګانو څخه یوازي یوه مطلوبه وي او هغه مربوطه آیت په خپله راته په ګوته کوي. که د تأویل معنی د قرآنکریم د همدې آیت په متن کي ولټوو نو دا به راته په ډاګه شي چي دلته د تأویل معنی، تفسیر او تشریح نده، بلکه دلته ئې مراد اصلي او اولني حالت ته ګرځول دي، د تشبیه له حالت نه ایستل او لومړني حالت ته اړول، دا د تأویل معنی ده. د مثال په توګه د دې آیت په هکله: "الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى" که ووایو چي دا آیت مونږ ته دا راښیي چي الله تعالی د هر څه مالك او واکدار دئ، ځمکه او آسمان ئې تر حکم لاندي دي، که دلته پدې معنی بسنه ونکړو او ووایو چي عرش څه ته وایي؟ پرعرش د الله تعالی د استواء کیفیت څنګه دئ؟ که پدې لاره لاړ شو نو دا تأویل دئ او دا په واقع کي هغه عمل دئ چي الله تعالی ئې نه خوښوي.

مونږ که په مجاز او استعاره کي پدې مکلف یو چي د الفاظو اصلي معنی وانه خلو، نو په متشابه آیتونو کي خو هیڅ حق او اجازه نه لرو چي د لفظ اصلي معنی واخلو او دا حق نه لرو چي پر ظاهري معنی ئې حمل کړو، په قرآنکریم کي په سلګونو داسي آیتونه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي هیڅ عاقل ئې د الفاظو ظاهري معنی مراد نه بولي، بلکه د تفسیر او بیان لپاره ئې د آیتونو له سیاق او سباق نه استفاده کوي، د مثال په توگه د الله تعالی دا قول چي فرمایي:

**خَتَمَ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ وَعَلَى سَمْعِهِمْ وَعَلَى أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ *** البقره:۷

الله تعالی د دوی پر زړونو او غوږونو مهر وهلی دئ او پر سترگو ئې پرده ده او د دوی لپاره لوی عذاب دئ.

پدې آیت کي د ختم او غشاوه الفاظ نه ښایي په ظاهري معنی حمل شي او مطلب یې هم د ظاهري معنی اخیستل ندي، لدې آیت نه مخکي یاد شوي آیت د دې الفاظو معنی څرگندوی، مخکنی آیت اعلانوي چي د کافرانو گواښل او ایمان ته رابلل گټه نه لري، هغوی په هیڅصورت کي حق ته غاړه نه ږدي، له عقل نه کار نه اخلي، نه د نورو خبره اوري او نه له حوادثو نه عبرت اخلي، د هغوی د ضمیر صفحه زنگ وهلې ده، وجدان ئې خیرن شویدی، د ادراك او پوهې توان او صلاحیت ئې له لاسه ورکړی.

همدا راز دا آیت:

**اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ *** الفاتحه: ٥

خدایه! مونږ ته نېغه لاره راوښیه!

پدې آیت کي هم له صراط او مستقیم نه ظاهري معنی مراد نده، دواړه لفظونه د معنوي مفاهیمو د معرفي کولو او افادی لپاره په کار وړل شویدي، لدینه مخکي ذکر شوي آیت پدې دلالت کوي چي له صراط مستقیم نه مطلب یوازي د الله تعالی عبادت او یوازي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همغه نه د مرستې غوښتل دي.

**صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ *** البقره: ۱۸

کاڼه، گونگیان او ړانده دي او بېرته نه راگرځي.

دلته هم د صم، بکم او عمي له الفاظو نه ظاهري معنی مطلوبه او مراد نده.

**وَمَنْ كَانَ فِي هَذِهِ أَعْمَى فَهُوَ فِي الْآخِرَةِ أَعْمَى وَأَضَلُّ سَبِيلًا***

الاسراء: ۷۲

د آيت وروستی برخه دا په ډاگه کوي چې له ( اعمی ) نه مراد ړوندوالی نه بلکه نا پوهي او گمراهي ده.

که په قرآنکريم کې د ذکر شوو استعارو په هکله دا نده روا چې ظاهري معنی ئې ترې واخيستل شي نو د متشابهاتو په هکله خو په طريقه اولی سره د ظاهري معنی اخيستل جواز نه لري.

حکيم خدای خپل کتاب (قرآنکريم) له هغه باران سره تشبيه کړی چې له آسمان نه راوريږي او هره دره، سيمه، دښته او خوړ د خپل ظرفيت په اندازه ترې خړوبيږي، هره سيمه خپله مناسبه او د خپل ظرفيت برابره برخه ترې اخلي، د لويې دښتې او ارت خوړ برخه زياته او د واړه خوړ برخه کمه، همدا راز مخاطبين هم هر يو د خپل توان او ظرفيت په اندازه له قرآنکريم نه مستفيد کيږي، د عالم او پوه سړي برخه زياته او د بيسواد، نالوستي او امي برخه کمه، هر يو ترې مستفيد کيږي، هيڅ يو ئې له خير او گټې نه بې برخې نه پاتې کيږي، نه بيسواده د بيسوادۍ له امله ترې محروم پاتې کيږي او نه عالم د خپل علم په وجه د قرآن په ټولو مفاهيمو او رموزو احاطه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی شي، هر یو خپله برخه اخلي.

هر قول، کلام او وینا چې دا صفت ونلري هغه ناقص دئ، الهي کلام لدې عیب نه پاك دئ، هغه کلام او وینا چې ټولی او یا یوه برخه ئې یوازي د محدودو افرادو لپاره د فهم وړ وي او د نورو لپاره د ادراك وړ نه وي، هغه ناقص کلام دئ او دا جائز نده چې قرآن ته دا عیب راجع کړو. دا قرآن د حبشي بلال، فارسي سلمان او ابو ذر غفاري لپاره د فهم وړ وو، د هغوی له سویې سره برابر وو، هر یو راغلی، له رسول الله نه ئې د همدې آیتونو د اورېدو له برکته ایمان راوړی، دا په داسي حال کې چې هغوی نه په صرف او نه په نحو پوهېدل، نه ئې د بلاغت علم لوستلی وو او نه ئې له فلسفی، منطق، ریاضي او حکمت سره آشنائې درلوده.

که څوك سوال وکړي چې: د رسول الله صلی الله علیه وسلم امي او نالوستي قوم څنګه پدې قرآن وپوهېدل چې اوس ئې ستاسي فیلسوفان له درك او فهم نه عاجز دي؟ دې سوال ته ځواب لرئ؟

حتماً د دې سوال د توجیه لپاره به دا ووایاست چې همدا آسانه او د هر چا لپاره د فهم وړ قرآن په خپله د مسلمانانو له خوا پداسي مشکل او غامض کتاب بدل شوي چې څوك ئې په مفهوم نشي پوهېدی، همدا مسلمانان دي چې د قرآني الفاظو لپاره ئې له ځانه ظاهر او باطن جوړ کړي او د باطن په معنی پوهېدل ئې په خاصو افرادو پوری تړلی. څرګنده ده چې دا تصور او ادعا حقیقت نه لري، که په رښتیا سره قرآني آیتونو بطن او باطن درلودای نو حتماً به رسول الله او یارانو ئې دا مونږ ته بیان کړي وو، دا باطن او یا بطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ئې په خپله توضيح کړي وو او د هغوکسانو مخه به ئې بنده کړي وه چي اوس راځي او خپلي خبري د آيتونو د باطني معناګانو او بطونو ترنامه لاندي پر خلکو تحميلوي، که قرآنکريم بطن درلودلی نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به حتماً د خپل امت لپاره بيان کړی وو ، په احاديثو کي به ئې وضاحت شوی وو او د هغو کسانو په مخ به ئې ټول ورونه تړلي وی کوم چي د باطن د توضيح په بهانه له اسلام نه ناوړه استفاده کوي!! په احاديثو او د امامانو په څرګندونو کي هيڅ داسي موارد نشته چي د متشابهاتو په تأويل دلالت وکړي، هيچا هم ندي ويلي چي عرش څه ډول دئ، پر عرش د الله تعالی د استواء کيفيت څنګه دئ،استواء، هروله او ديته ورته صفات څه کيفيت لري؟!.. رسول الله صلی‌الله عليه وسلم، يارانو او امامانو د دې ډول صفاتو په هکله هيڅ توضيح او تشريح نده کړې، نو د دې معنی دا ده چي هغوی د متشابهاتو له تأويل نه ځان ساتلی او په خپل قول او عمل سره ئې په دې حقيقت اعتراف کړی چي د متشابهاتو پر تأويل له خدای نه پرته بل څوك نه شي پوهېدی.

بايد په پام کي ولرو چي له اشخاصو سره محبت او د هغوی درناوی د دې سبب نشي چي هغوی د الوهيت مقام ته اوچت کړی شي او له دوی سره د محبت او دوی ته د عقيدت په اساس دا تصور ونکړو چي هغوی هم لکه الله تعالی په هر څه علم لري. واقعيت دا دئ چي د انسان علم د الله تعالی د علم په وړاندي د هغه ځاځکي حيثيت لري چي يوکس ئې د ګوتې په سر له لوی سمندر نه پورته کوي. انسان يوازي په هغه شيانو علم لرلی شي چي ورته ښکاره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا د وحی په واسطه ورته ښودل شوی وي، انسان له ښکاره شیانو نه آخوا په څه ندی خبر او لدې سرې کرښې نه آخوا یوازې هغه شیان هغه هم په نسبي توګه پیژندلی شي چې الله تعالی د وحی پواسطه ورته معرفي کړي وي، قرآنکریم څه ښه فرمایي:

**قُل لاَّ يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ الْغَيْبَ إِلاَّ اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ** * النمل: ٦٥

ووایه: په ځمکه او آسمانونو کې له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهیږي او په دې هم نه پوهیږي چې کله به راژوندی کیږي.

په خواشینۍ سره باید ووایو چې ځینې کسان د "وحی" او "خبر" له لارې په غیبي شیانو پوهېدل له علم غیب سره خلط او ګډوي! د دې دواړو ترمنځ توپیر نه شي کولی، اشتباه کوي او د وحی په ذریعه له ځینو غیبي شیانو نه اطلاع او لدې لارې په پټو شیانو خبرتیا ته علم غیب وایي، د همدې اشتباه په وجه د علم غیب په هکله داسې څه وایي چې د قرآن له صریح او قاطع وینا سره ټکر کوي، له الله تعالی نه پرته بل ته د علم غیب د ثابتولو ناکامه هڅه کوي، پداسې حال کې چې قرآنکریم په پوره صراحت او قاطعیت سره وایي چې له الله تعالی پرته هیڅوك علم غیب نه لري.

- مونږ د اهل سنت او تشیع معتبرو تفاسیرو ته مراجعه کړېده، پدې ټولو تفاسیرو کې مو هیڅ داسې څه ندې موندلې چې پدې دلالت وکړي چې د قرآني آیتونو پوهه تر خاصو افرادو پورې محدوده ده، هیڅ کوم مفسر داسې ندې ویلې چې پدې آیت مونږ نه پوهیږو او د دې آیت په تفسیر یوازې د پاخه علم خاوندان

(c) ketabton.com: The Digital Library



(الراسخون في العلم) پوهېږي.

- که فرضاً دا ومنل شي چي په قرآنکریم کي ربښتيا داسي آیتونه شته چي په مراد او مطلب یی یوازي محدود شمېر کسان پوهېدی شي او دا محدود کسان هم نه اوس او زمونږ په زمانه کي شته او نه به په راتلونکي زمانه کي وي او د تېرو شخصیتونو په اقوالو کي هم د دې آیتونو د مراد په هکله څه نه موندل کېږي، که دا فرضیه ومنو ؛ نو له لاندنیو اشکالاتو سره به مخ شو:

١. دا له الهي حکمت سره تطابق او سمون نه لري. د قرآني آیتونو په اړه دا ذهنیت چي ټول یا ځیني ئې د بشر له فهم نه لوړ دئ، پدې معنا ده چي حکیم خدای د انسان د لارښووني لپاره داسي څه هم رالېږلي چي انسان ورباندي نه پوهېږي!! مگر ممکن ده چي حکیم ذات داسي کار وکړي؟!

٢. پدې سره مو په قرآنکریم باندي دا تور او اتهام لگولی چي (نعوذ بالله من ذلك) په هغه کي ځیني مطالب مبهم، مهمل او غیر قابل استفاده دي، چي مخاطب ورباندي نه پوهېږي او خاصه گټه ترې نشي اخیستي!! دا په ښکاره د قرآن هتك حرمت دئ!! حقیقت دا دئ چي په قرآنکریم کي نه مبهم لفظ شته او نه بې معنی او بې گټې کلمه، نه څه یکي زیات دي او نه څه کم، قرآن له اوله تر آخره حق دئ او د باطل لپاره پکي هیڅ ځای نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قاطعیت او تسامح

اما د جزم او قاطعیت په اړه چي ځیني ئې نفی کوي او په ځای ئې د تساهل او تسامح سپارښتنه کوي او ځیني نور لدینه مخکي ځي او وايي: حق څو مخونه او متعددې جلوې لري، هرڅوك له خاصي زاويې نه حق ته ګوري او ځانګړی انتباه ترې اخلي، د دوی په اند نه ښائي څوك له حق نه د يوې خاصې انګېرني په اساس محکوم شي او اعتراض پرې وشي؛ ځکه دا نده معلومه چي کوم تعبير او انتباه حق ته نږدې، له نورو نه قوي او صحيح ده او حقيقت ئې تر نورو ښه انځور کړي، دوی وايي: ټول انتباهات او انګېرني نسبي وي، له حق نه مختلف تعبيرونه او د هغه په اړه متعدد نظريات بايد نسبي وبلل شي او له همدې زاويې نه وڅېړل شي، لازمه نده دکوم مذهب او نظريې په هکله له تعصب نه کار واخيستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، حق باید یوازي په یوه مذهب کې منحصر نه کړی شي، په کار ده پدې هکله قاطعیت او پرېکنده حکم یوی خوا ته کېښودل شي!!

پدې هکله باید ووایو: د "جزم گرائی" اصطلاح په ایران کې راپیداشوې ده، دا د نوي ایراني فرهنگ برخه ده چې د مذهبي پلورلیزم (تعدد) د جواز او عدم جواز په هکله له بحثونو او مناقشو نه زېږېدلی او د مطبوعاتو بازار ته وړاندې شوې، متأسفانه ځینې کسان دا اصطلاح هر چیرته او ډېر بیځایه کاروي او له قاطعیت نه انکار او د جازم اعتقاد نفي حتی په مهمو اعتقادي مسائلو کې هم ضروري گڼي، هر ځای او هرچیرته ئې نفی کوي!!

د قاطعیت او جازم حکم له مخالفینو نه سوال کوو: که مونږ ستاسې نظر ومنو، له قاطعیت او جزم نه لاس په سر شو، نو په ځای ئې کوم مسلك خپل کړو، گمان، حدس او تخمین؟! آیا په اعتقادي مسائلو کې هم قاطعیت پرېږدو او د گمان لاره ونیسو؟!

مونږ خو پدې باور لرو چې حق تل یو وي، تعدد او څووالي نه قبلوي، د حق ښې او کیڼ اړخ ته له ضلال او باطل نه پرته بل څه نه وي،

**فَمَا ذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلا الضلَلُ**

نو له حق نه وروسته به له ضلال نه پرته بل څه وي؟

حق د هغې نېغې لارې په شان دئ چې یوې او بلې خوا ته ئې دیوالونه وي، ښې او کیڼې خوا ته ئې ورونه وي چې هر یو ئې د باطل په لور پرانستل شوی وي. د حق په اړه عقیده او باور باید داسې قاطع وي لکه دوه جمع دوه مساوي څلور، دلته له څلورو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته بل هر عدد غلط دئ او که وویل شي ان شاء الله دوه جمع دوه ځلور کېږي، نو دا هم یوه غلطي ده، ځکه دلته ان شاء الله بې ځایه کارول شوی، قرآن امر کوي ان شاء الله هغه وخت وکاروئ کله چې غواړئ په راتلونکي وخت کي کوم کار ترسره کړئ او په کومې وعدې وفا وکړئ. پداسي ځایونو کي لکه روغ اوسې ان شاءالله، خدای دې برکت درکړي ان شاءالله، داسي وشول ان شاءالله، داسي ئې وکړل ان شاءالله، پدې مواردو کي دا لفظ غلط او بې ځایه استعمال شویدی، که ووایي ۲+۲=۴ والله اعلم بالصواب، نو بیا دې هم اشتباه کړیده او دا جمله دې بې ځایه استعمال کړیده، دا جمله هغه وخت باید وکارول شي چې خبره غیر یقیني او په گمان مبني وي. کله چې قرآنکریم تلاوت کوې نو باید هره کلمه ئې وروستۍ خبره وشمېرې او پدې باور ولرې چې پدې الفاظو کي د شك، تردید ، گمان او ظن لپاره ځای نشته، دلته قاطع اوسه، په جزم خبره وکړه، غوځ او پرېکنده نظر ولره، د دې پروا مه لره چې ایراني پلورلیستان به دې په جزم پالنه تورن کړي!! د تأسف ځای دئ چې د پلورلیزم کلمه هم لکه د جزم پالني او قاطعیت په شان د "عوامو" په لاس کي پرېوتې او مظلومه واقع شوې ده، پلورلیزم یعنی دا چې ټولنه دې د بېلابېلو آراوو د تجلی او تبارز ډگر وي او د باورونو او افکارو تعدد دې ومنلی شي، که دا لفظ پدې معنی واخیستل شي چې په یوه ټولنه کي دې د مختلفو او متعددو آراوو او نظریاتو تبارز ته اجازه ورکړی شي، باید یوه ډله خپل نظر په زور سره پر نورو تحمیل نه کړي او د مختلفو مذاهبو پیروان باید یو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزغمي، نو پدې صورت کي د پلورليزم په اړه دې تعبير کي څه اشکال نشته؛ خو که لدې لفظ نه دا مفهوم واخيستل شي چي حق يو نه بلکه متعدد اشکال لري، حق د توزيع وړ دئ، هيڅ دين مطلقاً حق ندی او هيڅ مذهب مطلقاً باطل ندی، حق او باطل نسبي دي، د هيڅ دين پلويان حق نه لري د نورو اديانو پر پلويانو اعتراض وکړي او لاره ئې ناسمه وګڼي، نه دي له يوه بل سره مناقشه او مباحثه وي او نه ټکر او تصادم، هرڅوك دي خپلي خوښي او خپلي مخي ته پرېښودی شي او د هر چا مذهب او مسلك دې روغ او محترم وګڼلي شي، نو د پلورليزم دا تعبير نه سم دئ او نه د منلو. د پلورليزم صحيح تعبير دا دئ چي: پرېږده مختلف عقايد او نظريات راڅرګند شي، ميدان ته راووځي، اعتقادات او تصورات رابرسيره شي، د يوه بل په وړاندي ودرېږي، تر څو حق ښکاره او راڅرګند شي او باطل افشاء او رسوا شي او له مخ نه ئې غولونکي پردې راپريوځي.

زمونږ باور دا دئ چي حقيقت هغه وخت ښه څرګنديدای شي چي د خپل ضد او نقيض خوا ته کيښودل شي، له هغه سره پرتله او مقايسه شي، د حق پلويان له مناقشاتو او د نظرياتو له اظهار نه وېره نه لري، بلکه هغوی دا عمل ضروري شمېري او په خلاصه تندې هرکلی ورته وايي، دا د باطل خاصيت دئ چي "يوازي" او په "تيارو" کي خوښ وي او حريف سره له مخامخ کېدو او له مناقشې او مقابلې نه وېره لري، حقيقت د مؤمن ورکه متاع ده، مؤمن د هرې خبري د اورېدلو حوصله لري، هره خبره په پوره زغم او پراخه سينه اورېدلی شي، خبري ټولي اوري خو يوازي حق مني او حق خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبلوي

**الَّذينَ يَسْتَمعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبعُونَ أَحْسَنَهُ**

مگر نه گوري چي قرآنکريم په اعتقادي مسائلو کي د بحث په وخت د نرمۍ امر کوي، د قهر او غصې اسلوب نفی کوي او فرمايي چي نبايد حق دين په جبر او زور سره په نورو وتپل شي، فرمايي:

**لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنْ الغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدْ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انفصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ *** البقره: ۲۵۶

په دين کي اکراه نشته، "په دين سره" هدايت له ضلالت نه ثرگند شوي، نو څوک چي پر طاغوت کافر شو او په خدای ئې ايمان راووړ، هغه پداسي کړۍ منگولی لگولې دي چي شلېدل ئې نشته او الله تعالی اورېدونکی پوه ذات دئ.

راشئ لږ ديته ځير شو چي قرآنکريم د هغو کسانو په ځواب کي له کوم اسلوب نه کار اخيستی چي له الله او آخرت نه ئې انکار کولو، جنت او دوزخ ئې نه منلو، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ئې د مجنون او ساحر خطاب کولو او قرآن دا د الله کتاب ئې اساطير الاولين گڼلو؟ د دوی د سپکو سپورو خبرو او ناروا تبليغاتو په ځواب کي د شديد او قهرجن عکس العمل توصيه کوي که د معقول استدلال، په سړه سينه د مخاطب د قانع کولو او پوښتنو ته ئې د مقنع دلايلو په وړاندي کولو ټينگار کوي؟ د التکوير د مبارکي سورې لاندیني آيتونه د دې پوره وضاحت کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَمَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُونٍ * وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ * وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ * وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ * فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ * إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ * لِمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَقِيمَ *** التكوير: ۲۲-۲۸

ستاسي ملگری مجنون ندی، په څرگند افق کي ئې هغه لیدلی او هغه پر غیب بخیل ندی او خبری ئې د رټل شوي شیطان خبری ندی، نو چیرته ځئ؟ دا خو عالمیانو ته له پند او یادوني پرته بل څه ندی، د تاسو هغه چا ته چي غواړي په سمه لاره روان شي.

پوهېږئ چي د دې اسلوب د غوره کولو توصیه د چا لخوا شوې؟ او دا په پېرزویني او زړه سوي ولاړ ځواب د چا له خوا ورکړي شوی؟ دا د قهار او مالك الملك خدای له لوري، د هغه خدای له خوا چي د مرگ او ژوند فیصلې ورسره دي، د رزق او روزي د ټولو خزانو مالك او واکدار دئ، هر څه چي وغواړي، کولی ئې شي، دا د هغه لوی او عظیم خدای ځواب دئ، هغو ذلیلو او پوچ خولو کفارو ته چي حق نه مني، له حق سره دښمني کوي، خدای او رسول نه مني، د همدې کفارو او حق دښمنه افرادو په ځواب کي د دې پر ځای چي له خپل قهر او غضب نه کار واخلي او خپل عذاب وروباندي نازل کړي، برعکس له ډېري نرمۍ او مهربانۍ نه کار اخلي، په ډېره مهربانۍ سره ځواب ورکوي او رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی ملگری شمېري!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوم مذهب حق دئ؟

که څوك له مونږ نه سوال وکړي چي له اسلامي مذاهبو نه کوم یو حق او له نورو نه غوره دئ؟

په ځواب کي ورته وایو: هغه مذهب حق او غوره دئ چي د لاندي اساسي خبرو په اړه تر نورو مخکي وي:

- په الله تعالی ایمان او په الوهیت او ربوبیت کي د شرك نفی.
- په آخرت او له مرگ نه وروسته ژوند باندي ایمان.
- په رسولانو علیهم السلام باندي ایمان او پدې چي محمد علیه السلام وروستی پیغمبر دئ.
- په کتابونو ایمان او پدې چي قرآنکریم د ټولو آسماني کتابونو وروستی او له ټولو نه غوره او جامع کتاب دئ.
- په ملائکو او قضاء او قدر باندي ایمان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدی شي ووايي: ټول اسلامي مذاهب په دې اصولو ایمان لري، ستاسي ځواب مجمل دئ، غواړو تر ټولو غوره مذهب په ښه او دقیقه توګه وپېژنو!!

وايو: که دا خبره د ټولو اسلامي مذاهبو په رابطه رښتیا وي او صدق پرې وکړي، نو بیا خو ټول حق دي او تر ټولو غوره ئې هغه مذهب دئ چي قرآنکریم او احادیث ئې د خپلي اعتقادي او فقهي مبانیو اصل او مبنی ګرځولی وي او پدې ټینګار کوي چي ټول اختلافات باید الله او د ده رسول ته راجع شي او د الله کتاب او د پیغمبر سنت باید د هرڅه لپاره وروستي معیار او ملاك ومنلی شي. او خلکو ته په صریح الفاظو وايي: که زمونږ کوم قول مو د الله تعالی او رسول الله له قول نه مخالف وموندو، نو زمونږ قول په دیوال ووهئ.

بې له شکه چي پدې به هم قانع نشي او تر دې به د لازیات څرګند او واضح ځواب انتظار کوي، ځکه دوی له مذهبي اختلافاتو او د دې اختلافاتو له بدو نتائجو نه، چي امت ئې ټوټې ټوټې کړ، د دښمن په وړاندي ئې تضعیف کړ، په داخلي نښتو او شخړو ئې مبتلا کړ، د نړۍ د قیادت او مشرتابه له هغه پروني لوړ مقام نه ئې محروم او له ذلت سره ئې مخامخ کړ، دوی لدې حالت نه ستومانه شوي او د دې اختلافاتو لپاره د حل لار لټوي.

مونږ ورته وايو: د مذاهبو او دیني مشرانو تر منځ د رأيې اختلافات یو مشروع، معقول او په تحقیق ولاړ اختلاف وو، هغه مخور علماء چي مونږ ئې په نظریاتو استدلول کوو، هغوی یو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ندي تکفیر کړي، بلکه هر یوه د بل رائې ته احترام درلود ، اکثراً ئې اختلاف په فرعي مسائلو کي وو ، نه په اصولو کي، په دې فرعي امورو کي د کمزورې او ناسمې رأي په متابعت سره څوك د اسلام له دائرې څخه نه وځي. تر څو پوري چي زمونږ مشرانو سلفو د حق پېژندلو پخاطر قرآن او احادیثو ته رجوع کوله، پدې هکله ئې څیړني کولې، یو له بل سره ئې مناقشې کولې او د خپلو اختلافاتو او نظریاتو د تللو لپاره ئې قرآن او حدیث معیار بالو ، نو یوه بل ته ئې احترام درلود ، حق ته ئې غاړه ایښودله، یو بل ته ئې تنازل کاوو ، هر نظر به چي حق وو هغه به ټولو منو ، هیڅ یوه به د خپل نظر لپاره تعصب نه کاوو ، ټولو دا منلې وه چه قرآن او احادیث اصلي معیار او تر ټولو لوړه مرجع ده، نو پدې توانیدل چي ډېري پېچلې قضایا په آسانۍ حل کړي، ژر په خپلو کي توافق وکړي، د اصوب او ترټولو غوره رأي په وړاندي له خپلي رأي تېر شي او د خاصې رأي په هکله تعصب ونکړي.

خو کله چي مذهب د سیاست په خدمت کي ولوید او فکري اختلافات په سیاسي اختلافاتو بدل شول، نو هرې ډلې د خپل موقعیت او دریځ د اثبات او د مقابل لوري د کړنلاري او دریځ د غلط ثابتولو لپاره ئې له مذهبي توجیهاتو نه کار واخیست، هرې ډلې هڅه کوله حق یوازې تر ځان پوري محدود او په خپلې تګلارې او مذهب کي منحصر کړي او نور ټول د حق له دایرې نه دباندي وګڼي او له نورو سره جنګ او مقابلې ته مذهبي رنګ ورکړي او په نورو د تېري لپاره مذهبي توجیه او جواز وړاندي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آيا لدې خبر نه یاست چې امام ابو حنيفه (رح) له امام جعفر صادق نه زده کړه کړیده او له ده نه وروسته امامانو بیا هغه خپل استاد شمېري؟ امام ابو حنيفه د هغو کسانو په هکله چې لده سره د رأي اختلاف لري وایي: مونږ هغه کسان نه تکفیروو چې قبله ئې له مونږ سره یوه ده.

آیا نه وینئ چې علي رضي الله عنه له ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم سره بیعت کوي، په لمانځه کې پدوی پسې اقتدا کوي او له هر یوه سره تر پایه د مشاور په حیث کار کوي او په هغه ورځ چې باغیان د عثمان رضي الله عنه په کور حمله کوي، علي رضي الله عنه خپلو زامنو حسن او حسین رضي الله عنهما ته امر کوي چې لاړ شي او دواړه په خپلو تورو سره له عثمان رضي الله عنه نه دفاع وکړي، د باغیانو په مقابل کې د هغه مرسته وکړي او د کور په وره کې ئې د مسلح محافظ دنده ترسره کړي.

که مونږ د دې لویو امامانو پلویان او په مذهبي چارو کې د دوی تقلید کوو او غواړو د دوی په پل گام کېږدو نو ولې او په کوم دلیل په خپل مسلمان ورور په فرعي مسائلو کې د رأيې د اختلاف له امله د کفر ټاپه وهو؟ څه راباندې شوي چې د تعصب په رنځ اخته شوي یو؟ او ولې دومره په دښمنۍ کې لویدلي یو چې له مسلمان سره جنگ له کفارو او مشرکینو سره تر جنگ نه د زیات اجر مستحق گڼو؟! آیا کوم امام او مذهبي مشر د دا ډول تعصب او ناروا دښمنۍ د جواز حکم کړی؟!

احتمال لري پوښتنه وشي چې که داسي ده نو په صدر اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د مسلمانو تر منځ د جګړو لپاره څه توجيه وړاندي کولی شئ؟

وايو: مونږ پدې اړه همغه څه وايو چي قرآنکريم ويلي:

**تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ *** البقره: ۱٤

دا يو امت وو چي تېر شو، د هغوی لپاره د هغوی د کړو جزا ده او تاسو ته د خپل عمل نتيجه او له تاسو نه د دوی د عمل په هکله پوښتنه نه کېږي.

مونږ د هغوی د اعمالو په هکله نه پوښتل کېږو، له مونږ نه د خپلو عملونو سوال کېږي. دا دئ د پخوانيو مؤمنانو په هکله زمونږ نظر، مونږ د هغوی نېکي بيانوو او نور ديته رابولو چي په ښيګڼه او خير کي د هغوی په لاره لاړ شي، د هغوی تقليد وکړي او د هغوی د اشتباهاتو او غلطيو د بخښني دعا ورته کوو.

دا مهمه او ضروري نده چي د هغوی د اختلافاتو په هکله څېړنه وکړو، د اختلافاتو عوامل ئې وپېژنو، په حقيقت ئې ځان پوه کړو او بيا حکم صادر کړو او د هغوی اختلافات د مسلمانانو تر منځ د اختلاف او بېلتون سبب وګرځوو!! اصلي او ضروري مسئله دا ده چي امت له تعصباتو نه وژغورو، له مذهبي تعصباتو نه نجات ورکړو او ټول په يوه ليکه کي راټول کړو.

څومره د افسوس خبره ده چي يو مسلمان بل هغه مسلمان تکفيروي، د فرعي مسائلو په سر د رأې د اختلاف له امله خپل هغه ورور تکفيروي چي په الله تعالی، رسول (ص)، قرآن، آخرت، ملائکو، قضاء او قدر ايمان لري، د همده قبلې ته لمونځ کوي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همده په شان رکوع او سجده کوي، ډېر د افسوس ځای دئ چي د ډېرو ورو امورو لکه په لمانځه کي د لاسونو د بندولو او نه بندولو، پورته کولو او نه پورته کولو له امله یو پر بل د کفر ټاپې ولګوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

قولوا لا اله الا الله تفلحوا. رواه احمد

لا اله الا الله ووائی چي نجات ومومئ او بریالی شئ.

دا د پیغمبر علیه السلام لاره او حکم او دا د مسلمانانو تنګ نظري او جاهلانه دریځ!! راځئ خپل اعمال د اصحابو رضي الله عنهم د اعمالو سره پرتله کړو، ته به وائې چي علي رضي الله عنه له ابوبکر او عمر او عثمان رضي الله عنهم سره اختلاف درلود خو عمر رضي الله عنه فرمایي: که علي رضي الله عنه او د هغه مشورې نه وی نو عمر رضي الله عنه به هلاك شوی وی.

آیا علي رضي الله عنه له د وو لسیزو نه زیات د ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم خلافت ته غاړه نه وه ایښې؟ په هر یوه پسې ئې په لمانځه کي اقتدا نه کوله؟ آیا له ټولو سره ئې بیعت نه وو کړی؟ او له هر یوه سره ئې مرسته او ملګرتیا نه کوله؟

که دا ومنو چي علي رضي الله عنه له دریو نورو یارانو سره اختلاف درلود؛ خو اختلاف ئې پټ ساتلی وو، نو آیا له ده سره د محبت او د ده د متابعت تقاضا دا نه ده چي مونږ هم خپل قهر پټ وساتو، له صبر او زغم نه کار واخلو، خپل مخالفت علني او ښکاره نه کړو، یو د بل په خلاف له اقداماتو نه ځان وساتو، د کفر فتواوی صادرې نه کړو؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهل سنت په داخلي جګړو کي د علي رضي الله عنه عمل د همدې (داخلي اختلافاتو) برخي په فقهي امورو او احکامو کي د اصل په توګه منلی دئ او په هغه حدیث استناد کوي چي له ده څخه روایت شوی دئ، علي رضي الله عنه د جمل په جګړه کي اعلانوي:

د جنګ له ډګر نه تښتیدلي خلك مه تعقیبوئ، بندیان مه وژنئ او پر ټپیانو حمله مه کوئ، چا چي وسله کیښوده هغه ته پناه ورکړئ، د خلکو کورونو ته مه ننوزئ، د ښځو حرمت ته درناوی وکړئ، ښځو ته لاسونه مه اوږدوئ، حتی که ښکنځلې درته وکړي هم، یو شمېر جنګیالانو وویل: دښمنان اود هغوی ښځی او اولادونه باید غلامان ونیول شي، علي رضي الله عنه ورته په قهر شو اوئې فرمایل: له تاسي نه کوم یو دا جرأت کولی او دا منلی شي چي ام المؤمنین عایشه رضي الله عنها ئې په برخه ورسېږي؟!!

هغه شخص هیڅ لوی او مهم شخص ندی چي د اصحابو رضي الله عنهم اختلافات لوی کړي او د مسلمانانو د افتراق او بېلتون وسیله ترې جوړه کړي، لوی او عاقل شخص هغه دئ چي د مسلمانانو تر منځ د وحدت او یووالي لاري ولټوي، د امت په نفاق او شقاق اوښکي تویي کړي او مسلمانانو ته بلنه ورکړي چي سره یو شي او ورته ووایي چي تاسي ورونه یاستئ، تاسو د یوه جسد حیثیت لرئ، د یوه خدای بندګان، د یوه رسول او یوه کتاب پیروان او د یوې قبلې خاوندان یاستئ، اختلافات یوې خوا ته پرېږدئ، تعصب لیری وغورځوئ، سره یو شئ، یو د بل خوا ته ودرېږئ، یو ځای لمونځ ادا کړئ، یو په بل پسې اقتداء وکړئ، پروا نه کوي که

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو لاس ترلی او بل خلاص لاسونه په لمانځه ودرېږي، ټول خپل قوت د دښمن خوا ته متوجه کړئ او په یوه غږ د حق دښمنه عناصرو مقابله وکړئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**لاَ تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤمِنُوا. وَلاَ تُؤمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا.**

ترهغې به جنت ته داخل نشئ چي ایمان مو نه وي راوړئ او تر هغې به مؤمنان نشئ تر څو مو چي یو له بل سره مینه او محبت نه وي کړئ.

قرآنکریم فرمایي:

**مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ *** الفتح: ۲۹

محمد چي د الله رسول دئ او هغه کسان چي له ده سره دي پر کافرانو شدید او په خپل منځ کي رحم کوونکي دي.

یوه ورځ د افغانانو په یوې غونډه کي یوه عالم د خپلو خبرو په پای کي د دعا لاسونه پورته کړل او په ډېر سوز او انهماك سره ئې وویل: خدایه! په خپل عظمت او جلال سره د هغو کسانو لاسونه او قلمونه مات کړه چي د مسلمانانو ترمنځ د اختلافاتو باعث کېږي!! د غونډې په پای کي د ماښام د لمانځه وخت شو، ومې کتل چي ځیني یوې خوا ته یو ځای شول او په لمانځه ودرېدل او ځیني بلي خوا ته سره غونډ شول او بېل ئې لمونځ وکړ، کله چي هغه عالم دعا کوله وېرېدم چي هسي نه همدا اوس ډېر لاسونه او قلمونه مات نشي؛ خو له دعا نه لږ وروسته مي ولیدل چي سره بېل شول او حتی د لمانځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره هم سره یوځای نشول!! الله تعالی دې پر مونږ رحم وکړي، له دې دردونکي حالت نه دې مسلمانان وژغوري او دا توان او جسارت دې ورپه برخه کړي چي د مسلمانانو تر منځ د بېلتون ټول دیوالونه ونړوي، د تعصب پردې څېرې کړي، په لمانځه، جهاد او سیاست کي سره یو شو او له شخص پالني نه خدای پالني، له مذهب پالني نه دین پالني، له فروعاتو نه اصولو ته، له مسلمانانو سره له دښمنۍ نه د اسلام له دښمنانو سره دښمنۍ ته لاړ شو.

د مذهبي اختلافاتو اور ته یا دښمنان لمن وهي او یا بدغرضه او سوء علماء.

مونږ دوه ډوله عالمان لرو: یوه ډله مؤمن او حق پالونکي چي تل د حق په لټه کي وي، د حق خبره کوي او د ټولي دنیا د مخالفت پروا نه کوي، دوهمه ډله هغه عالمان دي چي د خلکو خوښي لټوي که څه هم د الله تعالی د قهر او ناخوښۍ په بیه وي، گمان کوي چي انسانان روزې ورکوي او د دې لپاره چي معامله ئې خرابه نشي، د خلکو د سلیقې خلاف خبري نه کوي، د خلکو په منځ کي د خورو او مروجو خرافاتو په خلاف غږ نه اوچتوي، څه چي خلکو غوره کړي وي دوی همغه ورته توجیه کوي، حق پټوي او د خلکو ناروا غوښتني تائیدوی او د اثبات لپاره ئې مذهبي دلایل او توجیهات وړاندي کوي!! د امت زیاتره مشکلات او غمونه د همدې ډلي علماوو له لاسه راولاړ شویدي.

زه دا نه وایم چي مذهب پرېږده، بلکه دا وایم چي حق یوازي په خپل مذهب پوري محدود او منحصر مه شمېره، د فرعي اختلاف له

(c) ketabton.com: The Digital Library



امله پر نورو د کفر ټاپې مه وهه، تعصب مه کوه، د مسلمانانو د وحدت او یووالي هڅې کوه او هر مسلمان خپل ورور وشمېره.

د مذهبي اختلافاتو د له مینځه وړلو او د مسلمانانو تر منځ د یووالي په لار کې تر ټولو مهم گام دادی چې: ټول دیته راوبولو چې قرآنکریم د ټولو اختلافاتو د حل او فصل یوازینی مرجع ومني، قرآنکریم د مسلمانانو د وحدت راز او د ټولو مناقشاتو او اختلافاتو د حل معیار وشمېري، لکه څرنگه چې قرآن حکم کوي هر وخت او په هره مسئله کې چې اختلاف پیدا کېږي باید قرآن ته مراجعه وشي او د قرآنکریم فیصله وروستۍ فیصله وشمېرو او عمل ورباندي وکړو. قرآنکریم زمونږ د هر مشکل د حل لپاره لارښووني لري، زمونږ هرې پوښتني ته بشپړ ځواب راکوي، مونږ ایمان ورباندي لرو باید فیصلې ئې هم ومنو.

شایدپوښتنه وشي چې له قرآنکریم نه د لیری والي له امله مسلمانان داسې حالت ته رسېدلي چې اوس همدا قرآن چې باید د وحدت رمز او د فیصلو معیار وي، د اختلاف سبب جوړ شوی، هرڅوك او هره ډله بېل او ځانگړی تعبیر ترې لري او د همدې قرآني آیتونو د تفسیر په هکله اختلافات د فقهي او فکري اختلافاتو عامل او سبب جوړشوي!!

هو، دا یو تریخ واقعیت دئ، باید د دې رنځ علاج ولټول شي، فکر کوم دا رنځ او مشکل داسې حلولی شو چې: اسلامي نهضتونه یا کوم اسلامي هیواد ابتکار وکړي او په قرآنکریم، تفسیر او حدیث پوه غښتلي عالمان راغونډ کړي، له ټولو اسلامي گوندونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مذهبي ډلو نه غوښتنه وکړي چې مشهور او متقي علماء ورمعرفي کړي، بیا دا علماء د علمي څېړنو په رڼا کې او له ټولو معتبرو تفاسیرو نه په استفادې سره، د قرآنکریم یو جامع تفسیر تهیه او تدوین کړي او همدا تفسیر د ټولو مسلمانانو او ټولو مذاهبو د پلویانو لپاره یوازنی د اعتبار وړ تفسیر اعلان شي او په کافي اندازه نسخې ئې خپرې او چاپ شي، پخوانیو مفسرینو ته له زیات احترام او درناوي سره سره ټول پخواني تفسیرونه یوې خواته غونډ شي او نور ئې د چاپ اجازه ورنکړل شي، لکه څرنګه چې عثمان رضي الله عنه د اختلافاتو د مخنیوی په خاطر د قرآنکریم متعددې نسخې راغونډې کړې، یوه نسخه ئې ترې انتخاب کړه او نورې ئې یوې خوا ته کړې، همداسې یو کار باید د تفاسیرو په هکله هم تر سره شي.

د علماوو همدا ټولنه په دې هم باید توافق وکړي چې نور باید هیڅوک هم په ځانګړې او شخصي توګه د قرآنکریم تفسیر ونکړي، تفسیر او په تفسیر کې تجدید او له سره کتنه باید د همدې ټولنې وظیفه وبلل شي. د تفاسیرو له یووالي نه وروسته د ټولو مذاهبو منل شوي او ثقه روایات باید د همدې تفسیر په رڼا کې وڅېړل شي او همدا مشترک تفسیر معیار وبلل شي، هر رأي او روایت چې له دې تفسیر سره سمون ونلري، هغه باید یوې خواته شي او له اعتبار نه ولوېږي. او پدې ترتیب ټول هغه کمزوري، ضعیف او موضوعي روایات حذف شي چې د مسلمانانو اکثر اختلافات ترې راولاړ شوي، ټول روایات باید د قرآن په رڼا کې چاڼ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کار نه یوازي د مسلمانانو ترمنځ اختلافات له مینځه وړي، ټول د وحدت په مزي تړي، بلکه په ټوله اسلامي نړۍ کي د ټولنیز، سیاسي او اقتصادي نظامونو د یووالي عوامل هم برابروي.

نن ورځ د اسلامي امت په منځ کي د متعددو مذهبي ډلو د موجودیت ترڅنګ له هندوی‌زم، بودایزم، اور لمانځونکو او بت لمانځونکو نه متأثرې ډلي هم وینو، همداراز اسلامي نړۍ په سیاسي، اقتصادي او اجتماعي ډګرونو کي هم د تشتت او تعدد ښکار ده او په اسلامي دنیا کي مختلف او متناقض نظامونه رائج دي چي زیاتره ئې حتی د اسلام سره څرګند تضاد لري.

هر زړه سواند محلل چي د امت له مشکلاتو نه خبر دئ پدې باور لري چي: د دې اختلافاتو اصلي عامل د واحد تعلیمي نظام او نصاب نشتوالي او د اسلامي اصولو په اړه د نظریاتو اختلاف دئ. د تفسیر په اړه د نظریاتو د توحید او د یوه جامع، شامل او منل شوي تفسیر د تدوین له لاري کولی شو دا ښېلتون او اختلاف ختم کړو او امت له خطرناکو عواقبو نه وژغورو.

اسلامي امت داسي اتلانو ته سترګي په لار دئ چي له دې بدې ورځي، ذلت او خوارۍ نه د نجات لپاره قیام وکړي او د مسلمانانو د تېر برم د اعادې لپاره میدان ته شي، د امت د وحدت او یووالي لاري ولټوي او دا خوار امت بېرته د تېر برم لوړې څوکي ته اوچت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم فصل

# زمونږ عقیده

## سریزه

الحمدلله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی و بعد:

په افغانستان کې اسلامي جهاد د امت د ویښتابه او د جهاد د فریضې د احیا سبب شو، له امت نه ئې د حقارت، کمزورۍ، ذلت او خوارۍ احساس لرې کړ او په ځای ئې د عزت، قوت، سرلوړۍ او عظمت احساس ورکړ، له امت سره ئې د روښانه مستقبل او تېر برم د بېرته لاسته راوړلو هیلې راپیدا کړې. د اسلام دښمنان چې په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه د امت پر برخلیك مسلط دي، لوی اسلامي هیواد ئې په وړو وړو محکومو او نورو ته په هر څه کې اړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوټو وېشلی، خپله بقاء او پر اسلامي نړۍ د تسلط دوام له اسلام نه د مسلمانانو په لرې والي او تفرق او تمزق کي لټوي، د جهاد احیاء او د اسلام لور ته د بېرته راګرځیدو او عودت خوځښت د ځان لپاره لوی خطر ګڼي، دوی له پیل نه د جهاد له پایلو او د مجاهدینو په لاس د یوه اسلامي دولت له تأسیس نه ډېر سخته وېره او تشویش درلود، د مجاهدینو په وړاندي د روسي ځواکونو له ماتې نه وروسته، سمدلاسه د کمونیستي امپراطورۍ زوال پیل شو، دا هغه امپراطوري وه چي د جهاد له پیل نه مخکي ئې ټوله دنیا ګواښله، ټول ترې وېرېدل او د هغې مخي ته د ودرېدو جرأت ئې نه درلود، د دې جهاد په نتیجه کي د دغې ځواکمني او وحشي امپراطورۍ سقوط او زوال د دښمنانو وېره او پریشاني نوره هم زیاته کړه. مونږ د جهاد له لومړیو ورځو نه د دښمن له توطئو سره مخامخ وو، د وخت په تېرېدو سره دا توطئې تشدید او زیاتیدلی، دښمنانو د متعددو ډلو جوړولو، د فکري او عقیدتي اختلافاتو د رابرسیره کولو او بیا دا ډول اختلافات په داخلي جنګونو د بدلولو لپاره له هیڅ جنایت او کوشش نه ډډه ونکړه. دا توطئې او مداخلې که څه هم مجاهدین ئې له مشکلاتو سره مخ کړې وو خو دښمنان پدې ونه توانیدل چي د جهاد د بري مخه ډب کړي. د دښمنانو له خوا د راولاړ شوو مشکلاتو له جملې نه یو هم د داسي یوی ډلی جوړول وو چي هغې ته ورته ډلي په نورو اسلامي هیوادونو کي هم د اصیل اسلامي نهضت د مقابلې لپاره رامنځته شوې دي. لدینه هدف دا دئ چي مسلمانان په فرعي مسائلو مصروف شي، فرعي فقهي مسائل ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره مشغول کړي چي اساسي مسائل لکه د طاغوتي نظامونو په ضد جهاد او د مفاسدو او مظالمو مقابله، هیره کړي او په فرعي اختلافي مسائلو کي هومره غرق شي چي اساسي مسائلو ته ئې نه پام شي او نه ورته فرصت ومومي او د دې وخت په لاس ورنشي چي له پردیو نه د آزادۍ، د اسلامي حکومت د قیام او اسلام ته د خلکو د بلني په لاره کي مؤثر او لازم اقدامات وکړي. دا ډله چي یوه خاصه منبع ئې جوړوي، وده ورکوي او وسایل او امکانات ورته تهیه کوي، همدې ډلي مونږ ته هم مشکلات راولاړ کړل او هغه داسي چي د دې ډلی غړي چي له هر چا سره مخامخ شي نو ورته وائي: د مذهب پیروي شرك دئ!! د مذاهبو امامان لکه بتان او اصنام دي!! چي پیروان ئې د دوی عبادت کوي!! له هرچا نه تپوس کوي چي ووایه پرعرش د الله تعالی د استوی په هکله څه نظرلرې؟ د الله تعالی د ید ، قدم، عین، سمع، مجئ، اتیان او نزول په رابطه څه عقیده لری؟ او څه نور مسائل لکه رفع الیدین (په لمانځه کي د لاسونو پورته کول) آمین بالجهر، په امام پسې قرائت او داسي نوری مسئلی!! پداسي طریقی سره مطرح کوي چي د خلکو ترمنځ د اختلافاتو سبب گرځي، مذهبي تعصباتو ته لمن وهي او بالآخره خبره د یوه بل تکفیر او د یوه بل په خلاف د فتواگانو د صادرولو مرحلې ته رسوي. نه مي غوښتل د داسي مسائلو په اړه څه ولیکم او له اساسي مسائلو لکه جهاد او دعوت نه دیخوا ته توجه واړوم او د خپل فرصت یوه برخه دیته وقف او ځانگړې کړم او څه ولیکم، په دې هکله مي موجود بې شماره کتابونه کافي بلل، خو ومو لیدل چي قضیه ډېره جدي ده، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مسائلو د مطرح کولو ترشا سیاسي اهداف پراته دي، دښمنان غواړي لدې ډلې او د هغې له خوا مطرح او راپیدا شوو مسائلو نه د مجاهدینو په خلاف استفاده وکړي، مجاهدین ورباندي بدنام کړي او په همدې ډلې پوري د تړلیو تبلیغاتي وسائلو له لاري د مجاهدینو په خلاف ناروا او بې بنسټه تبلیغات کوي، ادعا کوي چي گویا مجاهدین مشرکین دي، عقیده ئې خرافي او خرابه ده او په افغانستان کي روان جنگ د مشرکینو او ملحدینو ترمنځ جگړه ده. دا بې اساسه تبلیغات دومره زیات شول او په عربي نړۍ کي د همدې ډلې د مؤسسینو له خوا دومره تکرار او زمزمه شول چي نږدې وه ټول خلك د مجاهدینو د عقیدې په هکله شك وکړي، هرڅوك چي له کوم مجاهد سره مخامخ کېږي، نو لومړی د مجاهدینو د عقیدې په رابطه پوښتنه ترې کوي، په ځانگړې توگه د همدې مسائلو په اړه چي دا ډله ئې ډېر تکراروي، بیا په مجملو ځوابونو هم نه قانع کېږي. په یاد مې دي چي یو دوست چي د همدې ډول تبلیغاتو تر اغېزې لاندې راغلی وو، مونږ ته راغی، د خبرو په ترځ کې ئې پوښتنه وکړه چي د عقیدې په اړه له کومو مصادرو نه استفاده کوئ؟ ما ورته وویل: له قرآن او احادیثو نه. د دې خبري په اورېدو سره ئې رنگ بدل شو، د عدم قناعت او ناخوښۍ نښانې ئې په څېرې کي راڅرگندې شوې، وئې ویل: دا خو مجمل ځواب دئ! یوه افغان ورور چي په مجلس کي ناست وو، وویل: مونږ په خپلو مدرسو کي د عقیدة الطحاویه کتاب تدریس کوو. هغه دوست پدې هم قانع نه شو، غوښتل ئې د عقیدة الطحاویه د کومې شرحې نوم ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخستل شي، تر څو ئې قناعت حاصل او د مجاهدينو د عقيدې په هکله ئې شکوك او شبهات رفع شي. هغه افغان ورور ورته وويل چې مونږ د علامه ابي العزالحنفي (رحمه الله) شرح تدريس کوو، پدې سره هغه ميلمه دوست څه آرام او ډاډه شو.

د داسي خلکو له وضعې او له هغو پوښتنو نه چې دوی ئې د مجاهدينو د عقيدې په رابطه مطرح کوي په ځرګنده معلومېږي چې متعصب او متعنت يا ګمارل شوي او استخدام شوي افراد څومره کوشش کوي چې د مجاهدينو په اړه او د دوی د عقيدې په رابطه د نړۍ له نورو مسلمانانو سره شکوك او شبهات راپيدا کړي، د اسلام دښمنان د دې پخاطر چې له مجاهدينو سره د نړۍ د مسلمانانو رابطه وشلوي او پرې نږدې چې جهادي روحيه د اسلامي نړۍ نورو برخو ته خوره شي، د همدې شوم هدف لپاره ميدان ته راوتلي او غواړي د مذهبي اختلافاتو راولاړولو له لاري د مسلمانانو د وحدت مخه ونيسي، دوی هڅه کوي مسلمانان په فرعي مسائلو کي مصروف وساتي او پدې سره ئې له اصلي او اساسي مسائلو نه غافل کړي، دوی جاهل او بې خبره عناصر په کار اچوي او د همدوی په لاس د مذهبي تعصباتو اور بلوي او د مسلمانانو تر منځ اختلافات راولاړوي.

زمونږ مجاهدين هميشه لدې ډول پوښتنو سره مخ کېږي او د هغو کسانو له خوا چې د دښمنانو د تبليغاتو تر اغېزې لاندي راغلي په مکرره توګه د عقيدې په هکله ترسوال لاندي راځي، سوال کوونکي بيا په مجمل او لنډ ځواب هم اکتفا نه کوي، غواړي په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رابطه اوږد او مفصل ځواب واوري ترڅو ډاډه او د مجاهدینو د عقیدې په هکله ورسره پیدا شوي شکوك رفع شي.

که څه هم پدې هکله ډېر کتابونه لیکل شوي او مونږ چې څه دلته راوړو هغه به هم د امت د منل شوو علماوو نظریات،او له معتبرو اسلامي کتابونو نه رانقل شوي اقتباسات او د دوی د مفصلو نظریاتو لنډیز وي، خو د یو شمېر مخلصو ورونو د غوښتنې او د مجاهدینو په هکله د شکوکو او شبهاتو د له منځه وړلو لپاره مجبور شوم دا رساله ولیکم. تر هر څه د مخه باید ووایم چې مونږ د ټولو حقه مذاهبو منونکو او پلویانو ته احترام لرو ،او له هغوی سره د نظر د اختلاف باوجود د ټولو ترمنځ د یووالي غوښتونکي یو او هغه کسان معذور شمېرو چې د حقایقو د ادراك په لار کې له مخلصانه او جدي هڅو او هاند نه وروسته هم پدې ندي توانیدلي چې ټول حقایق درك کړي او د ځینو حقایقو په پېژندلو کې غلط شوي. مونږ دا ډله خلك معذور شمېرو ، له بخښونکي خدای نه ورته د مغفرت سوال او د هدایت دعا کوو ، خو له هغوکسانو نه کلك نفرت او ژوره کرکه لرو چې له فرعي اختلافاتو نه د مسلمانانو ترمنځ د بېلتون او تفرق او د نورو د تکفیر وسیله جوړوي او پردیو ته دا امکان په لاس ورکوي چې له همدې لارې خپل سیاسي اهداف پلي کړي. دا ډول کسان له بل هرچا نه اسلام او اسلامي تحریك ته زیات خطر لري. هیله مندیم هادي او کریم خدای مونږ ټولو ته هدایت وکړي د حق او صواب لار راوښیي، د قرآني آیتونو او مبارکواحادیثوصحیح علم اوپوهه راکړي او پراسلام دپوره عمل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نېكواو صالحوامامانواو سلف صالح په لاره دتگ توفيق راپه برخه كړي.

اَللهُم ارنَاالْحق حَقاًوارْزُقْنااتباعهُ،وارناالْباطِلَ باطِلا وَارزُقْنااِجْتنابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه ------------------------------------------------------- توحید او شرك

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د الله تعالی په اړه زمونږ عقیده

**الحمدلله نحمده ونَسْتعينه ونستغْفِره ونتوبُ اليه وَنعوذُبالله منْ شرور اَنْفُسناوَمنْ سيئاتِ اعْمالِنا، منْ يَهده اللهُ فلامُضل له ومنْ يضلل فلاهادي له، وَاشهدان لااله الا اللهُ وحْدهُ لاشريكَ له واشهدان محمداً عبْدُهُ ورسوله.**

**اعوذ بالله من الشيطن الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم.**

**هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّه عَمَّا يُشْرِكُونَ*هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ" *

الحشر:۲۳-۲٤

الله تعالی د ټول عالم پيدا کوونکی او پالونکی دئ، په هغه کي د رب او ټولواك په حيث تصرف کوي. په ذات، صفاتو او افعالو کي د کمال په ټولو صفاتو متصف دئ، له هر عيب او نقص نه پاك، منزه او لوړ دئ. پدې هستی کي چي څومره ښکلا، ښايست، جمال او کمال ترسترگو کېږي؛ د ده له لوري دي او ده د عالم موجوداتو ته ورپه برخه کړي. نه هيڅ سيال او شريك لري او نه ئې هيڅ مثل او مثال شته، ابتداء او انتهاء نه لري، اول دئ او آخر، فنا نه لري، له ټولو مخلوقاتو نه مخکي وو او له ټولو نه وروسته به وي. هغه ظاهر دئ چي د کائناتو ټولي برخي ئې په وجود شهادت ورکوي، باطن دئ چي د انسان په وهم او فهم کي نه ځايېږي، انسان يي د ذات له ادراك نه عاجز دئ، هيڅ مثال ئې نشته. تلپاتې ژوندی دئ چي هيڅ مرگ او فنا نه لري، ټول شيان هغه پيدا کړي، ټولو ته ئې ژوند ورکړی، هغه خالق يعني پيداکوونکی او رب يعني پالونکی دئ، د کائناتو د تدبير واك له هغه سره دئ، قيوم دئ چي يوه لحظه هم د کايناتو د امورو له اداري او تدبير نه غفلت نه کوي، چا ته چي وغواړي ژوند ورکوي او څوك چي وغواړي له ژوند نه محروموي، وژني ئې او بيائې بېرته راژوندی کوي.

په دې هستی کي هيڅ پېښه د الله تعالی له ارادې پرته نه شي واقع کېدلی. هره لويه او وړه پېښه د هغه په اجازه او اراده، د هغه له خوا د وضع شوو ضوابطو، سننو، قضا او قدر مطابق ترسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د شیانو په خلقت کي او هم د عالم په ټولو هغو تحولاتو او بدلونونو کي چي د الله تعالی په اراده ترسره کېږي، خاص مصلحت او حکمت پټ دئ، د خدای په مخلوقاتو کي بیهوده، عبث او بې هدفه شی نشته. د دې هستي دا بې حسابه توکي ئې هر یو په ډېره ښه توگه د خاص هدف د تحقق لپاره پیداکړی، د شیانو خلقت هغه هم په خاص شکل او کیفیت سره د الله تعالی کار دئ، ځکه هغه خالق، باري او مصور دئ.

د الله تعالی ټول د کمال صفات ازلي او ابدي دي، نه څه ترې کمېږي او نه څه ورباندي زیاتېږي. هغه غني او بې نیازه دئ، هیچا او هیڅ څه ته اړ ندی، غناء ئې ذاتي صفت دئ، ټول شیان ده ته اړ او محتاج دي، هم په خپل خلقت کي او هم په بقاء او وجود کي.

قدیر او ځواکمن دئ، هرکار ورته آسان دئ، ټول شیان ئې پیدا کړل، برابر ئې کړل، اندازه او مقدار ئې ورته وټاکو، پیل او پای ئې ورته تعیین کړ، هر یوه ته ئې لاره او مسیر وټاکو، هدایت او لارښوونه ئې ورته وکړه.

نه څه له پیداښت نه مخکي ترې پټ دي او نه له پیداښت نه وروسته، پټ او ښکاره، شاهد او غائب، ماضي او مستقبل ټول ورته معلوم دي، علم ئې په هرڅه حاوي دئ، هیڅ داسي څه نشته چي ترې پټ وي، لوی او وړ، نږدې او لری، رڼا او تیاره هیڅ ترې پټ ندي.

الله تعالی نه یوازي دا هستي پیدا کړې ده، بلکه د رب او پالونکي په حیث هر څه اداره او پالي، هرڅه د ده په اراده، تقدیر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



توفيق ترسره کېږي. ټول شيان ئې د قضا او قدر تابع دي، اراده ئې هر چيرته او په هرڅه کي نافذ ده، هيڅ شی ئې د ارادې مخه نشي نيولی، کوم کار چي هغه ئې د کېدو اراده ونکړي نشي کېدی، د بندګانو اراده د ده د ارادې تابع ده، څه چي ورته وغواړي همغه کېږي او څه چي ونه غواړي هغه نشي کېدی، بندګان په خپله هيڅ نشي کولی، د هرڅه او هرکار توفيق د ده له لوري دئ. نه څوك د هغه قضاء بدلولی شي او نه ئې د ارادې مخه نيولی شي، په ټول عالم کي هيڅ داسي قدرت او ځواك نشته چي د ده حکم وځنډوي او د ده د امر مانع شي. د هغه قضاء نافذه او حکم ئې حاکم دئ، په هر څه غالب، امر ئې په خپل ټاکل شوي او معين وخت تحقق مومي، داسي نده چي د هستي او کايناتو له خلقت، د ضوابطو او قضاء له وضع کولو نه وروسته ئې دا مخلوقات په خپل حال پرېښي وي او هر څه ئې خپلي مخي ته آزاد خوشي کړي وي او ګويا اوس پېښي په خپله د وضع شوو ضوابطو مطابق واقع کېږي، نه، داسي نده، بلکه هره پېښه، په هره شېبه کي، د ده جل جلاله په اجازه، توفيق او د ده لخوا د ټاکل شوي تقدير او قضاء مطابق ترسره کېږي.

د الله تعالی په اړه زمونږ د دې عقيدې مصدر او منبع قرآنکريم او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت دئ، مونږ په هر هغه څه باور او ايمان لرو چي عليم خدای او د ده رسول صلی الله عليه وسلم په صراحت او وضاحت سره بيان کړيدي، څه ئې چي په څرګنده توګه او په تفصيل سره بيان او شرحه کړيدي، په همغه واضح، څرګند او مفصل شکل ورباندي ايمان لرو،او څه ئې چه مجمل پرېښي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



همغه مجمل شکل ئې اکتفاء کوو ، له څه زیاتولو او څه کمولو نه ډډه کوو ، له خپل حد نه تېرى نه کوو ، هغه شیان چې الله او رسول ئې په تفصیل سره ندي بیان کړي او زمونږ له فهم او ادراك نه ئې لوړ شمېرلي، مونږ بې ځایه تکلف نه کوو ، بې ګټې زحمت نه باسو ، آمنا او اسلمنا وایو ، د دې ډول شیانو په کنه او حقیقت د پوهېدو بې ځایه او بې فائدې هڅه نه کوو. د خپلو اختلافاتو او منازعاتو د حل لپاره الله او د ده رسول ته رجوع کوو او همدا مرجع د حق او باطل د پېژندلو او د اختلافاتو د حل یوازنۍ مرجع شمېرو. د دین او ایمان په امورو کې د الله او د رسول صلی الله علیه وسلم په مقابل کې د هیڅا خبره د اعتناء وړ نه ګڼو ، د هغه چا خبره نه منو چې د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لارښوونو مبتني نه وي، د الله او د ده د رسول له وینا سره مخالف اقوال له یوه سره ردوو. مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم یاران او هغوی ته نږدې خلك د دیني امورو په فهم او پوهې کې تر نورو مقدم ګڼو.

که پوښتنه رانه وشي چې کوم مذهب ته ترجیح ورکوئ؟ نو وایو چې حنفي مذهب ته ترجیح ورکوو ، دا ځکه چې د اهل سنت وجماعت دا مذهب مو تر بل هر مذهب نه پر کتاب الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر سنت ولاړ او د سلفو پر منهج مبتني موندلی؛ خو دا هم په تأکید سره وایو چې نورو مذاهبو او پلویانو ته ئې احترام لرو ، له هغوی سره په آراوو او نظریاتو کې اختلاف روا اختلاف شمېرو او الله تعالی ته سوال کوو چې زمونږ او هغوی اشتباهات معاف کړي، مونږ په فرعي مسائلو کې د اختلاف په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اساس هیچا ته د گمراه، مشرك او كافر خطاب نه كوو، بلكه د دې برعكس د ټول امت د یووالي او د ټولو مذاهبو ترمنځ د تقارب او وحدت غوښتونكي یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د الله تعالی اسماء او صفات

د الله تعالی په پاکو نومونو او لوړو صفاتو ایمان درلودل د ایمان بالله له اساسي اجزاوو څخه دئ، له همدې لاري کولی شو الله تعالی ښه وپېژنو او له خپل رب سره د خپلو اړیکو د څرنګوالي په کیفیت پوه شو. لکه څرنګه چي مونږ مکلف یو د الله تعالی په ربوبیت ایمان ولرو، په دعا او عبادت کي د هغه لوري ته رجوع وکړو، هغه ته پناه ورووړو، د هغه عبادت وکړو او له هغه نه مرسته وغواړو، همدا راز مکلف یو چي الله تعالی په هغه نومونو سره یادکړو چي په خپله ئې را ښوولي دي.

که څه هم هغه آیتونه او احادیث چي د الله تعالی نومونه پکي ذکر شوي اکثراً ډېر واضح او څرګند دي او هرڅوك پرې پوهېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، خو پدې هکله يو شمېر داسي آيات او احاديث هم شته چي د علماوو ترمنځ د مناقشاتو او د نظر د اختلاف سبب شويدي، دا ډول نصوص ځينو د صفاتو آيات او احاديث بللي او نورو ورته متشابهات ويلي دي. پدې ډول نصوصو کي الله تعالى ته داسي افعال منصوب شويدي چي همدې ته ورته افعال او اعمال انسان د خپلو اعضاوو او جوارحو په واسطه ترسره کوي، لکه اورېدل، ليدل، ورکول، اخيستل، تلل، راتلل، چي دا اعمال په غوږونو، سترگو، لاسونو او پښو ترسره کېږي.

د اسلام په پيل کي د اصحابو او سلف صالح ترمنځ د دې ډول نصوصو په هکله هيڅ اختلاف نه وو، پدې اړه د دوی ترمنځ هيڅ ډول مناقشه نده شوې او نه پدې رابطه له دوی نه اختلاف روايت شويدی، د دوی (سلف صالح ) مذهب او نظريه دا وه چي دوی به د همدې نصوصو په الفاظو اقرار کاوو او په معنى به ئې ايمان درلود، د کيفيت په هکله به ئې له بحث او له مناقشې نه ډډه کوله. له ابي عبيد القاسم بن سلام رحمه الله نه د دې ډول احاديثو په هکله پوښتنه وشوه؛ ده په ځواب کي ورته وويل: مونږ دا احاديث حق بولو، باور لرو چي ثقه راويانو يو له بل نه روايت کړيدي؛ خو که د تفسير او معنى په رابطه ئې سوال رانه وشي نو وايو چي د پخوانيو علماوو (سلف صالح) په منځ کي داسي څوك نه مومو چي دا ډول نصوص ئې تفسير او تشريح کړي وي، نو مونږ ئې هم له تفسير او تشريح نه ځان ساتو، فقط د هغه تصديق کوو، ايمان ورباندي لرو او د کيفيت د ادراك په هکله ئې بې فايدی هڅې نه کوو او سکوت غوره گڼو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو المعالي جويني په خپل کتاب "الرسالة النظامية" کي ليکي:

**و ذهب ائمة السلف الى الانكفاف عن التأويل و اجراء الظواهر على مواردها و تفويض معانيها الى الرب" و يقول: "وقد درج اصحاب رسول الله صلى الله عليه و سلم على ترك التعرض لمعانيها و درك ما فيها" ثم يقول: "فلوكان تأويل هذه الظواهر مسوغاً او محتوماً لا شك ان يكون اهتمامهم بها فوق اهتمامهم لفروع الشريعة، و اذا انصرم عصرهم و عصر التابعين على الاضراب عن التأويل كان ذلك هو الوجه المتبع فحق على ذى الدين ان يعتقد تنــــزيه الباري عن صفات المحدثين و لا يخوضوا في تأويل المشكلات ويكل معناها الى الرب تعالى"**

سلفو امامانو له تأويل نه ډډه کړې، د نصوصو ظاهر ئې په خپل حال پرېښې او د هغوې معنى ئې الله تعالى ته مفوض کړې ده. بيا وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم اصحابو دا غوره ګڼلې چي له معنى سره ئې کار ونلري او د هغې د ادراك لپاره هڅه ونکړي. ورپسې وايي: که د دې ظواهرو تأويل جايز او ضروري وى نوبېشکه چي دوى به ديخوا ته د شريعت د فروعاتو په نسبت زياته توجه کړې وى، پداسي حال کي چي د اصحابو او تابعينو دور داسي تېر شو چي له تأويل نه ډډه کېده، نو همدا کار د متابعت وړ دئ، هر ديندار انسان ته ښايي چي دا عقيده ولري چي الله تعالى د مخلوقاتو له صفاتو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منزه دئ، د مشکلو الفاظو په تأویل کي تکلف ونه کړي او معنی ئې الله تعالی ته پرېږدي.

پر دې ډول آیتونو او احادیثو باندي ایمان درلودونکي په درېو مهمو برخو وېشل شویدي:

- اهل ظاهر: دا ډله د متشابه آیتونو کلمات په همغه ظاهري معنی اخلي، قرب، معیت، نزول، استوی، مجئ او نورې دا ډول کلمې لکه ید، عین، اذن، د همدې کلماتو په ظاهري، متداولې او متبادرې معنی اخلي. له اهل ظاهر نه یو شمېر مشبه (تشبیه کوونکي) دي، یعنی هغوی د الله تعالی دا صفات د بنده ګانو د صفاتو په شان بولي او د الله صفات د بندګانو له صفاتو سره تشبیه کوي. د همدی ډلي یوه بله برخه که څه هم د دې کلماتو معنی د لومړۍ ډلی په شان ظاهري او ذهن ته په نږدې معنی حمل کوي خو وایي چي مونږ الله تعالی په هیڅ شي کي له مخلوقاتو سره نه تشبیه کوو، هغوی دا کلمات په خپله ظاهري معنی سره تعبیر او تفسیروي؛ خو د بلاتشبیه، بلاتکییف او بلاتمثیل قید ورسره ږدي.
- دوهمه ډله : دا ډله ذکرشوي کلمات د هغې په ظاهري معنی سره نه اخلي ، لدې ډلی نه یوشمېر عقیده لري چي په دې ځای کي لدې کلماتو نه د الله تعالی صفات ندي مراد، بناء لازمه ده د دې الفاظو ظاهري او ذهن ته نږدې معنی ترې واخیستی شي، د مثال په توګه استواء باید د تسلط او سیطرې او ید دقدرت او نعمت په معنی تفسیر او تعبیر شي، یو شمېر نورئې ظاهري معنی ردوی او د هغی مراد او مفهوم خدای ته پرېږدي او په خپله هیڅ نه پکي وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• دریمه ډله: دا ډله پدې هکله بالکل څه نه وایي، سکوت ئې غوره کړی، له دې ډلي نه یو شمېر عقیده لري چي لدې کلماتو نه د الله تعالی صفات مراد ندي،او که فرضاً صفات ترې مراد وي؛ د هغه معنی هسي باید وشي چي د الله تعالی له شأن سره مناسبه او وړ وي. نور وائې چي د همدې نصوصو قرائت او تلاوت کافي دئ او له هر ډول تفسیر، تأویل او تعبیر نه ځان ساتي، نه یې په دې هکله په زړه او دماغ کي څه تصور وي او نه په خوله څه وایي.

د دې ډلو په رابطه باید وویل شي چي:

• د لومړنۍ ډلی عقیده بیشکه له صریحو نصوصو سره ټکر کوي او د دې عقیدې په بطلان او فساد کي هیڅ شك نشته. د اهل ظاهر د دوهمې ډلی عقیده که دا وي چي ید، سمع او بصرالهي صفات وشمېری او هغه غړي، جوارح او د فعل وسایل ونه بولي او له انسان سره ئې تشبیه نه کړي، قرب، معیت، نزول، استواء، مجئ، اتیان، اخذ او ایتاء د الله تعالی اختیاري افعال وشمېري او د انسان د افعالو سره ئې تشبیه نه کړي او د دې صفاتو او افعالو کیفیت او حقیقت خدای ته پرېږدي، نو مونږ ورسره اختلاف نه لرو او د دې عقیدې د صحت په هکله د شك ځای هم نه گورو.

• هغه ډله چي د ذات په هکله د تشبیه د نفی پخاطر د دې کلماتو ظاهري معنی ترې اخلي، دوی که څه هم له تشبیه نه تښتي خو د الهي ثابتو صفاتو د نفی مرتکب کېږي، د دوی عقیده هم غلطه او فاسده ده، دا عقیده له هغو صریحو نصوصو سره ټکر او تناقض لري چي د الله تعالی لپاره دا صفات په اثبات رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو هغه ډله چي د الله تعالی د ذات سره د تشبیه د نفی کولو پخاطر د دې کلماتو ظاهري معنی نه اخلي او په عین وخت کي تأویل هم نه کوي، مراد او اصلي مفهوم ئې خدای ته سپاري او د الله تعالی له هیڅ صفت نه انکار نه کوي، د دې ډلي عقیده هم صحیح ده.
- هغه کسان چي پدې هکله یې سکوت غوره کړی، نه تشبیه کوي او نه تأویل، دا صفات د غړیو یا اندامونو او جوارحو په معنی نه اخلي، بلکه هغه د الله تعالی د شأن سره برابر او مناسب صفات شمېري، د دې کسانو د عقیدې د صحت په هکله هم د شك ځای نشته.
- همداراز هغه کسان چي د تقوی او احتیاط له مخي د همدې آیتونو په تلاوت اکتفاء کوي، له هر ډول تأویل نه ډډه کوي، نه په خپل ذهن کي خاص تصور قائموي او نه په ژبه پدې اړه څه وایي، که دوی د دغو آیتونو په مراد او مفهوم ایمان ولري، که څوك دا ډله جاهل او نادان ګڼي نو واقعاً چي بې انصافي کوي.
- هغه کسان چي د عقیدې د سموالي په هکله ئې شك نشو کولی، د دوی ترمنځ اختلاف په اصل کي لفظي اختلاف دئ، د دوی ترمنځ اساسي او بنیادي اختلاف نشته.

پدې هکله تر ټولو زیات صحیح، قوي او د اسلامي امت د امامانو له نظر سره مطابق نظردا دئ چي ووایو: مونږ په دې ټولو آیتونو او احادیثو ایمان لرو، اقرار ورباندي کوو، په الفاظو ئې تکلم کوو، خو هغه په خپلي ظاهري معنی نه اخلو، له تأویل نه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډډه کوو، په معنی او مرادئې ایمان لرو. ځکه که ظاهري معنی ترې واخلو نو د تشبیه او تمثیل مرتکب کېږو او الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوو، پداسي حال کي چي قرآنکریم فرمایي:

لیسَ کَمثله شئ،

او که تأویل پکي وکړو نو بیا به موهم د نص مخالفت کړی وي، ځکه قرآن فرمایي :

وَمَا يَعْلَمُ تأويلهُ إِلَّا اللَّهُ

گرانه وروره! که ته دا عقیده ولرې او په ځرگندو الفاظو سره بې مجاملی ووایي چي:

- په مخلوقاتو کي هیڅ شی هم په ذات کي له الله تعالی سره شباهت او مماثلت نه لري.
- د لوی او قدیر خدای د ذات ادراك ممکن او میسر ندی.
- انسان نه شي کولی د الله تعالی د تصرف ځرنگوالی په خپلو اختیاري افعالو کي درك کړي. اخذ، بطش، امساك، ایتاء، مجئ، اتیان دا ټول د الله تعالی لپاره ثابت شوي افعال دي، خو انسان ته نه دا ممکنه ده چي د دې افعالو کیفیت درك کړی شي،او نه دا افعال د مخلوقاتو له افعالو سره شباهت لري.
- الله تعالی داسي ذاتي صفات لري چي دا افعال هغوی ته منسوب دي. لکه انفاق او تملیك چي ید،اوربدل او لیدل، سمع او بصر ته منسوب شویدي؛ خو دا نه اعضاء او جوارح دي او نه پدې رابطه د خالق او مخلوق ترمنځ شباهت شته.

د داسي عقیدې د درلودو په صورت کي که ته په هرو الفاظو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله عقیده تعبیر کړي؛ مونږ ستا د عقیدې د صحت او سموالي په هکله شك نه کوو. خو که څوك د خپل ذهني انحراف له امله د الله تعالی په هکله په خپل ذهن کي خاص تصویر جوړ کړي او الله تعالی په خپل ذهن کي انسان ته ورته مجسم کړي او په همدې خاطر هر چیرته چي کوم داسي لفظ او کلمه بیا مومي چي د خپل دې غلط او کاږه تصور د اثبات لپاره ترې کار اخستلی شي نو فوراً او په منډه ورباندي استناد کوي، بېله دې چي د لفظ مخکي او وروسته په پام کي ولري او محل او مقام ته ئې نظر وکړي، په پوره لجاجت په همدې لفظ استدلال کوي، مونږ دغو کسانو ته له الله تعالی نه هدایت غواړو،الله تعالی دې لدې مصیبت نه وباسي، خدای دې تیاره ذهنونه روښانه کړي. دا کاږه ذهنونه په اصل کي په غیب له ایمان نه عاجز دي، یوازي په "جهر" او "څرگند" ایمان لري، هر څه له ملموس او مشهود شیانو سره مقایسه کوي، هغه څه نشي منلی چي له محسوس او ملموس شیانو سره ورته والي او مماثلت ونلري. دوی د تعصباتو په لومو کي داسي نښتي چي وتل ورته گران شوي!!

مونږ له هغو کسانو سره هیڅ مشکل نه لرو چي د الله کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت ئې د خپل قضاوت آخرینۍ مرجع گرځولی ده او د هر شي په رابطه د قرآن او احادیثو په رڼا کي فیصله کوي، هغوی چي خپل حد پېژني، له حدودو او پولو نه اخوا نه اوړي، په خپل حد دربږي او اعتراف کوي چي لدینه اخوا د تللو او وړاندي تگ اجازه نه لري، دا ځکه چي الله تعالی همداسي فرمایلي دي. مونږ له داسي اشخاصو سره هیڅ مشکل او اختلاف نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرو، زمونږ مشکل له هغو اشخاصو سره دئ چي د خدای او رسول صلی الله علیه وسلم قول یوازي په هغه صورت کي قبلوي چي د دوی له نظریاتو سره توافق ولري، دوی په اصل کي خپل ذهن، تصور او انتباه معیار ګرځولی، حتی حاضر ندي دا ومني چي ځیني شیان د غیب په دائره کي دي او انسان ئې په خپلو حواسو نشي درك کولی، د دا ډول غیبي شیانو تجسم په ذهن کي او له مشهودو شیانو سره ئې او له محسوساتو سره ئې تشبیه او تمثیل غلط کار دئ. پدې اړه لازمه دا ده چي خپل حد او توان وپېژنو او له حد نه تېری ونکړو، په الهي لارښوونو او د الله د کتاب په هغو اشارو باید اکتفاء وکړو چي د غیبي امورو د پېژندګلوي او د انسان ذهن ته د تقرب او نږدې کولو لپاره راغلي دي. دا رساله اصلاً د همدغو کسانو په ځواب کي لیکل شوي ده. د دې لپاره چي د نوموړي موضوع حقیقت ښه څرګند شي باید قرآن ته رجوع وکړو او د الله د کتاب په رڼا کي د دې موضوع حقیقت ولټوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خدای جل جلاله څنګه وپېژنو؟

د الله تعالی د ذات، اسماء او صفاتو په هکله بحث او خبري په څو برخو کي خلاصه کولی شو:

د الله تعالی د ذات په هکله

اسلام مونږ لدې نه منع کړي یو چي د الله تعالی د ذات د کیفیت په هکله تفکر او بحث وکړو، ځکه انسان ته ممکنه نده چي د الله تعالی ذات درك کړي او په کیفیت ئې پوه شي. قرآنکریم فرمایي:

**يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا** *

طه: ۱۱۰

"الله" په هر هغه څه پوهېږي چي د دوی مخی ته دي او یا ئې شا ته دي، خو دوی علماً پر ده احاطه نه شي کولی، یعنی انسانان نه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وس لري او نه دومره علم چي د الله تعالی د ذات کیفیت درك کړی شي. دوی ئې د ذات د کیفیت له ادراك نه عاجز دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**تَفَکَرُوا فِي آلاءِالله ولاَ تَفکروا فِي الله عزوجل**

د الله تعالی د نعمَتونو په هکله فکَر وکړی خود ذات په هکله ئې تفکر مه کوی.

نه یوازي انسان نه شي کولی د الله تعالی د ذات په کیفیت پوه شي بلکه مونږ له دې نه هم منع شوي یو چي په خپل ذهن کي د الله تعالی لپاره کوم تصویر جوړ کړو او له مخلوقاتو سره د هغه د تشبیه او تمثیل په اړه تصور وکړو. الله تعالی فرمایي:

**فَلَا تَضْرِبُوا لِلَّهِ الْأَمْثَالَ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ***

النحل: ۷٤

د الله تعالی لپاره مثالونه مه بیانوی؛ الله تعالی پوهېږي او تاسو نه پوهېږی.

یعنی پداسي حال کي چي په هرڅه پوه او خبیر خدای د خپل ذات لپاره مثال ندی راوړی او په قرآنکریم کي ئې د داسي کوم مثال ندی ذکر کړی؛ نو تاسي پدې محدود علم سره څنګه کولی شی چي د الله تعالی د ذات لپاره مثال راوړی؟

له مخلوقاتو سره د الله تعالی او یا له الله تعالی سره د مخلوقاتو تشبیه او داسي یو مثال راوړل چي تشبیه ترې ثابته شي او یا په تمثیل دلالت کوونکی تصور، دا ټول ناروا دي، لازمه ده لدې نه په کلکه ځان وساتو. دا ځکه چي الله تعالی مونږ ته امر کوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ *** البقرة: ۲۲

له الله تعالی لَره سیالان مه جوړوی، پداسي حال کي چي ښه پوهېږئ "چي الله تعالی سیال او مثل نه لري"

همدارازفرمايي:

**وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ *** الاخلاص: ٤

هيڅ يو ده لره کفو او سيال ندی.

بل ځای فرمايي :

**لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ *** الشوری: ۱۱

هيڅ شی د هغه په څېر ندی او دی اوربدونکی لیدونکی دئ.

يعنی که وغواړئ چي په خپل ذهن کي د الله تعالی لپاره کوم مثال مجسم کړي، نو پوه شه چي پدې کايناتو او موجوداتو کي به هيڅ شی دې مثال ته ورته ونه مومئ. د يوه شي مثال په حقيقت کي د هغه شي تخميني او تقريبی تصوير وي، چي د همغه شي د پېژندلو لپاره په کار راوړل کېږي، کله چي د يوه شي د اصل او حقيقت ادراک ممکن نه وي نو د مثال په راوړلو سره ئې تشريح او توضيح کوو، خو د الله تعالی په هکله نه د مثال راوړل ممکن دي او نه ئې مثال او مثل شته.

په دې آيت شريف کي داسي ندی ويل شوي :

" ليس مثله شئ: ده ته ورته څه نشته"

بلکه ويل شوي:

**لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ:**

د ده مثل ته ورته څه نشته او دی سميع بصير ذات دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې معنی دا ده چې نه يوازې د الله تعالی د ذات دکيفيت ادراک ممکن ندی، بلکه دا هم ممکنه نده چې د الله تعالی د ذات او ذاتي صفاتو د کيفيت په هکله تخميني او تقريبي تصور ولرو. نو لازمه ده له هر هغه تأويل او توجيه نه په کلکه ځان وساتو چې د مخلوقاتو سره د الله تعالی تشبيه پکې وي.

که د الله تعالی د ذات د کيفيت په هکله بحث ضروري وی او د انسان لپاره ئې ادراک امکان درلودی نو الله تعالی به په خپله په پوره صراحت او وضاحت سره بيان کړی وی، مجمل به ئې نه پرېښود او يوازې په هغو آيتونو به ئې اکتفا نه وی کړې چې له اسمای حسنی او لوړو صفاتو نه بحث کوي.

د آيت شريف دوهمه برخه

وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ

دا په ګوته کوي چې که څه هم انسان ته هم سميع او بصير ويل کېدی شي، الله تعالی د اورېدو او ليدو صفت انسانانو ته هم ورکړی، خو بيا هم پدې موجوداتو کې داسې څه نشته چې له الله تعالی سره ورته والی او شباهت ولري. د الله تعالی ذات هيڅ مثل او مثال نه لري.

د يوه څه د پېژندلو طريقه يا دا ده چې مستقيماً د همغه شي د ذات د کيفيت په هکله معلومات لاسته راوړې او وئې پېژنې او يا دا چې د مثال او سيال له لارې ئې وپېژنې او يا دا چې هغه ته ورته شی د ده په هکله تا ته خاص انځور درکړې او لدې لارې ئې په نسبي توګه وپېژنې. قرآنکريم د الله تعالی د ذات د ادراک او د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



كيفيت د پېژندلو په رابطه دا ټول امكانات رد كړيدي او په پوره صراحت ئې ويلى دي چي الله تعالى نه سيال او مثل لرى او نه د چا علم د هغه تعالى د ذات پركيفيت احاطه او احتوا كولى شي.

د دې مطلب د لا روښانتيا لپاره ضروري ده د الشورى سورت يوولسم آيت په دقت سره توضيح او تشريح كړو:

**فَاطِرُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ *** الشورى: ١١

د آسمانونو او ځمكي مبتدع او مخترع پيدا كوونكى چي تاسي ته ئې ستاسي خپله جوړه پيدا كړه او له چارپايانو نه ئې هم جوړې جوړې پيدا كړې، په دې جوړو سره تاسي زياتوي، هيڅ شى‌هغه ته ورته ندي، هغه اوربدونكى ليدونكى دئ.

دا آيت لاندېني اساسي مطالب په ګوته كوي:

- الله تعالى د ځمكي او آسمان خالق او پيداكوونكى دئ. پداسي حال كي چي:

الف _ د دې شيانو خالق او پيداكوونكي وو او په څنګ كي ئې بل هيڅوك او هيڅ څه نه وو.

ب _ نه ځمكه وه او نه آسمان او نه د ځمكي او آسمان هيڅ څه.

- انسانان او حيوانات جوړه جوړه پيدا كړي شوي، داسي چي:

الف ژدا ټول (انسانان او حيوانات) نه وو، پيدا شول.

ب ژله دوى نه مخكي ئې ځمكه او آسمانونه پيدا كړل.

ج ژد نسل د بقا لپاره ئې جوړه جوړه پيدا شوي، لدې نه پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه تكثير موندلى شي او نه ئې د نسل بقا ممكنه ده.

- په ځمكه او آسمانونو كي هيڅ شى د الله تعالى په مثل ندي، هيڅ څيز ورسره ورته والى نه لري، د الله تعالى د مثل مثال هم نشته ځكه:

الف- الله تعالى خالق او دا نور ټول موجودات مخلوق دي.

ب ذژوندي مخلوقات پيدا كېږي، زېږول كېږي او نور زېږوي، جوړه جوړه پيدا شوي، پداسي حال كي چي الله تعالى فرد واحد دئ، نه له چا نه زېږيدلى او نه نور څه زېږوي، نه سيال لري او نه مثال.

همدا مطلب د اخلاص په سورې كي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم ئې د قرآنكريم ثلث (دريمه برخه) بولي، داسي بيان شوى:

**قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ *** الاخلاص: ١ - ٤

وو ايه: هغه يوازنئ الله دئ، بې نيازه الله دئ "ټول هغه ته اړدي، خپل ضرورتونه ورته وړاندي كوي، هغه تعالى له هر ډول احتياجه پاك او منزه دئ، ټول د كمال صفات د ده دي. فنا نه لري،تلپاتې دئ" نه ئې څوك زېږولي او نه له چا نه زېږيدلى، هيڅ سيال او كفو نه لري.

۴- د آيت له وروستنۍ برخى "وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ" نه دا څرګندېږي چي: كه څه هم الله تعالى په خپل ذات كي له هيچا سره هيڅ ډول شباهت او ورته والى نه لري، نه ئې مثل شته او نه مثال، خو د داسي صفاتو درلودونكي هم دئ چي ببلګه او مثال ئې په ناقص شكل سره په مخلوقاتو كي هم ليدل كېدى شي، د مثال په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه الله تعالی سميع او بصير، يعني اورېدونكی او ليدونكی دئ، همدا د اورېدو او ليدو صفات ئې خپلو مخلوقاتو ته هم وركړی، خو ښكاره ده چې د الله صفات د مخلوقاتو له صفاتو نه ډېر لوړ، كامل او دايمې دي، د مخلوقاتو صفات د هغوی د حال او توان برابر دي، ناقص دي، له مينځه تلونكي دي، په وسايلو كار كوي، خو د الله تعالی صفات د همغه د ذات له شأن سره برابر، بې مثاله، دايم او كامل دي.

پدې ترتيب سره ويلی شو چې پدې موجوداتو كي هيڅ شی د الله تعالی له ذات سره شباهت او ورته والی نه لري، هره هغه عقيده او نظريه چې د الله د ذات د كيفيت د ادراك په هكله داسي بحث ولري چې له مخلوقاتو سره د خالق په تشبيه او تمثيل منتجه شي، باطله او مردوده ده. الله تعالی لدينه منزه او ډېر لوړ دئ چې په خپل ذات كي له مخلوقاتو سره شباهت او ورته والی ولري، هيڅ شی له الله تعالی سره هيڅ شباهت نه لري، ټول نصوص پدې دلالت كوي چې الله تعالی بې مثله او بې مثاله ذات دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د الله تعالی نومونه

الله تعالی د پاکو او نېکو نومونو خاوند دئ، لازمه ده هغه په همدې پاکو نومونو سره یاد او په همدې نومونو سره سوال ترې وشي، په کومو نومونو سره چي الله تعالی خپل ذات نومولی او یاد کړی باید په همدغو اکتفا وشي، له ځانه الله تعالی ته نوم ورنه کړئ شي. الله تعالی خپل نومونه مونږ ته په قرآنکریم کي او د رسول صلی الله علیه وسلم له لاري راښودلي دي. الله تعالی په قرآنکریم کي فرمايي:

**وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ** * الاعراف: ۱۸۰

الله تعالی لره نېك او پاك نومونه دي، نو په همدغو سره ئې راوبولي او هغه کسان پرېږدئ چي په نومونو کي ئې په کږه ځي، ژر ده چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل عمل له امله مجازات شي.

همدا راز فرمايي :

**قُلْ ادْعُوا اللَّهَ أَوْ ادْعُوا الرَّحْمَنَ أَيًّا مَا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلًا *** الاسراء: ۱۱۰

ووايه! يا الله راوبولی يا رحمن ته دعا وکړئ، "له دغو نه ئې" چي په هر نوم راوبولئ "صحيح ده" ده لره ښايسته او غوره نومونه دي او مه دې دعا په لوړ آواز کوه او مه ئې پټوه، بلکه د دواړو ترمنځ وسط لاره غوره کړه.

دغه آيتونه دا مطالب بيانوي:

- الله تعالی نېك او غوره نومونه لري، بايد په همدغو نومونو ئې ذکر وشي او دعا ورته وشي، په هرې دعا کي ئې هغه نوم ياد شي چي له سوال سره مناسبت ولري، د مثال په توگه يا رحمن ارحمني، ياحفيظ احفظني.
- بايد په اسماء الله الحسنی کي له انحراف او له ځانه د اسماوو او صفاتو له ايښودلو نه ډډه وکړو.
- د الله تعالی وړاندي په دعا کي بايد هغه طريقه غوره کړو چي دين راښودلی، لکه دا آيت چي امر کوي: نه به په ډېر لوړ غږ دعا کوو او نه په ډېر ټيټ، بلکه د دواړو ترمنځ به متوسطه لاره غوره کوو.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**أيها الناس أربعوا على أنفسكم، فإنكم ما تدعون أصم ولا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غائباً، إنما تدعون سميعاً بصيراً إن الذي تدعون أقرب إلى أحدكم من عنق راحلته.** رواه احمد

اې خلکو! پرخپل ځان نرمي وکړئ "او په لوړ غږ د دعا لپاره پر ځان زیاتی مه کوئ" ځکه تاسي نه کوڼ ته دعا کوئ او نه غائب ته، بلکه هغه چا ته دعا کوئ چي اورېدونکی او لیدونکی دئ، تاسي چي د کوم ذات نه سوال کوئ هغه ستاسو هر یوه ته د خپلي سورلۍ تر غاړې نه ډېر ورنږدې دئ.

د الله تعالی ټول مبارك نومونه د داسي بشپړو او کاملو صفاتو ښودنه کوي چي د هیڅ ډول نقص او عیب شائبه پکي نشته.

مونږ د الله تعالی نومونه او لوړ صفات د هغه کتاب له لاری پېژندلی شو چي الله تعالی نازل کړی او رسول صلی الله علیه وسلم ته ئې د هغه علم ورکړی، له دې نه پرته د اسماء او صفاتو د پېژندلو بله صحیح لاره نشته. هغه الهي کتابونه چي دا صفات او اسماء ئې بیان کړیدي؛ هریو د ځانګړي قوم په ژبه نازل شوی دئ، پدې اساس د الهي اسماوو الفاظ مختلف دئ، خو معنی او مفهوم ئې یو دئ، دا ټول نومونه په قرآنکریم، تورات، انجیل او زبور کي په یو ډول الفاظو سره ندي یاد شوی. لدې نه معلومېږي چي پدغو نومونو کي ترټولو د پام وړ خبره هغه صفات دي چي دا نومونه ئې په ګوته کوي.

په قرآنکریم کي له ذکر شوو نومونو نه علاوه، الله تعالی نور نومونه هم لري چي یا ئې په نورو آسماني کتابونو کي ذکر کړي دي او یا ئې له ځان سره ساتلی او هیڅ څوك ئې ندی پری خبر کړی، لکه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اَسْأَلُكَ بِكُلِ اسم هوَ لك سمّيْتَ به نفسك اوعلمْته احداً منْ خلقك اوانزلْته في كتابك اوْ اسْتأثرتَ به في عِلمِ الغيْب عندك*** رواه احمد

الهي! په هر هغه نوم دې سوال درته کوم چي ځان دې پرې نومولی دئ، یا دې خپل کوم مخلوق ته وربنودلی دئ او یا دې په خپل کتاب کي نازل کړی او یا دې په خپل علم غیب کي چي له تاسره دئ ځانته ځانګړی او خاص کړی.

لدې حدیث شریف نه دا څرګندېږي چي د الله تعالی نومونه محدود ندی، یو شمېر ئې پدې کتاب کي ذکر شویدی او نور ئې په نورو کتابو کي راغلی دي، یو شمېر ئې پیغمبرانو علیهم السلام ته ورښودل شوي او یو شمېر ئې الله تعالی له خپل ځان سره ساتلي او هیچا ته یې ندی ښودلی. دا ټول نېك او پاك نومونه داسي صفات په ګوته کوي چي الله تعالی ورباندي متصف دئ. د مثال په توګه السمیع، یعنی هغه ذات چي اورېدونکي دئ، البصیر: هغه ذات چي لیدونکي دئ، الرحمن: هغه ذات چي د رحمت او مهربانۍ د صفت درلودونکی دئ.

که د الله تعالی هغه پاك او مبارك نومونه چي په قرآنکریم او احادیثو کي راغلي دي، د فاتحی سوري د دریو لومړنیو آیتونو په ترتیب تنظیم کړو، نو وبه ګورو لکه څرنګه چي فاتحه د قرآنکریم اساس او خلاصه ده، همدا ډول د الله تعالی د نومونو خلاصه هم د همدې سوري په دریو لومړنیو آیتونو کي راغلی ده او دا ترتیب او خلاصه به داسي وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رب العالمين:

**الله، الرب، الخالق، البارئ، المصور، الاله، الواحد، الاحد، الوتر، الاول، الآخر، الظاهر، الباطن ، الحق، المبين، الحي، الصمد.**

## الرحمن الرحيم :

**الرحمن، الرحيم، الروْوف، الاكرم، البر، التواب، الحليم، العفو، الغفور، الكريم، اللطيف، المجيب، الودود، الوهاب، الولي، المولى، الرفيق، الشافي، المحسن، المعطي، المنان، القريب، الجميل، الطيب، الشاكر، الشكور، الواسع، النصير، البصير، الخبير، السميع، العليم، العالم، الشهيد، الحافظ، الحفيظ، الرقيب.**

## مالك يوم الدين :

**الملك، المليك، القاهر، القهار، القادر، القوي، الكبير، القدير، المؤمن، المهيمن، المقتدر، المتعال، المتكبر، المجيد، المعز، المذل، المقدم، الموْخر، الحكم، الحكيم، الباسط، القابض، الرزاق، الجبار، الاعلى، العزيز، القيوم، العلي، القدوس،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**السلام، السبوح، الحمید، الوارد، الغني، المحیط، الفتاح، الوکیل، المقیت.**

د الله تعالی یو شمېر نومونه ،د مضاف په صیغه راغلي دي لکه: رب العالمین: د عالمیانو څښتن او پالونکی، مالك یوم الدین: د جزا د ورځي مالك او پاچا، ذوالفضل العظیم یعنی د لوی فضل خاوند. سریع الحساب: تېز او ژر حساب اخیستونکی، مالك الملك: د هر څه مالك، خیرالماکرین: تر ټولو غوره تدبیر کوونکی او د ماکرینو تر ټولو غوره، خیرالناصرین: تر ټولو ښه او غوره مرستندوی، خیرالحاکمین: ترټولو غوره حاکم، خیرالفاتحین: تر ټولو غوره او افضل فاتح، خیرالغافرین: تر ټولو غوره بخښونکی، خیرالراحمین: تر ټولو غوره رحم کوونکی، خیرالرازقین: تر ټولو غوره روزي ورکوونکی، اسرع الحاسبین: تر ټولو سریع حساب کوونکی، خیرالفاصلین: تر ټولو غوره فیصله کوونکی، احکم الحاکمین: تر ټولو غوره حاکم، سمیع الدعاء: د دعا اورېدونکی، عالم الغیب والشهاده: په پټ او ښکاره عالم، غافرِالذَنبِ: د گناه بخښونکی، قَابِلِ التوب: د توبې قبلوونکی، رَفیعُ الدرَجاتِ: د درجو لوړوونکی، ذوالجَلالِ والاکرام: د جلال او اکرام خاوند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د الله تعالی صفات

د الله تعالی ټول صفات د کمال صفات دي، الله تعالی حمید دئ، ټولی ستاینې هغه لره دي، له هر عیب او نقص نه منزه او لوړ دئ، ټولی ښیګڼې او ستاینې هغه لره دي، په موجوداتو کې چې څه کمال او جمال، ښکلا او ښایست لیدل کېږي دا ټول الله تعالی لره دي او ده پدې شیانو کې ایښي دي، د نېکۍ او ښکلا چې کوم صفات په مخلوقاتو کې لیدل کېږي الله تعالی په همدی صفاتو په بشپړ او کامل طور متصف دئ.

د الله تعالی د صفاتو د پېژندلو لپاره هم له قرآنکریم او احادیثو نه پرته بله منبع نه لرو. خدای جل شأنه د انسان د هدایت او لارښوونې او د خالق او مخلوق د پېژندنې لپاره په مختلفو وختونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي پيغمبران عليهم السلام رالېږلی دي. هر قوم ته چي کوم کتاب يا صحيفه راغلی‌ده، هغه د هغمه قوم په ژبه وه، د کتاب معارف او مفاهيم د همغه قوم په منځ کي په متدوالو او مروجو الفاظو بيان شويدي. که په قرآنکريم کي الله تعالی په علم، حلم، قدرت، اراده، کلام، حيات، سمع و بصر متصف معرفي شوی او د عليم، حليم، قدير، حي، سميع، بصير په نامه ياد شوی، په نورو الهي کتابونو کي د الله تعالی همدا صفات په نورو ژبو او نورو نومونو ياد شوي. همداراز گورو چي دغه صفات د انسان لپاره هم ذکر شوي، دا صفات چي د انسان لپاره ذکر شوي، معنی ئې د هغه د حال او توان مطابق ده، يعنی انساني صفات ناقص، کم، قاصر او فنا کېدونکي دي، پداسي حال کي چي د الله تعالی صفات کامل، بشپړ او دايمي دي. د انسان او الله تعالی د صفاتو ترمنځ يوازي لفظي شباهت وجود لري، نور د الله تعالی صفات د مخلوق له صفاتو سره نه شي مقايسه کېدلی، د الله تعالی صفات کامل، ازلي، دايمي او ابدي دي، خو د انسان صفات ناقص، حادث (نوی پيداشوي) او له مينځه تلونکي دئ. قرآنکريم فرمايي:

**ان الله على كُلِ شَئ قدير:**

اَلله تعالی پرهرڅه قادر دئ.

خو د انسان د قدرت په هکله فرمايي:

**إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ *** المائده: ٣٤

مگر هغه کسان چي توبه ئې وکړه، مخکي لدينه چي قدرت ورباندي پيدا کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن د الله تعالی په هکله وايي:

**إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ *** المجادله: ۱

الله تعالی اوربدونکی لیدونکی دئ.

د انسان په هکله فرمايي:

**إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا *** الانسان: ۲

بیشکه چي مونږ انسان له مخلوطي او ګډي شوې نطفې نه پیدا کړ، آزمويو ئې او بيا مو هغه اوربدونکی لیدونکی وګرځاوو.

قرآن د الله تعالی د ارادی په هکله فرمايي:

**إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئاً أَن يَقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ*** يس: ۸۲

د هغه امر او کار داسي دئ چي د څه اراده وکړي نو ورته ووايي: شه، نو هغه کېږي.

د انسان د ارادې په هکله بيا فرمايي:

**يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ *** الصف: ۱۱

غواړي په خپلو خولو سره د الله تعالی نور خاموش کړي.

د الله تعالی د علم په هکله فرمايي:

**وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ *** التغابن: ۱۱

الله تعالی په هرڅه ښه پوه دي.

د انسان د علم په اړه فرمايي:

**قَالُوا لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ *** الحجر: ۵۳

وئې ویل: مه وېرېږه، مونږ تا ته د یوه پوه زوی زېری درکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چي انسان ناقص او محدود دئ، نو صفات ئې هم نا قص او محدود دي، د انسان صفات د الله تعالی د صفاتو په مقايسه داسي دي لكه ځوك چي په ستر بحر كي خپله ګوته غوټه كړي او څه نم راپورته كړي. رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله تعالی له پراخ رحمت سره د انسان او ټولو مخلوقاتو د رحمت مقايسه داسي كوي:

**عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّه عَلَيْه وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَات وَالْأَرْضَ مائَةَ رَحْمَة كُلُّ رَحْمَة طبَاقَ مَا بَيْنَ السَّمَاء وَالْأَرْض فَجَعَلَ منْهَا في الْأَرْض رَحْمَةً فَبِهَا تَعْطفُ الْوَالدَةُ عَلَى وَلَدهَا وَالْوَحْشُ وَالطَّيْرُ بَعْضُهَا عَلَى بَعْضٍ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقيَامَة أَكْمَلَهَا بِهَذه الرَّحْمَة ***

رواه مسلم

له سلمان رضي الله عنه نه روايت دئ چي وايي: رسول الله (ص) وفرمايل: الله تعالی په هغه ورځ چي آسمانونه او ځمكه ئې پيدا كړه، سل رحمتونه ئې هم پيدا كړل، هر رحمت د ځمكي او آسمان ترمنځ د فاصلي په اندازه، بيائې له دينه يوه برخه رحمت په ځمكه كي كيښود، چي په هغه سره مور پر زوی او حيوانات او مرغان يوه پربل رحم او مهرباني كوي، چي كله د قيامت ورځ راشي نو پدې رحمت سره به ئې مكمل او بشپړ كړي.

يعنی دا رحمت، زړه سوي او پېرزوينه چي اوس د مخلوقاتو، انسانانو، حيواناتو او مرغانو ترمنځ موجوده ده، دا په حقيقت كي د هغه پراخ الهي رحمت د سلو برخو نه يوه وړه برخه ده چي پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخلوقاتو ئې وېشلی ده. د مخلوقاتو نور صفات لکه سمع، بصر، قدرت او اراده هم پدې قیاس کړی. انسان نشي کولی ټيټ غږ واوري، همداراز له لری نه هم څه نشي اورېدلی، د پردی شا ته څه نشي ليدلی، له لری فاصلې نه هم د ليدلو توان نه لري. د ډېرو شيانو د احساس او مشاهدی توان او وس نه لري، نشي کولی انرژي، جاذبه، نور، پيريان او پرښتې ووينې يا ئې احساس کړي. خو قرآنکريم د الله تعالی په هکله فرمايي :

وَإِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَإِنَّهُ يَعْلَمُ السِّرَّ وَأَخْفَى * طه: ٧

که خبره په لوړ غږ وکړی، نو بيشکه چې الله تعالی په سري او خفي ټولو پوهېږي.

همدارنګه له لقمان حکيم حکايت کوي او فرمايي :

يَابُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُنْ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ لقمان: ١٤

اې ګرانه زويه: حقيقت دا دئ چې که (ګناه) د خردل (مشنګ) د دانې په اندازه وي او د يوی ږبږی په د ننه کي وي او يا په آسمانونو او ځمکي کي وي، الله تعالی به ئې راوړي (له هغه نه پټه نه پاتې کېږي) بيشکه چې خدای لطيف او خبير دئ.

همدارنګه فرمايي:

وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَبِّكَ مِنْ مِثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَلَا أَصْغَرَ مِنْ ذَلِكَ وَلَا أَكْبَرَ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ * يونس: ٦١

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ستا له رب څخه نه د ذرې په اندازه "کوم څیز" نه په ځمکي کي پټیدلی شي او نه په آسمان کي او نه له دې نه کوم وړوکی او یا لوی داسي څیز شته چي په څرگند کتاب کي دي نه وي (لیکل شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د الله تعالی افعال

په قرآنکريم کي د الله تعالی افعال د هغه د نومونو او صفاتو په اندازه ذکر شويدي، د مثال په ډول خلاق: پيداکوونکی، اسم يا نوم دئ او يخلق: پيدا کوي، فعل دئ، لکه چي قرآنکريم فرمايي :

**قَالَ كَذَلك اللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ *** آل عمران: ٤٧

وئي ويل: همداراز الله تعالی چي څه وغواړي پيدا کوي ئې.

الله تعالی رازق: روزي ورکوونکی دئ او روزي ورکول ئې فعل دئ. قرآنکريم فرمايي :

**إنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَاب *** آل عمران: ٣٧

الله تعالی هر چا ته چي وغواړي بې حسابه روزي ورکوي.

عليم: پوه، د الله تعالی نوم دئ او تعليم ئې فعل دئ، قرآنکريم فرمايي : "

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الرَّحْمَانُ * عَلَّمَ الْقرآن * خَلَقَ الْإنسَانَ * عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ***

رحمن خدای قرآن وښود ، انسان ئې پیدا کړ، هغه ته ئې وینا ورزده کړه.

د انسان لپاره هم همدا ډول افعال ذکر شوي دي. قرآنکریم له عیسې علیه السلام نه نقل قول کوی فرمایي:

**أَنِّي أَخْلُقُ لَكُمْ مِنْ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللَّهِ.....** آل عمران: ٤٩

زه ستاسې لپاره له خټې نه د مرغه ښېره جوړوم، بیا په هغه کي پو کوم، نو هغه به د خدای په اذن سره مرغه شي.

او د روزي په هکله فرمایي:

**وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمْ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا ***

النساء: ٥

خپل مالونه چي الله تعالی ستاسو لپاره د "ژوند" د قیام "وسیله" گرځولي بې عقلانوته مه ورکوئ او پدې مالونو سره د دوی د روزي انتظام وکړئ او جامې ورته تهیه کړئ او دوی ته نېکي او منل شوې خبري وکړئ.

دا چي انسان هم نوروته د ښوونی فعل ترسره کولی شي، فرمایي:

**هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمْ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ضَلَالٍ مُبِينٍ** * الجمعه:۲

الله تعالیٰ هغه ذات دئ چي په امیانو او نالوستو کي ئې د دوی له منځه پیغمبر مبعوث کړ، ترڅو د ده آیتونه ورته ولولي، تزکیه ئې کړي، کتاب او حکمت ته ورزده کړي، پداسي حال کي چي لدینه مخکي په ښکاره گمراهی کي وو.

د انسان د افعالو او پر خپلو افعالو د ده قدرت او واکمني او د افعالو د نتائجو توپیر ئې له الهي افعالو سره هومره دئ لکه د الله تعالی او انسان د ذات او صفاتو ترمنځ توپیر.

پدې اړه یوه ډېره ضروري او د زیاتی توجه او پاملرني وړ خبره دا ده چي د الله تعالی د فعل د انجام کیفیت لکه د هغه د ذات په شان د انسان د فهم او ادراك نه لوړ دئ، هیڅ مثال ئې نه موندل کېږي. انسان څکه د الله تعالی د افعالو کیفیت نه شي درك کولی چي د الله تعالی د ذات د کیفیت په هکله علم نه لري. د مثال په توگه مونږ په دې پوهېږو چي د انسان نطفه له هغو توکیو نه جوړېږي چي له خاوري نه راشني شوي داني او مېوې نه ئې اخلي، دا نطفه بیا په علقه او ورپسې په یوه ټوټه غوښه بدلېږي، بیا هډوکي ترې جوړ او بیا د ماشوم په شکل دنیا ته راځي، ورپسې ځوان شي، پیاوړی او تنومند شي، بیائې له همدی ځای نه زوال پیل شي، زوړ او بیا مړ شي، دا ټول کارونه د قیوم خدای په اراده صورت نیسي؛ خو څرگنده ده چي په دې امورو کي د الله تعالی د تصرف کیفیت مونږ نه شو درك کولی.

همدا رنگه وینو چي د بحرونو اوبه تبخیرېږي، بیا په وریځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلېږي، بادونو ته امرکېږي چي دا وريځی ليری، ليری سيموته يوسي او هلته بيا د واوری، باران او ږلۍ په شکل ورېږي او له دې اوبو نه ويالی، سيندونه او رودونه بهېږي، شاړې او وچي ځمکي ورباندي شنې او خړوبېږي، تر خاورو لاندي دانه (تخم) په حرکت راځي، وده کوي، شنه شي او لوی نبات ترې جوړ شي، ساقه او پاڼی ئې شنې شي ، گل او مېوه وکړي، دا ټول کارونه د الله تعالی په اراده ترسره کېږي، خو په دې امورو او د دانې د تطور په دې مراحلو کي د الله تعالی د تصرف د کيفيت ادراك زمونږ لپاره ناممکن او محال دئ.

کم شمېر داسي نصوص هم شته چي په هغوې کي الله تعالی ته داسي افعال منسوب شوي چي هغوې ته ورته افعال انسان په خپلو اندامونو او جوارحو ترسره کوي او يو شمېر نورو نصوصو کي الله تعالی ته داسي افعال منسوب شوي چي كه ظاهری معنی ترې واخيستل شي نو له مخلوق سره د الله تعالی د تشبيه احتمال پکي رامنځته کېږي، د مثال په توگه که د قرآنکريم په دې آيت کي غور وکړو چي فرمايي:

وَجَاءَ رَبُّكَ وَ الْمَلكُ صفًا صفًا * الفجر: ۲۲

او ستا رب به راشي پداسي حال کي چي ملايکي به ليکه ليکه وي.

که په دې مبارك آيت کي د "جاء" لفظ په ظاهري او متداوله معنی واخلو نو بيشکه چي معنی به ئې دا وې چي الله تعالی به د قيامت په ورځ داسي راشي لکه مخلوقات چي له يوه ځای نه بل ته حرکت کوی، که دا معنی ترې واخلو نو د تشبيه مرتکب شوي يو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هرڅو په خوله ووایو چي بلاتشبیه او بلاتکییف! که "جاء" پدې معنی واخلو نو په خوله بلاتشبیه ویل هیڅ فایده نه لري. خو که ووایو چي الله تعالی راځي، خو له راتگ نه دا ظاهری او متداوله معنی وانخلو، بلکه مراد او حقیقت ئې خدای ته وسپارو، نو په دې صورت کي مو له تشبیه نه ځان ساتلي. راتگ مخصوصا په هغه ځای کي چي له اجسامو سره تړاو ونلري تل د گام اخیستلو په معنی نه وي. د مثال په ډول:

**حَتَّى تَأْتِيَهُمْ السَّاعَةُ بَغْتَةً أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ***

الحج:٥٥

تر هغی پوری چي قیامت ناڅاپهورباندي راشي او یا د بې خیره ( شنډی ) ورځی عذاب ورباندي راشي. یوم عقیم یعنی هغه ورځ چي خیر نه وي پکي او بله ورځ ورپسې رانشي.

او یا دا آیت:

**من بَعدِ مَا جَائَتهُمُ البَيِّنٰتُ**

وروسته له هغه چي ښکاره نښانې ورته راغلې.

آیا په دې آیتونوکي د قیامت او نښانو له راتگ نه همدا ظاهري راتگ او گام اخیستل مراد دې؟ داسي راتگ چي په گام اخیستو سره مخکي درومي او مسافه وهي؟ او که نه دلته له راتگ نه مطلب دا دئ چي دا شیان به ورته ښکاره شي او پیغمبران علیهم السلام به ئې ورته بیان کړي؟!

دا ډول آیات او احادیث یو شمېر علماوو د متشابهاتو په نامه یاد کړي او یو شمېر نورو د صفاتو آیات او احادیث نومولي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدی نصوصو د تفسير او بيان په هکله د علماوو ترمنځ زيات اختلاف وجودلري او له همدې امله مختلف او متعدد افكار او ډلي رامنځته شوي دي او خبره تردی حده رسېدلی چي يوه ډله د بلی د تكفير حكم صادركړي. د همدی موضوع په حقيقت د پوهېدو پخاطر بايد د عليم او حكيم خدای كتاب او د پاك رسول صلی الله عليه وسلم احاديثو ته مراجعه وكړو او وګورو چي هغوی څه لاربښوونه راته كوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قرآنکريم او متشابهات

د قرآنکريم آيتونه په عامه توگه دوه نوع دي:

- محکم آيتونه: هغه چي د الفاظو مراد او معنی ئې څرگنده او واضح ده، داسي الفاظ او کلمات پکي کارول شوي چي ظاهري او ذهن ته نږدې معنی ئې څرگنده ده او د هيڅ شك او شبهې احتمال پکي نشته. همدا محکم آيتونه د قرآنکريم د مفاهيمو اساسي محور تشکيلوي.
- متشابه آيتونه: هغه چي له داسي شيانو نه پکي بحث شوی چي نه د لمس وړ دي او نه د مشاهدې او ليدني، داسي شيان چي انسان په خپل قاموس کي د هغه لپاره نوم نه لري. دا غيبي شيان په دې آيتونو کي پداسي الفاظو سره معرفي شوي دي چي انسان ئې معمولاً د محسوس او ملموس شيانو لپاره کاروي. پدې سره قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل مخاطب په نسبي طور د هغو غیبي شیانو په حقیقت څه ناڅه پوهوي چي د هغوي لپاره په خپل قاموس کي هیڅ نوم نه لري.
قرآنکریم په دې رابطه فرمایي:

هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُوا الْأَلْبَابِ * آل عمران:۷

الله هغه ذات دئ چي دا کتاب ئې پرتا باندي نازل کړ، چي ځیني آیتونه ئې محکم دي، چي دا د کتاب بنسټ دئ او نور ئې متشابه دي، نو هغه کسان چي په زړونو کي ئې کوږوالی دئ په متشابه پسې ئې درومي، د فتنې په لټه کي او د تأویل په لټه کي، پداسي حال کي چي په تأویل ئې له الله پرته هیڅوك نه پوهېږي او هغه چي د راسخ علم خاوندان دي وایي: مونږ ایمان پرې راوړی، ټول زمونږ د رب له لوري دي او پند نه اخلي مگر د عقل خاوندان.

دا مبارك آیت څو مهم مطالب زمونږ مخي ته ږدي:

- د دې کتاب ځیني آیتونه "محکم" دي او ځیني ئې "متشابه"
- د کتاب اصلي او اساسي مطالب په هغو آیتونو کي راغلي چي محکم دي ا و تشبیه نده پکي کارول شوې.
- متشابه آیتونه چي په مفهوم ئې پوهېدل غور او دقت غواړي باید همدې محکمو آیتونو ته راجع شي او د همدی آیتونو په رڼا کي تفسیر او توضیح شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه کسان چې په زړونو کې ئې خیرې او کوږوالی وي، د دې په ځای چې د متشابه آیتونو په مراد باندې ایمان کافي وګڼي، برعکس د دې آیتونو په تأویل د پوهېدو هڅه او لټه کوي او غواړي هغه د خپل بحث او تحقیق محور وګرځوي.
- هغه کسان چې غواړي دغه ډول آیتونه د مناقشې او بحث موضوع وګرځوي، هغوی په حقیقت کې یا د فتنو راولاړول غواړي، د دې هڅه کوي چې د الله تعالی په هکله د مسلمانانو په زړونو کې شکوك او شبهات راولاړ کړي او خلك د محکمو آیتونو له مفاهیمو نه بل لور ته واړوي او یا دا چې غواړي د متشابهاتو په تأویل ځان پوه کړي. د تأویل لغوي معنی اول یا اصل ته اړول دي، تأویل یعنی د متشابه آیت فعلي حالت د هغه لومړني حالت ته ګرځول، ګویا دوی غواړي په دې پوه شي چې د دې متشابه اصلي او اولني حالت او کیفیت څنګه دئ؟!
- دا هلې ځلې او دا هڅه او هاند د هغه چا کار دئ چې زړه ئې کوږ او خیرن وي، پر زړه او دماغ ئې شکونو سیورې غوړولی وي.
- د متشابهاتو د تأویل علم یوازې له الله تعالی سره دئ، بل هیڅوك نشي کولی په هغه باندې پوه شي، ځکه الله تعالی هغه غیبي او له سترګو نه پټ شیان چې انسان ئې نه پېژني او نه په خپل قاموس کې ورته نوم لري، د انسان د ښې پوهې پخاطر له محسوسو او پېژندل شوو شیانو سره تشبیه کړي او پداسې الفاظو سره ئې معرفي کړي دي چې په حقیقت کې د ښکاره او څرګندو شیانو لپاره استعمالېږي. د دې لپاره چې هغه د انسان لپاره د فهم وړ وګرځوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغه څیز د حقیقت په اړه نسبي تصور ورته حاصل شي، د دې مطلب دا شو چې د دغو شیانو د معرفي لپاره ترممکنه حده او تر هغه ځایه چې د انسان عقل ته مقدور ده اهتمام شوي او د متشابه آیتونو په ترڅ کې معرفي شوي، د انسان د عقل نیلۍ لدې نه آخوا وړاندي نشي تلی، دا د ده د الوت وروستۍ پړاو دئ، آخوا ته ئې لاس نه رسېږي، د ده له عقل او ادراك نه لوړ دي، الله تعالی د همدې ډول شیانو د معرفي کولو لپاره ښه لازمه څرگندونه کړیده او د انسان د عقلي قوت مطابق وضاحت ئې کړی، خو لدینه آخوا عقل د مخکې تگ مجال نه لري، باید همدلته ودرېږي او د متشابهاتو له تأویل نه ځان وساتي. د انسان د عقل او پوهی قصور، د حواسو او مشاعرو محدودیت ئې او د ژبې او قاموس عدم جامعیت ئې باعث شوي چې له مخکې تگ نه عاجز شي او د متشابهاتو په حقیقت تر دې زیات پوه نشي.

پداسي حال کې چې د قرآنکریم دا مبارك آیت په پوره صراحت او وضاحت سره دا بیانوي چې د کږو، رنځورو، خیرنو، له شك او شبهاتو نه د ډکو زړونو خاوندان د متشابهاتو د تأویل په لټه کې وي، متأسفانه د ځینو مذهبي فرقو پلویان د دې آیت د صریح حکم خلاف دعوی کوي چې د دوی ائمه د متشابهاتو په تأویل پوهېږي، دوی د دې ادعا کوي چې په علم کې پاخه "الراسخون في العلم" مستثنی شوي، دوی کولی شي د متشابهاتو په تأویل پوه شي. د آیت د دوهمي برخي په هکله د دوی دا انگېرنه په څرگنده توگه د همدی آیت له لومړنۍ برخی سره تناقض لري، د دوی دا تعبیر بالکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلط او کمزوری دئ، ځکه د آیت په سرکي راځي چي د رنځورو زړونو خاوندان د متشابهاتو د تأویل هڅه کوي، دا ممکنه نده چي د علم خاوندان د داسي یوه عمل هڅه وکړي.

- عالمان ټول آیتونه د الله تعالی له لوري شمېری، ایمان وربانديي راوړی او هوښیاران پند تري اخلي.

متأسفانه د متشابهاتو په اړه یوه بله ډله له لومړنی ډلی نه هم زیاته بې لاره شوې او په غلطه روانه ده، هغوی د متشابه آیتونو له الفاظو نه ظاهري معنی اخلي، خصوصاً په هغوآیتونو کي چي د الله تعالی له صفاتو نه پکي یادونه شویده!! هغه کسان چي د متشابه آیتونو الفاظ په ظاهري معنی سره اخلي او په دې سره د الله تعالی لپاره مثال جوړوي او له مخلوق سره ئې تشبیه کوي، مونږ دا سوال ترې کوو چي: ولې د قرآن د ټولو آیتونو په اړه دا کار نه کوي، ولې په هر ځای کي د الفاظو ظاهري او متداوله معنی نه اخلي؟ راشی له سلهاو آیتونو نه یو څو د دوی مخي ته کېږدو او ترې تپوس وکړو چي دلته د الفاظو ظاهري معنی ولې له نظره غورځوي؟

په دې آیت کي:

**اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ***

مونږ پر سمي لار هدایت کړه

تاسي ولې له صراط نه د هغه ظاهری معنی نه اخلئ؟ صراط یعنی د ځمکي پرمخ لاره چي له یوې نقطې نه پیل او په بله ختمېږي!! تاسي ولې د دې ظاهری معنی په ځای د الله عبادت مستقیمه لار ګڼې؟ همغسی لکه چي قرآن فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ ***

آل عمران: ۵۱

بیشکه زما او ستاسي رب الله دئ، نو عبادت ئې وکړئ، همدا نېغه لاره ده.

همداراز په دې آیت کي :

**خَتَمَ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ وَعَلَى سَمْعِهِمْ وَعَلَى أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ *** البقره: ۷

الله تعالی د دوی پر زړونو او غوږونو مهر وهلی او پر سترګو ئې پرده غوړیدلی ده او د دوی لپاره لوی عذاب دئ.

آیا دلته هم "ختم"یعنی مهر په ظاهری معنی اخلئ؟ آیا ګمان کوئ چي الله تعالی هم داسي کوم مهر لري چي د کافرانو پر زړونو او غوږونو ئې وهلی دئ؟ او دا تصور کوی چي د هغوی په سترګو د پردی معنی هم همدا ظاهري معنی ده؟! او کنه لدینه دا مفهوم اخلئ چي الله تعالی له دوی نه د حق لیدلو او د حق د منلو استعداد اخیستی دئ، دا استعداد ئې د دوی په زړونو او غوږونو کي ځپلی او له مینځه ئې وړی دئ؟ ولې او په کوم دلیل په دې مبارك آیت کي د"خَتَم" او"غشاوه" ظاهری معنی نه اخلئ او مجازي مفهوم ئې اخلئ؟

پدې آیت کي:

**صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لا يَرْجِعُونَ *** البقرة: ۱۸

کاڼه، ګونګیان او ړانده دي، نو ځکه نه راګرځي.

آیا دلته له صم، بکم، عمي، نه ظاهری معنی اخلئ او ادعا کوئ چي منافقان کاڼه، ګونکیان او ړانده د ي؟ ځرګنده ده چي د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلماتو ظاهري معنی اخیستل دلته ممکن او صحیح نده.

په دې آیت کې:

فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ * البقره :٣٦

نو شیطان هغوی دواړه وښویول.

آیا دلته له ښویدلو(زل) نه دا معنی اخلئ چي گویا شیطان د دوی تر پښو لاندي اوبه توی کړې او د دوی پښې ورباندي ښوېدلې او همداسي په ښویدو، ښویدو له جنت نه ووتل او که نه لدینه مطلب معنوی ښویدل دي؟ همداراز آیا په دې آیت کې:

وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ *

البقرة:٤٢

حق ته د باطل لباس مه وراغوندی او حق مه پټوئ پداسي حال کي چي پوهېږئ.

آیا دلته هم له "تلبسوا" نه ظاهری معنی اخلئ؟ او ادعاکوئ چي باطل یوه جامه ده چي حق ته وراغوستل کېږي او پدې سره له نظر نه پټېږي او که نه داسي ئې تفسیروئ چي حق له باطلو توجیهاتو او نظریاتو سره مه مغشوش او گډوډوئ او حق په خپلو غلطو تعبیراتو سره سرچپه مه ښئي، داسي چي خلك وغولېږي او باطل ته د حق په سترگه وگوري.

دا آیت:

وَأُشْرِبُوا فِي قُلُوبِهِمْ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ * البقره :٩٣

او خوسی (خوسندر) د دوی په زړونوکي وروڅښل شو، د دوی د کفر له امله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا له "اشربوا" نه د هغه ظاهري معنی اخلئ او گمان کوئ چي سخوندر هم لکه اوبه هغوی ته ورڅښل شوی او په زړونو کي ئې ځای نیولی؟ او که نه داسي ئې معنی کوئ چي د سخوندر محبت ئې داسي په زړونو کي ځای نیولی لکه چي دی په خپله د دوی زړونو ته ننوتی او هلته ئې ځای نیولی وي او مینه ئې پردوی مسلطه شوې وي؟

دا آیت:

**وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمْ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ** * البقره: ٦١

او ذلت او خواری ورباندي وتپل شوه.

آیا دلته له "ضُربت " نه مطلب د هغه ظاهری معنی ده او آیا خواری او ذلت داسي شیان دي چي په نورو ورتپل کېدی شي؟ او که نه دلته ناقابل لمس مفهوم ته عیني تجسم ورکړل شوی ترڅو ذهن ته نږدې کړی شي او دا مطلب افاده کړی شي چي ذلت او خواری ورباندي مسلطه کړي شوه، له داسي خوارۍ او ذلت سره مخ کړی شو چي نښانې ئې له ورایه ښکاري او اجتماعی ژوند او حالت ئې په ذلت او خوارۍ دلالت کوی؟

دا آیت:

**ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُمْ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً**

البقره: ٧٤

وروسته ستاسو زړونه داسي سخت شول لکه تېږه او تر دې هم زیات سخت.

آیا له "قست قلوبکم" نه ظاهری معنی اخلئ او دا سختوالی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تيرې د سختوالی په څېر ګڼئ؟ او که نه له دې نه مطلب د زړه بې رحمي او عدم عطوفت دئ او دا چې د حق خبره پر دې زړونو اغېز نشي کولی د تأثيرقبلولو استعداد ئې ځپل شوي؟

په دې آيت کي:

**بَلَى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ فَأُوْلَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ *** البقره: ۸۱

بلی، چا چي بدی وکړه او خپله ګناه ئې ورباندي راتاو شوه نو همدا دوی دوزخيان دي چي تل به پکي پاتې وي.

آيا دلته له "احاطت به خطيئته " نه دا مطلب اخلې چي ګناه هم داسي يو څيز دئ چي خوځېږي او انسان احاطه او محاصره کوي؟ او که نه، معنی ئې دا ده: هرڅوك چي داسي ګنهګار وي چي ګناه ئې ټول وجود نيولی او هغه ئې له هری خوا نه داسي محاصره کړی وي چي د وتلو ټولي لاري ورباندي تړل شوی وي؟

دا يوازي د قرآن د لومړی جزء د بقره د سورت ځيني آيتونه وو او له همدی نه اندازه لګولی شئ چي په ټول قرآنکريم کي به د دا ډول آيتونو شمېرڅومره وي. څو بېلګی له نورو سورتونو نه هم رااخلو:

د مريم په سوري کي د زکريا عليه السلام د زوړوالی په هکله راځی:

**قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا *** مريم: ٤

وئې ويل: اې زما ربه! زه خو داسي يم چي هډوکي مي سست شوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



له زوړوالی مي سر مشتعل شوی (سپین والی پکي لگیدلی) او تا ته
په دعا کي شقی او کم بخته نه وم.

آیا په "اشتعل الراس شیبا" کي د اشتعل ظاهری معنی مطلوبه ده؟ یعنی دا چي په سرئې له زوړوالی نه اور بل شوی؟ او که د زوړالي نښانې ئې داسي په سرکي ښکاره شوې لکه د اور لمبه چي له ورایه ښکاري او یو ځل چي په څه شي گډه شي نو هغه ټول احتوا کړي؟

په همدی سورت کي راځي:

**یَایَحْیَی خُذْ الْکِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَیْنَاهُ الْحُکْمَ صَبِیًّا *** مریم: ۱۲

ای یحیی! دا کتاب په قوت سره واخله....

آیا دلته له "خذالکتَب بِقُوة " نه ظاهری معنی اخیستل صحیح دي؟ او آیا معنی ئې دا ده چي اې یحیی! دا کتاب په دواړو لاسونو سره کلك ونیسه او په کلك نیولو کي ئې خپل ټول قوت وکاروه؟ او که نه معنی ئې دا ده چي دکتاب په حمل او پر هغه عمل کي له خپل ټو ل توان او ځواك نه کار واخله، په ډاډه او مطمئن زړه ئې حمل او په پوره باور او قوت سره عمل ورباندي وکړه؟

د التکویرپه سورت کي راځي:

**وَ إِذَا السمَاءُ کُشطت *** التکویر: ۱۱

او هغه وخت چي آسمان پوست کړی شي.

د "کشطَت" ظاهری معنی له حیوان نه د پوست ایستل دي، آیا دا خبره سمه ده چي ووایو: آسمان به هم د کوم حیوان په څېر له پوسته کړی شي؟ او که نه معنی ئې دا ده چي هغه ورځ به د آسمان دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاجوردي پرده له مینځه لاړه شي او هغه څه به ښکاره شي چې اوس ئې شاته پټ دي، دوزخ به راڅرګند او جنت به ولیدلی شي ؟

په دې مقدمه کې دوه اساسي مطالب په ښه توګه څرګند او بیان شویدي:

- د متشابه آیتونو په تأویل پسې لټه او هڅه د فتنه ګرو خلکو کار دئ او دا داسي بې ګټې او بې حاصله کوشش دئ چې یوازي هغه کسان ئې کوي چې غواړي په دې بې هدفه هڅو سره ځان عالم او پوه معرفي کړي.
- نه ښايي د متشابه آیتونو له کلماتو او الفاظو نه د هغوی ظاهري معنی واخلو.

اوس راځئ د همدی مفاهیمو او څرګندونو په رڼا کې دا وګورو چې اهل ظاهر د الهي صفاتو په اړه څه نظر او تصور لري؟

هغوی عقیده لري هغه صفات چې له افعالو سره تعلق لري لکه:

مجئ او اتیان: راتګ.

نزول: کوزیدل.

اخذ ، امساك، بطش: نیول،اخیستل.

استوی: استقرار، کیناستل.

هروله: منډه

او دې ته ورته نور باید د هغوی په ظاهری معنی حمل شي، ځکه دا په قرآن او حدیث کې راغلي او ثابت دي، نو لازمه ده چې ظاهری معنی ترې واخیستله شي. دوی د دې افعالو په منځ کې په دې آیت: الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى* او په دې حدیث: وینزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربناالیالسماء الدنيا" ډېر تأکيد او ترکيز کوی. راشئ دا آيتونه او احاديث لږ په تفصيل سره وڅيړو، خو لدې نه وړاندي د لاندنيو څو ټکيو يادونه ضروري شمېرو:

مونږ په هغو الفاظو او کلماتو چي پدې آيتونو او احاديثو کي ذکر شويدي اقرار او تکلم کوو، په مفهوم او معنی ئې باور او ايمان لرو، له تأويل نه ئې ډډه کوو او ظاهری معنی نه ترې اخلو؛ ځکه که داسي وکړو نو بيا د تشبيه او تمثيل مرتکب ګرځو. او په دې کي هيڅ شك نشته چي هيڅ شی له الله تعالی سره ورته والی او مشابهت نه لري، نه ئې د ذات مثال شته او نه د صفاتو او افعالو. د امام ابوحنيفه (رح) له شاګرد محمد بن الحسن(رح) نه روايت دئ چي وايي:

**اتفق الفقهاء كلهم من المشرق و المغرب على الايمان بالقرآن و الاحاديث التى جاء بها الثقات عن رسول الله صلى الله و سلم في صفة الرب عزوجل من غير تفسير و وصف و لا تشبيه، فمن فسر اليوم شيء من ذلك فقد خرج عما كان عليه النبى صلى الله عليه و سلم و فارق الجماعة فانهم لم يصفوا و لم يفسروا.**

ټول فقهاء، په شرق او غرب کي، په دې باندي متفق دي چي په قرآنکريم کي او د معتبرو اشخاصو پواسطه له رسول الله (ص) نه په روايت شوو احاديثو کي د الله تعالی د صفاتو په هکله راغلو نصوصو باندي له تفسير، توصيف او تشبيه نه پرته ايمان درلودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازم دي، که څوك لدې نصوصو نه د کوم یوه تفسیر کوي، هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طریقې نه مخالفت کوي او د مسلمانانو له ډلی نه وځي، ځکه دوی (سلفو) دا ډول نصوص نه تفسیر او نه توصیف کړي.

یوه کس عبدالله بن المبارك ته وویل:

**یا ابا عبدالرحمن إني اکره الصفة عن صفة الرب فقال له عبدالله بن المبارك: انا اشد الناس کراهیة لذلك و لکن اذا نطق الکتاب بشئ قلنا به و اذا جاءت الآثار بشئ جسرنا علیه.**

اې ابو عبدالرحمن: زه د الله تعالی د صفاتو په اړه بحث نه خوښوم! عبدالله بن المبارك ورته وویل: زه له هرچا نه زیات له دې ډول بحثونو نه کرکه لرم، خو که قرآن کریم پدې هکله څه ووایي، نو همغه وایو او که پدې اړه په آثارو کې څه ذکر شي، نو د هغه د ویلو په اړه له جسارت نه کار اخلو.

لدې اقوالو نه دا په ډاګه کېږي چې پخوانیو او سلفو علماوو د دې ډول آیتونو او احادیثو له تأویل او تفسیر نه ډډه کوله، یوازې تلاوت، لوستل او پر مفهوم ئې ایمان کافي بالو.

ابن تیمیه د "الحمویه الکبری" کتاب په **۲۳** مخ کې لیکي:

**واعلم ان من المتأخرین من یقول مذهب سلف اقرارها علی ما جائت به مع اعتقاد ان ظاهرها غیر مراد**

پوه شه چې یو شمېر متأخرین علماء وایي چې د سلفو مذهب او طریقه دا ده چې څه چې راغلي په هغی باندې باید اقرار وشي، لدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتقاد او باور سره چې ظاهرې معنی ئې مراد نده. ابن تیمیه په خپله له دې نظر سره موافق ندی.

د امام مالك په هکله روایت دئ چې یوه کس ترې پوښتنه وکړه چې: په "الرحمن عَلی العرش استوی" آیت کې د استوی معنی څه ده؟ امام مالك خپله تنده په خپیره ووهله، له ډېری وېرې او غم نه خولې ورباندې راماتې شوې، وئې فرمایل:

**الاستواء معقول، والكيف فيه مجهول والسؤال عنه بدعة.**

استوی معلومه ده، خو کیفیت ئې مجهول دئ او په دې اړه سوال بدعت دئ.

اهل ظاهرکه څه هم په ظاهره د امام مالك (رح) پدې قول زیات استناد کوی، خو په خپلو ټولو بحثونو او مناقشاتو کې د دې قول خلاف عمل کوي. گورو چې امام مالك (رح) لدې پوښتنی نه سخت خفه کېږي، له ځواب ورکولو وېرېږي، خپله تنده په خپیره وهی، خولی ورباندې راماتېږي، خو د اهل ظاهرو د مناقشاتو اصلي موضوع همدا ده او ټول د همدې قضیې په محورکې په پوره جسارت بحث او مناقشې کوي. امام مالك (رح) دا ډول سوال بدعت شمېري او وایي چې په سلفو کې سابقه نه لري، خو اهل ظاهر ئې واجب گڼي او د اسماء او صفاتو د توحید اساس ئې شمېري!! امام مالك (رح) د استواء له ترجمې نه ډډه کوي، یوازې دومره وایي چې استواء معلومه ده! خو دا ډله استواء د هغې په ظاهری معنی ورحمل کوي او ځیني خو ئې له دومره جسارت نه کار اخلي چې په کرسۍ (څوکۍ) او یا منبرکښېني او بیا وایي: دا استواء ده!! دوی په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره او د استواء په دې ډول ترجمې سره د تمثیل او تشبیه مرتکب ګرځي، که څه هم په خوله ووايي چې بلاتشبیه او بلاتکییف، هغوی په دې ډول تفسیرسره الله تعالی له انسان سره تشبیه کوي او داسې حالت ثابتوی چې الله تعالی هم لکه انسان کښېني او پاڅېږي، ځي او ولاړېږي، راکوزېږي او بره خېږي!! چې دا بلکل تشبیه او تمثیل دئ.

## له اهل ظاهرنه یوه پوښتنه

له دې دوستانو نه چې الله تعالی دې ورته هدایت وکړي، پوښتنه کوم چې زما دې سوالونو ته څه ځواب لري: الله تعالی فرمایي:

**أَلَمْ تَرَى أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ *** الحج:١٨

آیا نه ګورې چې په آسمانونو او ځمکې کې هرڅه، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، وني، حیوانات او ډېر خلك الله تعالی ته سجده کوي.

آیا د لمر، سپوږمۍ، ستورو، حیواناتو، ونو او نورو سجده لکه د انسان د سجدی په شان ده؟ آیا دا شیان هم د ملا تیر او بندونه لري، ټیټېږي او سر پر ځمکه ږدی؟ او د انسان په شان سجده کوي؟ او که نه لدې سجدی نه مراد او مطلب اطاعت او تسلیمي ده؟ داسې اطاعت چې په هر څه کې د الله تعالی امر ته تابع دي، په هرڅه کې د هغه حکم عملي کوي او په همغه لار روان دي چې الله تعالی ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاکلی او د ټاکلی هدف په لور مخ په وړاندي ځي، هیڅ انحراف او غفلت نه کوي.

د قرآن کریم بل آیت فرمایي:

**وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ** * آل عمران:۸۳

څه چي په آسمانونو او ځمکه کي دي، په خوښه او ناخوښه ( په هرحال کي) خدای ته تابع او تسلیم دي او ټول د ده په لوري بېرته ګرځول کېږي.

پداسي حال کي چي د مخلوق په هکله د هغو کلماتو ظاهري معنی اخیستل صحیح نه وي چي د تشبیه لپاره کارول شوي، نو د الله تعالی په اړه استعمال شوي د تشبیه الفاظ او کلمات څنګه په ظاهري معنی حمل کولی شو؟ باید دا په پام کي ولرو چي قرآن کریم د انسانانو لپاره رانازل شویدی،د انسانانو په ژبه دئ، د انسان قاموس د ده د عقل په څېر محدود او ناقص دئ، د انساني فرهنګ کلمات محدود او ناقص مدلول لري، انسان یوازي د هغو شیانو لپاره نومونه وضع کړي چي ملموس او مشهود دي، دا الفاظ د غیرملموسو او پټو شیانو د معرفي لپاره کافي ندی او په دې سره د هغی حق په صحیح توګه نشي ادا کېدلی.

مونږ ایمان لرو چي خدای مالك الملك دئ او په ټولو موجوداتو کي د خپلي خوښی مطابق تصرف کوي، حکم ئې هرچیرته نافذ دئ، د ټول عالم تدبیر له ده سره دئ، د هرڅه واکمن دئ، د امورو او کارونو پای او عاقبت هغه ټاکي، د کارونو د لا س ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړنو او نتائجو ټاكل د ده كار دئ، هرچا ته دخپل عمل جزا او سزا وركوي، هرڅه د ده په اراده ترسره كېږي، الله تعالیٰ د ځمكي او آسمان له خلقت نه وروسته په هغه څه چي عرش ئې نومولی استواء كړې او له هغه نه چي ترټولو كائناتو لوړ او په هرڅه احتواء لري، احكام صادروی او ټول موجودات اداره كوي، خو له عرش نه د هغه ظاهری معنی نه اخلو، نه وايو چي عرش لكه د پاچايانو عرش (تخت) داسي دئ او نه هم له استواء نه ظاهري معنی اخيستل صحيح ګڼو.

له ابن عباس ر(ض) نه د عرش په هكله روايت دئ وايي:

**ان الكرسی موضع قدمين، وان العرش لا يقدر قدره الا الله.**

يعنی كرسی د پښو اېښودلو ځای دئ او عرش داسي دئ چي بېله خدايه ئې هيڅوك اندازه نشي لګولی.

ابوهريره رضي الله عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه روايت كوي چي فرمايي:

**ان الله اذن لي ان احدثكم عن ملك قد مرقت رجلاه الارض السابعة السفلی و العرش علی منكبه و هو يقول سبحانك انت و حيث تكون.**

ما ته الله تعالی اجازه راكړه چي د هغی پرښتی په هكله تاسي ته معلومات دركړم چي پښی ئې د ځمكي له اوومي طبقی نه لاندي تېرې شوې او عرش ئې په اوږو دئ او وايي: خدايه! پاكي ده تا لره هرچير ته چي وې.

ګورئ! يوه دومره باعظمته پرښته چي د عرش حامل ده، پښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې له اوو آسمانونو او ځمکې نه تېرېږي، د الله تعالی د ذات له ادراك نه عاجزه ده، د استواء په کیفیت نه پوهېږي، په خپله ناتوانۍ اعتراف کوي او وایي: خدایه! هر چیرته چې وې پاکې تا لره ده!

مونږ همداراز په دې آیت هم ایمان لرو چې فرمایي:

**أَلَمْ تَرَى أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَا يَكُونُ مِنْ نَجْوَى ثَلَاثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَا أَدْنَى مِنْ ذَلِكَ وَلَا أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ**

المجادله: ٧

آیا نه گورئ چې الله تعالی په هرهغه څه پوهېږي چې په آسمانونو او په ځمکه کې دي، نه داسې نجوی شته چې د دریو ترمنځ وي او دی ئې څلورم نه وي او نه د پنځو ترمنځ چې دی ئې شپږم نه وي او نه تر دې کم یا زیات مگر دا چې دی ورسره وي، هرچیرته چې وي، بیا به ئې د قیامت په ورځ په خپلو اعمالو خبر کړي، بیشکه چې الله په هرڅه پوه دئ.

## د الله تعالی معیت

مونږ د الله تعالی په معیت او ملتیا، عام دئ که خاص، ایمان لرو، تأویل نه پکې کوو او نه ئې په ظاهري معنی حمل کوو او له بندگانو سره د الله تعالی معیت په عرش له استواء سره منافي نه شمېرو، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما منكم من احد الا سيرى ربه مخلياً به فقال له ابو رزين العقيلي: كيف يا رسول الله و هو واحد و نحن جميع؟ فقال النبي صلى الله عليه وسلم: سأنبئك بمثل: ذلك في آلاء الله: هذا القمر كلكم يراه مخلياً به و هو آية من آيات الله، فالله اكبر او كما قال رسول الله صلى الله عليه و سلم.**

له تاسي نه به هیڅ یو داسي نه وي چي خپل رب به ونه ویني، پداسي حال کي چي له همده سره به ګوښه کېدونکی وي، ابورزین عقیلی وویل: دا به څنګه وي یا رسول الله! هغه یو دئ او مونږ ډېر او ډله؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په یوه مثال سره به درته وښیم، هغه هم د الله په مخلوقاتو کي، دا سپوږمی ده، تاسي هریو ئې پداسي حال کي وینئ چي ګویا له هغه سره یوازي ګوښه کېږي،دا پداسي حال کي چي سپوږمی د الله تعالی د قدرت له نښو نه یوه نښه ده، الله تعالی له هرڅه نه لوی دئ.

همدا مطلب په بل حدیث کي داسي راغلی دئ:

**عَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّه أَكُلُّنَا يَرَى رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَة وَمَا آيَةُ ذَلكَ في خَلْقه فَقَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّه عَلَيْه وَسَلَّمَ أَلَيْسَ كُلُّكُمْ يَنْظُرُ إِلَى الْقَمَرِ مُخْليًا بِه قَالَ بَلَى قَالَ فَاللَّهُ أَعْظَمُ *** رواه احمد

له ابي رزین نه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې وویل: یارسول الله! آیا مونږ هر یو به د قیامت په ورځ خپل رب وینو؟ او د دې نښه به په مخلوقاتو کي څه وي؟ رسول الله صلی الله علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلم ورته وفرمایل: آیا تاسو هریو سپوږمۍ پداسي حالت کي نه ګوری چي ګویا له ده سره یوازي ګوښه کېږي؟! هغه وویل: هو، همداسي ده! رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو الله تعالی خوله هرڅه نه ستر دئ.

اهل ظاهر په ډېرو مواردو کي مجبورېږي له خپل مسلك نه انحراف وکړي، خپله لاره پرېږدي او د ځینو کلماتو غیر ظاهري معنی اخلي، د مثال په توګه د الله تعالی د معیت په هکله د خپل مسلك خلاف وایي چي له مخلوق سره د الله تعالی له معیت نه مراد ظاهري معیت ندی بلکه دلته معیت د علم او بصر په اعتبار سره دئ، یعنی دلته د معیت ظاهری معنی مطلوبه نده بلکه لدینه مطلب دا دئ چي الله تعالی په خپلو مخلوقاتو علم لري او د ټولو حالاتو شاهد او ناظر دئ، هغه له بره نه پداسي حال کي چي پر عرش ئې استواءکړې ده د خپل مخلوق په حال خبر او د دوی د هر څه شاهد دئ، نه داسي چي پاك ذات ئې په ځمکه کي له مخلوق سره خلط او یو ځای دئ. له دې دوستانو نه سوال کوو چي که معیت د علم او بصر په اعتبار اخلئ نو د دې حدیث په رابطه څه وایاست:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللَّه عَلَيْه وَسَلَّمَ قَالَ يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَة إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ فَيَقُولُ مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ وَمَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ وَمَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ *** روواه مسلم

ابوهریره رض) روایت کوي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی د هرې شپې په وروستۍ دریمه برخه کي د دنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسمان ته نزول کوي او فرمايي: څوك راته دعا کوي چي قبوله ئې کړم؟ او څوك له ما نه څه غواړي چي ورئې کړم؟ او څوك رانه مغفرت غواړي چي بخښنه ورته وکړم؟

په دې حديث کي ولې او په کوم دليل نزول په ظاهری معنی اخلي او د ډېري توجه او التفات په معنی ئې نه اخلئ، ولې ئې په اصلي معنی: کوزيدل اخلئ؟ که له مخلوق سره د الله تعالی معيت پدې دليل په اصلي معنی نه اخلئ چي پدې سره د الله تعالی او مخلوق ترمنځ د اختلاط او حلول تصور راولاړېږي او د حلول او اختلاط د عدم جواز په خاطر د هغه مجازي معنی اخلئ، نو دا راته ووایاست چي آيا لومړنی آسمان هم د ځمکي په څېر مکان او ځای ندی؟ آيا هلته هم د الله تعالی بل مخلوق ملا ئکي نه اوسېږي؟! که په ځمکه کي له مخلوق سره د معيت ظاهري معنی اخيستل جواز نه لري نو هغه آسمان ته د الله تعالی نزول څنگه د کوزيدو په معنی اخلئ چي له مخلوقاتو داسي ډك دئ او هومره ملائکي پکي ميشت دي چي يوه لوېشت ځای پکي خالي ندی پاتې؟ که په ياد شوي حديث شريف کي د نزول ظاهري معنی واخلو او داسي گمان وکړو چي الله تعالی د شپې په وروستۍ دريمه برخه کي عرش پرېږدي او د ځمکي آسمان ته راکوزېږي، نو دا وخت يعنی د شپې وروستۍ دريمه برخه خو د هميش لپاره په ځمکه کي وجود لري، يوه داسي شېبه هم نشته چي دا وخت نه وي پکي، ځکه شپه خو په مسلسله توگه له ختيځ نه د لويديځ لور ته روانه ده، په دې حساب سره د شپې وروستۍ دريمه برخه د تل لپاره د ځمکي پرمخ کله يوځای او کله بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای موجوده وي، نو د اهل ظاهر د تعبیر په اساس الله تعالی باید
تل له خپل عرش نه لرې، په اول آسمان کي وي!! لدینه علاوه ځمکي
او آسمانونه د الله تعالی د عظمت په نسبت داسي مثال لري لکه د
مشنگو یوه دانه زمونږ په ورغوي کي. لنډه دا چي د الله تعالی په اړه
لومړي آسمان ته د نزول ظاهري معنی اخیستل نه د نقلی دلایلو له
مخي سمه ده او نه په عقلي دلایلو. مونږ په دې مبارك حدیث ایمان
لرو، اقرار پرې کوو، حق ئې شمېرو، په دې کلکه عقیده لرو چي
دعا قبلوونکی، بخښونکی او مهربان خدای د شپې په وروستۍ
برخه کي خپلو بندگانو ته ورنږدې کېږي، د تائب توبه، د مستغفر
استغفار، د دعاکوونکي دعا او د سائل سوال ژر قبلوي. طبیعي ده،
کله چي انسان د شپې په تیاره کي، پداسي حال کي چي نور په ژور
خوب ویده وي او هغه پاڅېږي، الله ته د احتیاج احساس او دا باور
چي د خپل رب عنایت او رعایت ته سخت محتاج او اړ دي، له ژور
خوبه ئې راویښوي او دعا او عبادت ته ئې هڅوي، ځان د هغه رحم
او کرم ته محتاج شمېري، د الله تعالی لوري ته پناه وروړي، هغه ته
عجز او زاری کوي، توبه وباسي، د شپې په تیاره کي، له ریاء او
تظاهر نه په هغې پاکي فضا کي، د خپل رب په وړاندي لاسونه
اوچتوي، سر په سجده ږدي، بخښنه ترې غواړي، له هوی، هوس نه
پاك، په پوره اخلاص د هغه تعالی عبادت کوي، د تقرب او مغفرت
دعا کوي؛ نو یقیناً چي الله تعالی هم له دغه بنده سره خپله فاصله
کموي، هغه ته ورنږدې کېږي او د رحم او کرم توجه ورته کوي. لکه
چي په یوه قدسي حدیث کي راځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عَنْ أَنَسٍ رَضِي اللَّه عَنْه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْوِيه عَنْ رَبِّه قَالَ إِذَا تَقَرَّبَ الْعَبْدُ إِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْه ذِرَاعًا وَإِذَا تَقَرَّبَ مِنِّي ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا وَإِذَا أَتَانِي مَشْيًا أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً*** متفق عليه

انس ر(ض) وايي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپل رب نه په روايت سره فرمايي: کله چي بنده ما ته د يوې لوېشتی په اندازه رانږدې شي، زه يوگز ورنږدې کېږم او که بنده يو گز رانږدې شي، نو زه يوه باع (د دواړو لاسونو د اوږدوالي) په اندازه ورلنډېږم، که بنده زما خوا ته په عادي تگ راشي، زه په منډه د ده خوا ته ورځم.

په دې قدسي حديث کي د تقرب، شبر، ذراع، باع، مشي او هروله، ټول کلمات د تشبيه لپاره راغلي دي، هيڅوك نشي کولی له دې کلماتو نه ظاهري معنی واخلي، ځکه دلته جسمي او مکاني تقرب مراد ندی او په هيڅ صورت د بنده او رب ترمنځ د فاصلې د لنډوالي او نږديوالی په معنی نده؛ ځکه وينو چي مونږ د عبادت په وخت کي له ځمکي نه آسمان ته نه خيژو، د ځمکي او آسمان ترمنځ فاصله مو په پښو نده وهلې او الله تعالی ته پدې معنی نه ورنږدې کېږو، بلکه له دې تقرب نه مراد معنوي تقرب دئ. لکه چي په بل حديث کي راځي:

ان اقرب مايکون العبد من ربه وهو ساجد

بيشکه چي بنده د سجدې په حالت کي له بل هرحالت او وخت نه الله تعالی ته ډېر نږدې وي.

د الله تعالی په اړه دا کلمات ټول متشابهات دي او په تأويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې له علیم خدای نه پرته بل هیڅوك نه پوهېږي.

**وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا وَإِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ** * رواه البخاري

بنده مي په نفلونو سره همداسي زما لور ته رانږدي کېږي، ترهغه چي راته ګران شي، نو چي راته ګران شي بیا ئې زه هغه غوږ شم چي پرې اوري او هغه سترګی ئې چي پرې ويني او هغه لاس ئې چي پرې نیسي،او هغه پښی ئې چي ورباندي درومي، که رانه څه وغواړي حتماً ئې ورکوم او که ما ته له هر چا پناه راوړي نو هرو مرو پناه ورکوم.

د دې مبارك حدیث مراد دا دئ چي: بنده کولی شي په نفلونو سره الله تعالی ته ورنږدې شي او دومره ورلنډ شي چي د الله تعالی د دوستانو په ډله کي شامل شي او د الله تعالی د محبت وړ شي او کله چي دې مرحلی ته ورسېږي نو الله تعالی ئې هومره په خپل رحم او کرم ونازوي چي د ټولو اندامونو، غوږونو، سترګو، لاسونو او پښو کارونه ئې الله تعالی په خپله او په کامل طور ورته ترسره کوي، څه چي وغواړي ورکوي ئې، له هر چا او هرڅه نه چي الله ته پناه یوسي پناه ورکوي او له شر او ضرر نه ئې په خپل امان کي ساتي.

اهل ظاهر د دې حدیث د الفاظو په توجیه او تعبیر کي دومره بې وسه کېږي چي لاره ترې ورکه شي او داسي په ختو کي ونښلي چي د وتلو ټولی لاری ورباندي وتړلی شي. هیڅ لجوج، متعنت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



متعصب توجيه كوونكي نشي كولى د دې حديث الفاظ په ظاهري معنى حمل كړي.

دلته غوره بولو د دې ډلې د يوه داسي لجوج او متعنت مشر توجيه رانقل كړو چي پرنورو اسلامي ډلو او د نورو مذاهبو پر اتباعو باندي په خپل تېري كي ډېر زړه ور، جري او جسور دئ او په خپلو ليكنو كي هومره چي د نورو په ضد د تكفير په فتوى صادرولو او د دوى پر تېنډه د كفر او شرك د ټاپې وهلو ته اهتمام لري، د اسلام لوري ته د بلني او د توحيد ترويج او نشر ته دومره اهتمام نه لري، توحيد ته د ده بلنه او دعوت په حقيقت كي د هغه مسلمانانو او موحدينو تكفيرول دي چي د ده هم مسلكه او هم مذهبه ندي!! همدا جناب د دې حديث شريف په شرحه كي ليكي:

"زمونږ صالحو سلفو هيڅكله هم په دې حديث كي تأويل ندى كړى، بلكه د حديث په ظاهر ئې عمل كړى او حقيقى معنى ئې ترې مراد كړې. خو په دې بايد ځان پوه كړو چي د دې حديث ظاهري معنى څه ده؟ آيا دوى دا گمان كوي چي الله تعالى رښتيا د بنده غوږ، سترگى، لاس او پښى شي؟! او كه نه، ظاهرى معنى ئې دا ده چي الله تعالى د خپل محبوب بنده ټول اندامونه، غوږونه، سترگى، لاسونه او پښى په سمه توگه سمبال كړي او پدې اندامونو سره د ده ادراك او افعال لله، بالله او في الله كړي! څرگنده ده چي له حديث نه همدا مراد دئ، نه لومړنى مطلب او تعبير؛ ځكه هغه لومړنى قول د رسول الله صلى الله عليه وسلم له قول سره هيڅ تطابق نه لري."

لدې جناب نه مو پوښتنه دا ده چي آيا ته غواړې د دې مبارك

(c) ketabton.com: The Digital Library



حديث په تشريح او تفسيرکي د اهل ظاهر د مسلك متابعت وکړي او که نه هغه مردود او ناقص بولي او د نورو مسلك اصلح او اسلم گڼي؟ که د اهل ظاهر د مسلك مخالفت کوي او وايي چي له حديث نه لومړنۍ معنی مراد نده، نو مونږ درسره موافق يو، ځکه واقعيت همدا دئ چي دلته د اصلي معنی مراد نه د عقل له مخی صحيح دئ او د نص او نقل له روح او غوښتني سره اړخ لگوي؛ خو لا زمه ده چي همدا مسلك د نورو همدی ډول آيتونو او حديثونو په رابطه هم مراعات کړي او هغه کسان تکفير نه کړي چي دي حديث ته د ورته آيتونو او احاديثو د تشريح او بيان لپاره ئي همدا مسلك غوره کړی! ته چي د دي حديث په رابطه دا عقيده لری چي له الفاظو نه ئي ظاهري او متبادره معنی مراد نده، نو که نورکسان همدي ته ورته نصوصو په رابطه همدا عقيده لري نو هغوی ته د الحاد نسبت مه کوه!! همداراز که ته د دي حديث د ظاهري او متبادري معنی مراد مطلوب نه بولی نو بيا ولي ځان په اهل ظاهرکي شميري؟ د اهل ظاهر مسلك خودا دئ چي د داسي آيتونو او احاديثو د ټولو الفاظو ظاهري او اولنۍ معنی اخلي، نو بايد لدي حديث نه د هغه ظاهري معنی واخيستل شي او د معنوي مراد اخيستل بايد تأويل وبلل شي، که ته همدا مسلك د نورو نصوصو په رابطه هم خپل کړي نو مونږ له تاسره هيڅ مشکل او مخالفت نه لرو؛ خو هغوی څو کرښی وروسته د دي حديث "من تقرب مني شبراً تقربت منه ذراعاً" په شرح کي ليکي: دا حديث او نور نصوص په دي دلا لت کوي چي الله تعالی ته اختياری افعال ثابت دي، هغه چي هرڅه وغواړي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوی. صالح سلفو دا ډول نصوص د هغوی په ظاهری معنی اخیستي، پداسي ډول چي د الله تعالی له شأن سره وړ وي. وروسته زیاتوی: څه مانع لري چي ووایو: الله تعالی خپل بنده ته پداسي ډول چي په خپله ئې غوره کوي، نږدې کېږي، سره له دې چي د علو (لوړوالی) صفت هم لري؟

د دې دوست په ځواب کي وایو: که له تقرب نه د هغه ظاهری معنی وانه اخیستل شي او داسي تقرب ئې وګڼو چي د الله تعالی له شأن سره مناسب وي او د علو (لوړوالی) له صفت سره تناقض ونلري، نو مونږ هم درسره موافق یو او له تاسو سره مو اختلاف منتفي کېږي؛ خو که له تقرب نه د اهل ظاهر د مسلك مطابق د هغه ظاهري معنی واخیستل شي؛ نو په دې صورت کي بیا دا تقرب نه یوازي د "علو: لوړوالي" له صفت سره اړخ نه لګوي بلکه د هغه منافي هم دئ او بیا همغه اشکال رامنځته کوي چي د معیت او نزول د ظاهري معنی اخیستلو په صورت کي راپیدا کېږي. د معیت او تقرب ترمنځ لږ توپیر وجودلري، ځکه د تقرب پای معیت دئ. د معیت په هکله چي تا کوم اشکال ته اشاره کړې ده هغه ته ستا پام رااړوو، تا لیکلي دي: "د معیت تقاضا او غوښتنه دا ده چي الله تعالی د علم، قدرت، سمع، بصر، سلطې او تدبیر له پلوه په هرڅه احاطه لري او الله تعالی لدینه پاك او منزه دئ چي له مخلوق سره خلط شي او یا له هغوی سره د دوی په ځایونو کي حلول وکړي او ورسره هستوګن وي، الله تعالی د ذات او صفاتو له پلوه لدینه لوړ دئ، د هغه یو صفت علو دئ." ته خپل دغه قول لدې سره چي وایې: "

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه مانع او اشکال لري چي ووايو: الله تعالی څرنگه چي وغواړي خپل بنده ته ورنږدې کېږي، سره له دې چي د علو صفت هم لري" دا يو د بل متضاد او منافي اقوال سره مقايسه کړه!!

ولې د معيت په رابطه هم دا نه شو ويلی چي څه مانع او اشکال لري چي ووايو: الله تعالی له خپل بنده سره پداسي طريقی مل او يوځای دي چي هغه په خپله غوښتي او په خپله ورباندي پوهېږي، سره لدې چي د علو صفت هم لري؟ تاسي خو د معيت په تفسير او شرح کي واياست: مونږ په دې نظر يو چي که څوك دا عقيده ولري چي الله تعالی هرچيرته دئ نو دا شخص کافر دئ، هيڅ عاقل او مسلمان ته نه ښايي عقيده ولري چي الله تعالی په ځمکه کي له خپلو بندگانو سره دئ!! عجيبه ده چي دلته دا وايي خو د تقرب په رابطه بل نظر لرې، د دې تناقض، تضاد او دوه رنگي دريځ اصلي علت د اهل ظاهر هغه په ظاهر ولاړ مسلك دئ چي ته او ستا ملگري ورباندي روان دي.

صحيح او قوی قول دا دئ چي مونږ عقيده ولرو او اقرار وکړو: په هغو آيتونو ايمان لرو چي له بندگانو سره د الله تعالی د خاص يا عام معيت په هکله بحث او يادونه کوي، د دې آيتونو په مراد ايمان لرو او وايو چي واقعاً الله تعالی له بندگانو سره دئ؛ خو له معيت او يو ځای والي نه ظاهري او متبادره معنی مراد نده او پداسي معيت اعتقاد جائز نه بولو چي د علو له صفت سره تنا قض ولري.

په يوه مبارك آيت کي له بندگانو سره معيت او پر عرش استواء يو ځای راغلی ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنـــزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ *** الحدید: ٤

الله تعالی هغه ذات دئ چي آسمانونه او ځمکه ئې په شپږو ورځو کي پیدا کړي، بیا ئې پر عرش استواء وکړه، په څه چي په ځمکه کي لاندي کوزېږي او څه چي ترې راوزي او څه چي له آسمان نه راکوزېږي او څه چي ورته پورته کېږي، په ټولو پوهېږي، هرچیرته چي وئ هغه له تاسو سره وي، الله تعالی ستاسو د کړو لیدونکي دئ.

لکه څرنګه چي په دې آیت شریف کي د ایام لفظ د تشبیه لپاره راغلی دئ او مطلب یی همدا زمونږ معمولي ورځی ندي (دا مطلب په نورو آیتونو کي توضیح شوی) همدا راز د استواء، عرش او معیت الفاظ هم همدا حکم لري، د تشبیه لپاره راغلي، ظاهری معنی یی مقصود نده او پر تأویل یی له علیم خدای نه پرته نور څوك نه پوهېږي.

څوك چه قدیر او عظیم خدای په مخلوق قیاس کړي او د خالق په هکله یی هم په خپل ذهن کي مخلوق ته ورته تصویر جوړ کړی وي، دا کسان مجبورېږي د قرآنکریم الفاظ تأویل کړي او له هر لفظ نه داسي معنی راوباسي چي د دوی له ذهن او تصور سره برابره وي.

لکه چي د دې مبارك آیت په هکله:

**وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلَكِنْ لَا تُبْصِرُونَ *** الواقعه: ٨٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ هغه ته له تاسي نه ورلنډ یو خو تاسي نه وینئ.

د اهل ظاهر له ډلی نه یو تن لیکي: "ای نحن اعلم منه ما ظهر وما بطن" یعنی مونږ د هغه په ظاهر او باطن پوره علم لرو. مونږ له دې گران دوست نه پوښتنه کوو چې:

- د "اقرب" لپاره دې د "اعلم" ترجمه په کوم کتاب او د عربي ژبې په کوم قاموس کي لیدلی ده؟
- آیا الله تعالی نه شوی کولی ووایی: "ونحن اعلم به منکم" مونږ د هغه په رابطه له تاسي نه ډیر علم لرو.
- د آیت په پای کي د "لاتبصرون" جمله د اقرب له لفظ سره سمون خوري؛ او له اعلم سره اړخ نه لگوي،که د اعلم لفظ راغلی وی نو باید په پای کي یی "وانتم لاتعلمون" ویل شوي وی.
- په دې کي څه مشکل گوری چي له کوم تحریف او تأویل نه پرته ووایاست: الله تعالی له نورو نه زیات خپل بنده ته نږدې دئ، د دې نږدیوالي کیفیت الله تعالی ته وسپاری او عقیده ولرئ چي دا تقرب د مخلوق له تقرب سره شباهت نه لري او د الله تعالی د علو له صفت سره منافات نه لري.
- څوك چي رب العالمین له مخلوق سره تشبیه کړي، هغه داسي انگیري چي الله تعالی خو په خپل عرش استواء کړیده، نو له بنده سره ئي تقرب محال دئ. دا ځکه چي ویني د یوه مخلوق له بل سره د تقرب تقاضا دا ده چي هغه خپل لومړی ځای خامخا پرېږدي، مخکي درومي او هغه بل ته ورنږدې کېږي، دا شخص له مخلوق سره د الله تعالی تقرب هم د مخلوقاتو په تقرب قیاسوي او دا ډول قیاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا په عرش د استواء منافی بولي، نو بناءً مجبورېږي دقرآنکریم الفاظ تأویل کړي. خو که دا شخص پدې عقیده وي چې په موجوداتو کي هیڅ شی له الله تعالی سره شباهت نه لري، د الله تعالی تقرب د مخلوقاتو له تقرب سره ورته والی نه لري او داسي ندی چې د حرکت، نقل او ترك مکان غوښتونکی وي،که دا ډول عقیده خپله کړي نو بیا به نه بې ځایه تأویل ته اړ وي او نه به له هغه څه نه انکار ته اړ کېږي چې الله تعالی په خپله په قرآن کي بیان کړي.

دی دوستانو ته عرض کوو چې:

که دا لمر، چې د الله تعالی له مخلوقاتو نه یو مخلوق دئ، پداسي حال کي چې له مونږ نه په زرگونو میله فاصله لري، په خپل مسیر کي خوځي، کولی شي له همغې لیرې فاصلې نه، په خپلي رڼا او حرارت سره، له مونږ سره او په هرحالت کي، د توقف یا حرکت په حالت کي زمونږ ملگری وي او وینو چې په ځینو ځایونو کي راته رالنډ او تجلي او حرارت ئې زیات او په ځینو نورو سیمو کي رانه لیرې او اثرات ئې کم وي، د لمر چې دا حال وي نو په کوم دلیل له بندگانو سره د الله تعالی معیت او تقرب، د هغه تعالی له شأن سره برابر او لایق تقرب، محال او ناممکن شمېرئ؟ پداسي حال کي چې هغه د ټولو رب دئ، هغه عظیم دئ، په هرڅه محیط دئ، ټول عالم د ده د عظمت په وړاندي داسي دئ لکه د خردل یوه دانه.

بایدپه یاد ولرو چې له الله تعالی سره زمونږ رابطه یوازي دا نده چې هغه مونږ ویني او له لېري نه زمونږ غږ اوري، زمونږ په هر څه علم لري، بلکه لدینه علاوه هغه پر مونږ او زمونږ په ټولو حالاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او افعالو احاطه لري، د هر کار د کولو قدرت هغه راکوي، توفیق د هغه له لوري دئ، زمونږ اراده د ده د ارادې تابع ده، اراده ئې زمونږ پر ارادې او افعالو حاکمه او مسلطه ده، هغه څه کېږي چي هغه ئې وغواړي او د کولو توفیق ئې راکړي او هغه څه نشي کېدی چي دی ئې ونه غواړي او د کېدو توفیق ورنکړي. دغو مفاهیمو ته په پام سره باید پر عرش د استواء، قرب او معیت تر منځ ځانګړې رابطه ولټوو، نه داسي چي په یوه ایمان ولرو او له بل نه انکار وکړو. د دې مفاهیمو تر منځ تلفیق د هغه چا لپاره ګران کار دئ چي الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوي او استواء، تقرب او معیت په هغه معنی اخلي چي د انسانانو تر منځ متداوله ده.

یو بل مثال هم وړاندي کوم، قرآنکریم فرمایي:

**إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ** *

الفتح: ۱۰

بیشکه هغه کسان چي له تا سره بیعت کوي په حقیقت کي له الله تعالی سره بیعت کوي، د الله تعالی لاس د دوی پر لاسونو د بره دئ.

د اهل ظاهر د مسلك یو کس د دې آیت په رابطه لیکي:

څرنګه چي الله تعالی د آسمانونو د پاسه پر خپل عرش دئ، نو لاس ئې هم د هغو د لاسونو د پاسه دئ چي له رسول صلی الله علیه وسلم سره بیعت کوي!!

دې دوست ته وایو: که له "یدالله فوق ایدیهم" نه دا مطلب واخلو چي د الله تعالی لاس له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د بیعت کوونکو له لاسونو نه بره او پورته وو، نو بیا د دې بیعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



الرضوان فضیلت او امتیاز له نورو بیعتونو نه به څه که وو؟ ځکه په هر بیعت کي د الله تعالی لاس د بیعت کوونکو له لاسونو نه پورته وي، پداسي حال کي چي پدې آیت کي خو دغه مطلب د بیعت الرضوان د فضیلت او امتیاز د بیان پخاطر راغلی دئ، لکه چي ته په خپله د الله تعالی د دې قول په هکله چي فرمایي: " مَا مَنَعَكَ أن تَسجُدَ لِمَا خَلَقْت بِيَدَی " لیکي: دلته "خلقت بیدي" د آدم علیه السلام د خلقت امتیاز او فضیلت افاده کوي او الله تعالی ته د "ید" صفت ثابتوي، دلته هم باید ووائی چي "ید الله فوق ایدیهم" د دې بیعت د امتیاز او فضیلت د افادي لپاره راغلي او په خاصه نه عامه معنی د الله ید د دوی د ید د پاسه وو.

هغه کسان چي له (ید) نه د هغه ظاهري معنی اخلي او الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوي دا ورته مشکله ده چي پر عرش د استواء او د بیعت کوونکو د لاسونو د پاسه د یدالله موجودیت څنگه سره تلفیق کړي، هغوی د خپل غلط او باطل تصور نه راولاړ شوي کړکیچ سره مخامخ دي او دې ته اړ شوي چي عجیب او غریب تأویلات وکړي، داسي تأویلات چي نه یوازي د دوی مشکل نشي حل کولی بلکه مزید مشکلات ورته راپیدا کړي؛ خو که دوی ووایي چي بې نیازه خدای پداسي حال کي چي پرهغه څه ئې استوی کړي چي عرش ئې ورته ویلی، په عین وخت کي او د همدی بیعت په مهال ئې لاس د بیعت کوونکو د لاسونو د پاسه وو، خو په عرش استواء او په لاسونو د پاسه لاس ایښودل ئې له مخلوقاتو سره هیڅ مشابهت او ورته والی نه لري، حقیقت او کیفیت ئې یوازي علیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ته معلوم دئ او بس، نو پدې صورت کي به نه له کوم اشکال سره مخامخ کېږي، نه به ئې په اعتقاد کي کوم خلل رامنځته کېږي، نه به تشبيه او تأويل ته اړ کېږي.

هغه کسان په غلطه روان دي چي پر عرش استواء، آسمان ته نزول او له بنده سره د الله معيت او قرب پرظاهري معنی حمل کوي او متداوله معنی ترې اخلي او د مخلوقاتو له استوی، نزول، معيت او قرب سره ئې تشبيه کوي. همداراز هغه کسان هم په غلطه دي چي دا شيان يا بالکل نه مني او يا تأويل پکي کوي.

د نورو مفاهيمو په اړه هم اختلاف له همدې ځايه سرچينه اخلي او د همدې اصولو د عدم مراعات په وجه اشتباهات رامنځته کېږي، د مثال په توگه د دې مبارك آيت "مامَنَعكَ انْ تَسجُد لماخَلقت بيدي" په اړه له همدی افراطي ډلي نه يوکس ليکي: "اذ کل عباده خلقهم بغيرمسيس بيدوخلق آدم بمسيس: څرنگه چي ټول مخلوقات ئې له لاس وروړلو پرته پيدا کړي او آدم عليه السلام ئې امتساساً په خپل لاس پيدا کړی" ورپسې زياتوی: "غيرانه ولی خلق الاشياء بامره وقوله وارادته و ولی خلق آدم بيده مسيسا: غير لدې چي الله تعالی د مخلوقاتو په پيدا ايښت کي په خپل امر، قول او ارادې سره تصرف کړی، خو د آدم (ع) په پيدا ايښت کي ئې د خپل لاس په امتساس سره تصرف کړی"

لدې کبله چي دا ښاغلی؛ الله تعالی له انسان سره تشبيه کوي، نو د الله لاس هم د بندگانو له لاس او په لاس پيدا کول ئې هم د انسانانو د لاس له کار سره ورته گڼلی نو ځکه ئې د مسيس لفظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



كارولی دئ. دې ښاغلي ته وايو:

- ولې دومره جسارت او بې باكي كوی چې د مسيس لفظ له ځانه زياتوې؟ پداسي حال كي چي نه په قرآنكريم كي دا لفظ راغلی او نه په احاديثو كي.
- ته د الهي افعالو كيفيت د بندگانو د اعمالو له كيفيت سره تشبيه كوی، پداسي حال كي چي له يوه بل نه ذاتاً متفاوت شيان حتماً د افعالو او اعمالو د كيفيت له مخي هم له يوه بل سره توپير لري، هغه څه چي په ذات كي يو له بل سره توپير ولري افعال ئې هم توپير لري او يو په بل نشي قياس كېدی.
- پداسي حال كي چي لوی غر د الله تعالی د تجلی په مقابل كي د مقاومت توان نه لري، د جبرائيل عليه السلام په څېر د الله ستر او لوړ مرتبه مخلوق دا وس او توان نه لري چي د الله تعالی لومړني حجاب ته ورنږدې شي، نو د آدم عليه السلام د وجود مواد به څنگه د الله تعالی د يد د امتساس په وړاندي د مقاومت توان ولري؟ په يوه حديث كي راځي:

**عن زرارة ابن اوفى رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم سأل جبرئيل: هل رأيت ربك؟ فانتفض جبرئيل وقال: يا محمد ان بيني و بينه سبعين حجاباً من نور لو دنوت من ادناها حجاباً لاحترقت.**

زراره د اوفی زوی روايت كوی چي رسول صلی الله عليه وسلم له جبرائيل عليه السلام نه پوښتنه وكړه: آيا تا خپل رب ليدلی دئ؟ جبرائيل عليه السلام ولړزيد او وئې ويل: اې محمده! زما او رب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ اويا د نور داسي پردې دي چي كه تر ټولو نږدې پردې ته ئې ورلنډ شم نو حتماً به اور واخلم.

- ولې دا نه وایاست چي: الله تعالی خپل بنده آدم علیه السلام په خپل لاس پیدا کړ، خو نه له (ید) نه ظاهري معنی اخلو او نه د دې خلقت د کیفیت په هکله علم لرو، دا زمونږ له ادراك نه لوړدی، د دې معنی الله تعالی ته سپارو ترڅو نه د تشبیه مرتکب شي او نه تأويل ته اړ.

## تأویل!

د تأسف خبره ده چي اهل ظاهر د تأويل له لفظ نه، هغه هم په متشابهاتو كي، هغه مفهوم او معنى نه اخلي كوم چي په قرآن كريم كي راغلی. د دوی له نظره تأويل دیته ویل کېږي چي د لفظ ظاهري او متبادره معنی په بل لوري واړولي شي او د ظاهري معنی پرځای بله معنی ترې واخیستلی شي، پداسي حال کي چي قرآن کريم د تأويل لفظ د دوی د دې تعبیر په خلاف په بله معنی رااخلي او وایي چي د متشابه آیتونو پرتأويل له الله تعالی پرته هیڅوك نه پوهېږي: ومايَعلمُ تأويلهُ الا الله: په تأويل ئې له الله پرته هيڅوك نه پوهېږي" د دغه آيت په اساس د تأويل تعريف داسي ندی لکه چي اهل ظاهر وايي. دلته تأويل د متشابهاتو په اړه راغلی، په هغو ځايونو کي چي يو غيرمرئي او غيرمحسوس څيز پداسي کلماتو او الفاظو سره معرفي شوی چي اصلاً د محسوسو او ليدل کېدونکو څيزونو لپاره وضع شوي او پداسي ځايونو کي نه ظاهري معنی مطلوبه وي او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې تأویل ممکن وي. د یوسف علیه السلام خوب چې په قرآن کریم کې ئې یادونه شویده دا مطلب ښه توضیح کوي، یوسف علیه السلام په خوب کې وینې چې یوولس ستوری ، لمر او سپوږمۍ سجده ورته کوي، خپل پلار ته د دې خوب کیسه کوي، پلار ئې په تعبیر پوهېږي او خپل زوی ته داسې نصیحت کوي: زویه! خپل خوب دې وروڼو ته مه وایه، هسې نه چې کومه توطئه درته جوړه کړي. ډېروخت تېر شو، یوسف علیه السلام د ژوند ډېرې هسکې ټیټې ولیدې، بالآخره د مصرد خزانو امین او بیا د ټول مصر واکمن وټاکل شو، کورنۍ ئې مصر ته وروغوښتله، کله چې پلار، مور او یوولس وروڼه ئې راورسېدل او وئې لیدل چې ټول د ده لپاره الله ته په سجده پریوتل نو خپل پلار ته ئې وئې ویل:

وَقَالَ يَاأَبَتِ هَذَا تأويل رُؤيَاي مِنْ قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا *

یوسف: ۱۰۰

او وئې ویل: گرانه پلاره! دا دئ زما د هغه پخواني خوب تأویل او تعبیر چې الله تعالی رښتونی کړ.

گورئ چې د ده پدې خوب کې تشبیه کارول شوې، مور او پلار د لمر او سپوږمۍ په بڼه کې او وروڼه د ستورو په شکل کې،کله چې د ده د خوب متشابهات په خپل اصلي او لومړني شکل ښکاره کېږي نو وایي: دا دئ زما د خوب تأویل! په دې اساس تأویل یعنی کلمات له ظاهري او ذهن ته نږدې معنی نه د هغې حقیقی معنی ته گرځول،یا متشابهات خپل لومړني کیفیت ته اړول.

نامناسبه به نه وي که دلته د خپل هغه خوب یادونه وکړم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې خوب ته ورته دي او په اتلس کلنۍ کي مي د واده په شپه لیدلی دئ: په هغه شپه چي سهار ته مي د واده ورځ وه، څو لحظې مي د خوب لپاره وخت وموند، په همدې شېبوکي مي خوب ولید چي د خپل تره له یوه زوی سره چي له ما نه مشر وو، یو ځای آسمان ته خیژو، ښه پور ته لاړو، ترستورو پوری ورسېدو، هلته ستوري وینم چي ټول له ختیځ نه د لویدیځ په لوري درومي، حرکت ئې د څپو په څېر، ودرېدم او د ستورو د دې عجیب حرکت تماشا ته ځیر شوم، ناڅاپه گورم چي ستوري سره واوبدل شول او یوه زرینه تکه ترې جوړه شوه، ورپسې گورم چي لدې زریني ټوټې په خپله زریني خولۍ جوړې شوې او له مونږ نه څو قدمه آخوا کوټه شوې، زه یوازې دې ځای ته ور روان شوم ترڅو دا خولۍ له نږدې نه وگورم، ناڅاپي له یوې بلې خوا څلور، پنځه تنه نور هم دې نقطې ته راغونډ شول، هر یوه لدې کوټې نه یوه یوه خولۍ واخیسته پرته لدې چي په سر ئې کړي، ما هم یوه خولۍ راوخیسته او هغه مي په سر کیښوده او له همدې سره له خوب نه راویښ شوم. د دې خوب د تعبیر په رابطه مي لومړی داسي گمان کولو چي کېدی شي الله تعالی ډېر نېك او صالح اولادونه راکړي، له خپل واده سره مي هغه مربوط گڼلو او له ستورو مي همدا د صالح اولاد تعبیر اخیستو، خو دا تعبیر راته د خوب له مجموعي روحیې سره موافق نه ښکارېدو او دا تعبیر مي ناقص بالو، دوه کاله وروسته په کابل پوهنتون کي شامل شوم، په همدې کال د الله په فضل سره اسلامي تحریك پیل شو او الله تعالی په ما پېرزوینه وکړه او د دې تحریك کي په روانولو کي ئې د نورو ورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځنګ کي ما ته هم د څه ونډي افتخار راپه برخه کړ، بیا د داوود خان د اقتدار په دوران کي، د رژیم په ضد په کودتا متهم شوم، زما د نیولو هڅه وشوه، زه الله تعالی وژغورلم، څو تنه ورونه ونیول شوو او زه له ځینو ورونو سره خپل شرقي ګاونډي ملك، پاکستان ته مهاجر شوو، هلته مو د حرکت د مجدد تنظیم فرصت ترلاسه کړ، د افرادو روزنه مو پیل کړه، روزل شوي ورونه به د کار لپاره هیواد ته ستنېدل، دوی به ډېري سختي، اوړدي، کړېږ وربې، هسکي او ژوري لاري وهلې، له لوړو لوړوغرونو او سختو درو به تېرېدل او خپلو سیمو ته به تلل، هلته به ئې د دعوت، تنظیم او حزبي فعالیتونو کارونه ترسره کول. پدغه دوران کي ورونو په اتفاق سره د نهضت امارت ما ته راوسپارو. دلته مي ګمان وکړ چي شاید زما د هغه خوب تعبیر همدا وو، له شرق نه غرب ته د ستورو خوځیدل مي له شرق نه غرب ته د مجاهدینو تلو ته اشاره وګڼله، مخصوصاً هغه وخت چي له هېواد نه بهر نوري او نوې ډلي جوړي شوې، نوي رهبران صحنې ته راووتل، هر یوه غوښتل د زعامت خولۍ په سرکېږدي، دا هره صحنه مي د هغه خوب د یوې برخي تعبیر وموندو.

په ټولو هغو آیتونو کي چي د الله تعالی له افعالو نه پکي بحث او یادونه شویده، په ځانګړې توګه هغه افعال چي انسانان ئې په جوارحو او اندامونو ترسره کوي او په هغو آیتونو کي چي د انساني اعضاوو لپاره وضع شوي نومونه د الله تعالی په اړه پکي ذکر شوي، اهل ظاهر دا ټول افعال او اسماء د هغوی په ظاهري معنی حمل کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وایي چي باید په دې افعالو او اسماوو ایمان ولرو، ګویا دا افعال او اسماء د الله تعالی لپاره ثابت دي او تأویل ئې "د دوی له نظره تأویل" ناجائز دي، مونږ پداسي حال کي چي پدې آیتونو ایمان لرو، تلاوت ئې کوو او په مراد او مطلب ئې عقیده او باور لرو، خو دا افعال او اسماء پرظاهري معنی نه حمل کوو، ځکه ظاهري معنی ترې اخیستل د تشبیه په معنی ده او نه ئې د تأویل هڅه کوو ځکه ایمان لرو چي پرتأویل ئې له علیم خدای نه پرته بل څوك نه پوهېږي.
کله چي د الله تعالی په هکله،ید، سمع، بصر، قدم او دېته ورته د نورو نومونو یادونه کېږي دا ټول د الله تعالی ثابت صفات بولو، نه وایو چي د ید مطلب قوت او یا نعمت دئ او د سمع او بصر معنی علم دئ، دا ډول تأویلات نه کوو، همدا راز دا هم نه منو او نه پدې عقیده لرو چي دا یاد شوي نومونه او اندامونه د انسان د اندامونو په شان دي، یعنی ید، سمع او بصر داسي جوارح ندي لکه د انسان لاس، غوږونه او سترګی. باید دا ټکي په یاد ولرو چي له دې ټولو آیتونو نه هدف دا دئ چي د الله تعالی صفات راوپېژني، دا ئې مراد او موخه نده چي د الله تعالی د ذات کیفیت معرفي کړي.

## له الله تعالی سره د موسی علیه السلام تکلم

مونږ په دې موجوداتو کي د الهي افعالو له نښو او مظاهرو نه د الله تعالی په اړه علم حاصلولی شو، خو د ذات او افعالو د کیفیت د څرنګوالی د ادراك وس او قدرت نه لرو، لکه چي قرآن کریم له موسی علیه السلام سره د الله تعالی د تکلم په قصه کي دې مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته اشاره کوي:

**وَلَمَّا جَاءَ مُوسَى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَنْ تَرَانِي وَلَكِنْ انظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنْ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَى صَعِقًا فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ ***

الاعراف:۱٤۳

او کله چي موسی علیه السلام زمونږ د وعدي ځای ته راغی او رب ئې خبري ورسره وکړې، وئې ویل: یا ربه! ما ته ځان راوښیه چي درته وګورم، الله وفرمایل: هیڅکله مي نشې لیدلی، خو دې غره ته وګوره، که دا په خپل ځای باقي پاتې شو نو "په هغه صورت کي به" مي ولیدی شی، نو کله چي د ده رب غره ته تجلي وکړه "ځان ئې وروښود" ټوټې ، ټوټې شو او موسی علیه السلام بیهوشه ولوید او کله چي په خود راغی وئې ویل: پاکي ده تالره، تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن یم.

دا مبارک آیت څو اساسي مطالب څرګندوی:

- د لوی عرش مالك خدای پداسي حال کي له موسی علیه السلام سره خبری وکړې چي موسی علیه السلام په ځمکه کي وو.
- موسی علیه السلام د الله تعالی د ذات د لیدو هیله څرګنده کړه چي په ځواب کي ورته وویل شول: هیڅکله به مي ونه وینې، یعنی اوس ته د الله تعالی د ذات د لیدو توان او استعداد نه لرې او په فعلي حالت کي لدې نه عاجز یې چي الله تعالی ووینې.
- الله تعالی پداسي طریقی سره چي په خپله ئې غوښتی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیفیت ئې د انسان لپاره د ادراك وړ ندی، خپل ذات غره ته ورښودلی او غره د دې تجلي په وړاندي مقاومت ونه شوی کړی، ټوټې ټوټې شو.

- موسی علیه السلام د دې تجلی له آثارو نه بیهوشه شو او کله چي په خود راغی نو اعتراف ئې وکړچي:

الف- الله تعالی لدینه لوړ او منزه دئ چي انسان ئې په خپلو محدودو وسایلو او استعدادونو مشاهده او د هغه تعالی د تجلی په وړاندي مقاومت وکړی شي.

ب- د دېدار مطالبه او د مشاهدې هیله، خپله غلطي گڼي او توبه کوي.

ج- ځان لومړنی مؤمن او په دې حقایقو باور لرونکی شمېري، ځکه لده نه مخکي هیچا داسي صحنه نده لیدلې.

دغه مبارك آیت که له یوی خوا د الله تعالی لپاره اختیاري افعال لکه له بنده سره خبري او تجلی په اثبات رسوي له بلی خوا دا په ډاگه کوي چي د الله تعالی د ذات د کیفیت ادراك د انسان لپاره ممکن ندی. باید پدې هکله له هر ډول تخیل، تصور او تفکر نه ډډه وشي. هغه کسان چي په متشابه آیتونو او احادیثو کي ید، عین، قدم، اصابع، اذن او مربوطه افعال لکه اخذ، بطش، اعطاء، امساك، سمع، بصر،اتیان، مجئ او استواء دا ډول کلمات چي اصلاً باید متشابه وبلل شي د تأویل هڅه ئې ونه شي، برعکس هغوی جسارت کوي او دا ډول پرظاهري معنی حمل کوي، پدې سره دوی د تشبیه مرتکب کېږي او له عظیم او احد خدای نه انسان ته ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجود جوړوي!! غوره به وي په دې اړه څو آیتونه او احادیث تفسیر، توضیح او تشریح کړو ترڅو مسأله ښه څرګنده او روښانه شي:

**وَقَالَتْ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ** * المائده : ٦٤

او یهودانو وویل: د الله تعالی لاس تړلی دئ، د دوی لاسونه دي تړلی وي او پر دوی دي لعنت وي، په سبب د هغه څه چي وئې ویل، داسي نده لکه دوی چي وایي، د الله تعالی دواړه لاسونه خلاص دي او څنګه چي وغواړي همغسي انفاق کوي.

په دې آیت کي د بخل، سخاوت، امساك او انفاق په اړه بحث شوی، یهودان الله تعالی ته د بخل نسبت کوي او وایي: " يَدُ اللّهِ مَغْلُولَةٌ: د الله لاس تړلی دئ" یعني څه چي ترې غواړو نه ئې راکوي، د هرڅه واك ورسره دئ، د ټولو شیانو مالك دئ، خو بندګان ئې همداسي پرېښی دي، څه نه ورکوي! په عربي ژبه کي له بخیل نه په همدې کلماتو تعبیرکېږي او د دې برعکس هغه کسان چي سخاوت لري، هر چا ته لاس ورکوي، له هر چا سره مرسته کوي، سخاوت لري، د هغه لپاره (يداه مبسوطتان) کلمات کاروي، یعنی لاسونه ئې خلاص دي، هر چا ته هرڅه ورکوي. الله تعالی د یهودانو په ځواب کي فرمایي: "بَل يَدَاهُ مَبسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيفَ يَشَاءُ" د دې معنی دا ده چي الله تعالی زیات انفاق کوي، هر چا ته له خپلو نعمتونو نه مناسبه برخه ورکوي. متأسفانه اهل ظاهر لدې آیت نه هم له حقیقت نه لری تعبیر اخلي او وایي چي دا آیت په دې دلالت کوي چي الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی دوه لاسونه لري!! خو هر څوك پوهېږي چي که چیرته د آیت د بحث محور د الله تعالی د ذات دکیفیت بیان وی! او د بخل او سخاوت په رابطه خبره نه کېدی او د الله د ذات په اړه ویل شوي وی چي: "یَدَاهُ مَبسُوطَتَانِ" نو په هغه صورت کي مو ویلی شوی چي د آیت معنی همغه ده چي اهل ظاهر ئې ترې اخلي، خو پدې صورت کي به هم له دې اشکال سره حتماً مخ کېدو چي: آیا الله تعالی دوه داسي لاسونه لري چي تل خلاص وي او هیڅ نه سره یوځای کېږي؟ ځکه د مبسوطتان معنی همدا ده!! د اهل ظاهر استدلال د تعجب وړ دئ.
مونږ په دې مبارك آیت ایمان لرو او په مفهوم او مراد ئې چي "یُنفِقُ کَیفَ یَشَاءُ" دې باور لرو، خو له دېکلماتو نه ظاهری معنی نه اخلو او تأویل ئې الله تعالی ته سپارو او د هغه کسانو په ځواب کي چي الله ته د بخل نسبت کوي او وایي:

**یَدُ اللَّه مَغْلُولَةٌ**

ورته وایو:

**بَلْ یَدَاهُ مَبْسوطتَانِ یُنفِقُ کَیْف یشاء**

د تقوا او احتیاط غوښتنه خو دا ده چي د آیتونو په تفسیرکي پوره محتاط وو، د هر آیت د تفسیر او ترجمې په وخت د هغه سیاق، سباق او له مخکي وروسته سره رابطه په پام کي ولرو، که دا اصل مراعات نشي نو زیات اشتباهات رامنځته کېږي. د مثال په ډول که تاسي د یوه شخص د ذات په اړه او د یوه خاص حالت د معرفي کولو په هکله ئې خبری کوی او وائې چي هلته یو څوك دئ له دوو خلاصو لاسونو سره. لدینه مطلب دا دئ چي هغه سړی دوه داسي خلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسونه لري چي یو له بل سره وصل کېدی نشي. خو که هدف د هغه شخص د سخاوت بیان وي او هدف مو دا وي چي هغه سړی خلاص لاس لري، سخي دئ، نو په دې حالت کي د لومړنۍ معنی اخیستل غلطه او بیځایه خبره ده.

لدی آیت نه د اهل ظاهر تعبیر که څه هم ډېر کمزوری او ناسم دئ، خو که فرضاً د هغوی نظر ومنو او د "یَدَاهُ مَبسُوطَتَان همغه معنی واخلو چي دوی ئې اخلي، په دې صورت کي خو الله له مخلوق سره تشبیه کېږي، بیا نو د اهل ظاهر او مشبه (هغه چي الله له مخلوقاتو سره تشبیه کوي) ترمنځ څه توپیر وجود لري؟ هغوی هم وایي چي د الله تعالی (نزول)، (ید) او نور دا ډول صفات همغه دي چي مونږ ئې مثال په مخلوقاتو کي گورو او الله تعالی مونږ ته په خطاب کي داسي کلمات استعمال کړي چي مونږ هغه پېژندي شو او د معرفت توان ئې لرو او له همدې امله د الله تعالی نزول او ید لکه د بندگانو د نزول او لاسونو په شان شمېرو.

د دې ډلی یو شیخ په خپل کتاب (قواعدالمثلی في صفات الله واسمائه الحسنی) کي لیکي: پوه شه چي د هغو نصوصو معنی چي د الله تعالی صفات پکي ذکرشوي همغه ظاهري معنی ده چي په آسانۍ سره ذهن ته رسېږي او دماغ ئې بې تکلفه مني او وربانديي پوهېږي. دلته وینو چي د (مشبه ډلی) او اهل ظاهر د نظریاتو ترمنځ هیڅ تفاوت نشته. د مشبه ډله وایي چي د دغو نصوصو ظاهر په دې دلا لت کوي چي الله تعالی لکه انسان دوه لاسونه لري، یو ئې ښی او بل ئې چپ او لاسونه ئې گوتی هم لري،........او ته هم دیته کاملاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته خبره کوي، خو فقط دا علاوه کوې چي وائې بلا تکییف یا بلاتشبیه، پدې بلاتشبیه او بلا تکییف ویلو سره ته د مشبه له ډلی نه نه وځې، د بلا تشبیه جمله تا ته هیڅ گټه نشي رسولی، ځکه مشبه ډله خو هم دا نه وایي چي د الله تعالی لاس لکه د انسان د لاس په اندازه اوږد او له غوښو او هډوکو نه جوړ شوی دئ.

همداراز که د "واشتعلَ الراسُ شیبا" له آیت نه هغه ظاهري معنی واخیستي شي چي ژر او په آسانۍ سره ذهن ته رسېږي نو د دې آیت معنی به دا وي چي: سر ئې له زوړوالي نه اور واخیست! پدې صورت کي که بلا تشبیه اوبلا تکییف ووایو نو څه گټه به ولري؟! او یا په دې آیت کي:

**يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ**

که په دې ځای کي ظاهری او ذهن ته متبادره معنی واخیستی شي نو د آیت ترجمه به یا دا وي:

- الله تعالی په هغه څه پوهېږي چي دوی په خپلو ورغوو (لاسونو) کي پټ کړي.
- او یا دا چي الله تعالی په هغه څه پوهېږي چي د دوی د دواړولاسونو ترمنځ واقع دي چي هغه ئې خپل بدن دئ.
- او یا دا چي الله تعالی په هغه څه پوهېږي چي دوی په خپله غېږ او دواړو لاسونو کي نیولی.
- او که ډېر تکلف وکړو نو ایله دا ویلی شو چي: الله تعالی هم په هغو شیانو علم لري چي د دوی په مخ کي پراته دي او هم په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيانو چې د دوی شاته پراته او واقع دي.

پداسي حال کې چې دا آيت نه دغه پورتني مطالب افاده کوي او نه ئې دا شيان مراد او مطلوب دي، بلکه د آيت مطلب او مراد دا دئ چې الله تعالی د دوی په ماضي او مستقبل ټولو باندي عالم دئ، په هر هغه څه پوه دئ چې دوی مخکې کړي او يائې په آينده کې کوي. لنډه دا چې که له د "يَعلمُ ماَ بينَ ايدِيهِم وماخلَفهُم" په آيت کې د الفاظو ظاهري معنی واخلو نو داسي تفسير به موکړی وي چې د آيت له مراد سره اړخ نه لگوي او پدې صورت کې د بلا تشبيه او بلا تکييف قول او قيد مونږ ته هيڅ گټه نه شي رسولی. همداراز که دلته د "يُحيطُونَ" له لفظ څخه د هغه ظاهري معنی واخلو نو معنی به ئې دا وي چې گوا کې علم يو داسي شی او جسم دئ چې لا سته راوړل ئې د يوه ديوال په څېر کومې احاطې ته ضرورت لري او تاسي نه شئ کولی د الله تعالی علم لاسته راوړئ او شا او خوا ئې احاطه کړئ مگر هغه چې الله تعالی ئې وغواړي، پدې صورت کې به د بلا تشبيه د قيد راوړلو سره څنگه دا اشکال رفع کړئ؟

ابن جوزي وايي:

که په دې آيتونو او احاديثو کې د الفاظو ظاهري معنی واخيستل شي نو الله تعالی ته د جسم اثبات او له مخلوق سره ئې تشبيه لا زمېږي، ځکه د لفظ ظاهري معنی هغه ده چې د هغې لپاره لفظ وضع شويدی، په دې اساس د (يد) معنی له هغه مخصوص غړي يا اندام نه پرته بل څه نشي کېدی، همدا راز نور الفاظ.، د سلفو لاره دا نه وه چې د الله تعالی د صفاتو په اړه د استعمال شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفاظو ظاهري معنی واخلي، بلکه د هغوی مذهب دا وو چي په دې هکله ئې هر ډول بحث ناروا باله او له هغه نه ئې ډډه کوله. ابن جوزي زياتوي: دې ډول آيتونو او احاديثو ته د صفاتو آيات او احاديث ويل په خپله بدعت دئ، ځکه دا نوم نه په قرآن کي راغلی او نه په احاديثو کي، بلکه دا د بدعتيانو کار دئ.

امام فخر رازي ليکي: د قرآن کريم په زياتو آيتونو کي د بې شمېره دلايلو له امله د الفاظو ظاهري معنی اخيستل جواز نه لري. د مثال په توګه په دې آيت کي:

وَلِتصنعَ علَى عينِي

که دلته ظاهري معنی واخلو نو ترجمه به ئې دا وي چي ګويا موسی عليه السلام ئې د سترګی د پاسه وو!! پداسي حال کي چي هيڅ عاقل انسان دا خبره نشي کولی. همداراز پدې آيت کي:

وَاصْنَعْ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا

که ظاهري معنی واخلو نو معنی به ئې دا وي چي کښتۍ زمونږ پر سترګو جوړه کړه، همداراز د ظاهری معنی تقاضا دا ده چي د کښتۍ د جوړولو آله همدا سترګي وګڼو!! دا دواړه خبري غلطې دي، بل اشکال ئې دا دئ چي يوه ذات ته د څو سترګو نسبت شوی او په يوه مخ کي د څو سترګو موجوديت يو ډول عيب شمېرل کېږي، بيا زياتوی دلته له عين او اعين نه مراد نظارت، توجه، پاملرنه او اعتناء ده.

هغه کسان چي وايي: الله تعالی دوه لاسونه (ښی او کيڼ) لري، هرلاس ئې ګوتی لري او د ګوتو ترتيب ئې هم لکه د انسان د ګوتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان دئ، دا ډله غواړي او که نه خو په دې تصور سره الله تعالی له انسان سره تشبیه کوي، پداسي حال کي چي الله تعالی فرمایي:

**لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ *** الشوری: ۱۱

هیڅ شی د هغه په شان ندی او هغه اوریدونکی لیدونکی دئ.

همدا راز فرمایي:

**فَلَا تَضْرِبُوا لِلَّهِ الْأَمْثَالَ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ***

النحل: ۷٤

نو د الله تعالی لپاره مثالونه مه راوړئ، بیشکه الله تعالی پوهیږي او تاسو نه پوهیږی.

الله تعالی په ذات او صفاتو کي سیال، مثال او مثل نه لري، هرڅوك چي الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوي هغه په غلطه روان دئ او دا ډول عقیده خرافي او الحادي عقیده ده.

له اهل ظاهر دوستانو نه پوښتنه کوو چي:

د خپل مسلك او مذهب له مخي دا مبارك حدیث څنګه تأویلوئ:

**إِنَّ الْمُقْسِطِينَ، عِنْدَ اللّهِ، عَلَىٰ مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ. عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَـٰنِ عَزَّ وَجَلَّ. وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ** رواه مسلم

په تحقیق سره عدل کوونکي به د الله تعالی خوا ته او ښي لاس ته ئې د نور پر منبرونو تاست وي او د الله تعالی دواړه لاسونه ښي دي.

که دلته (ید) او (یمین) ستاسي د مسلك په اساس په همدی ظاهري معنی واخلو نو خبره نه په عقل برابره راځي او نه په نقل، په عقل سره ځکه چي دوه ښي لاسونه عقل نه مني او په نقل سره ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي رسول صلی الله علیه وسلم په بل حدیث کي فرمایي:

**يَطْوِي اللّهُ عَزَّ وَجَلَّ السَّمَاوَات يَوْمَ الْقِيَامَة. ثُمَّ يَأْخُذُهُنَّ بِيَده الْيُمْنَىٰ. ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْمَلكُ. أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ؟ ثُمَّ يَطْوِي الأَرَضِينَ بِشمَاله. ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْمَلكُ. أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ؟ "** رواه مسلم

الله تعالی به د قیامت په ورځ آسمانونه راونغاړي او بیا به ئې په ښي لاس کي ونیسي او وبه فرمایي: زه پاچا (ملك) یم، جابران چیرته دي؟ متکبران چیرته دي؟ بیا به ځمکي راونغاړي او په کیڼ لاس کي به ئې ونیسي او وبه فرمایي: زه پاچا یم چیرته دي جابران؟ چیرته دي متکبران؟

مونږ د دواړو حدیثونو په الفاظو اقرار کوو، ایمان پرې لرو، حق ئې بولو، هغه د متشابهاتو له جملې نه شمېرو او وایو چي د "یدالیمنی، شمال، یأخذ او یطوي" کلمات د تشبیه لپاره راغلی دي او پر تأویل ئې له الله تعالی نه پرته بل څوك نه پوهېږي او په لا ندینیو مفاهیمو دلالت کوي:

- لومړنی حدیث دا مطلب څرګندوی: هغه کسان چي عدل ئې کړی، په خپلو قضاوتونو کي ئې د انصاف رعایت کړی، حق ئې حقدار ته سپارلی، د دوي مقام ډېر لوړ دئ، د الله تعالی په وړاندي د اوچت مقام خاوندان دي، د قیامت په ورځ به د الله تعالی خوا ته د نور په منبرونو ناست وي.
- لکه څرنګه چي په دنیا کي د پاچایانو او واکمنو دا دود دئ چي که وغواړي څوك تقدیرکړي درناوی ئې وکړي نو هغوی خپلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښي خوا ته دروي، الله تعالی هم عدل کوونکو ته خاص مقام ورکوي او تقدیروي ئې خپلي خوا ته ځای ورکوي، خو پام مو وي چي الله تعالی له مخلوق سره تشبیه نه کړئ، د الله تعالی په رابطه ښی او کیڼ مطرح ندی، هرڅوك چي هر چیرته د الله تعالی خوا ته ځای ومومي همغه ځای مبارك دئ.

- که نن ورځ یو شمېر جابر او متکبر واکمنان په خپل قوت او واکمنۍ غره دي، اقتدار او واکمني ئې د تمرد سبب شوې او دا ئې هیره کړې چي الله تعالی د هر څه واکدار دئ او دا هر څه د هغه په واك کي دئ، همدا مغرور واکمنان به د قیامت په ورځ وگوري چي ځمکي او آسمانونه د الله تعالی ملکیت دي، دا ځمکي او آسمانونه د الله تعالی د عظمت په وړاندي داسي دي لکه زمونږ لپاره د کاغذ یوه پاڼه، الله تعالی به آسمان او ځمکه داسي راغونډکړي لکه د کاغذ یوه پاڼه زمونږ په لاس کي.
- هغه وخت به قهار او مالك الملك خدای فرمایي: چیرته دي جابر واکمنان؟ چیرته دي هغه متکبر او مغرور حاکمان؟ لِمن الملك الیوم لله الوَاحِد القهار: نن پاچایي د چاده ؟ د قهار او واحد خدای. پوښتنه به وشي چي نن واکمني د چاده ؟ ټول به ووایي: واکمني یوازي د قهار او احد خدای ده.
- د دې احادیثو له فحوی او محتوی نه دا معلومېږي چي دلته هدف د الله تعالی د ذات کیفیت بیانول ندی او نه ښایي له الفاظو نه ظاهري معنی واخلو، ځکه د الله تعالی د ذات د کیفیت ادراك د انسان د وس خبره نده، انساني عقل دومره توان نه لري چي دا درك

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی شی. د الله تعالی د ذات د کیفیت د بیان لپاره په انساني قاموس کي الفاظ نشته، دا الفاظ چي دلته استعمال شوي ټول په حقیقت کي د محسوسو او مشهودو مخلوقاتو لپاره وضع شویدي او څرگنده ده چي پدې کلماتو سره د عظیم خدای د ذات د کیفیت بیان ممکن ندی. پدې ډول نصوصوکي د دې الفاظو پر معنی د پوهېدو لپاره دا مطلب ډېر ضروري دئ چي په دې مثال سره ئې بیانوو: الله تعالی فرمائې:

وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ أُوْلِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ * ص:٤٥

او یاد کړه زمونږ بندگان ابراهیم، اسحاق او یعقوب چي د لاسونو او سترگو خاوندان وو.

که دا آیت د اهل ظاهر د مسلك له مخي ترجمه کړو نو باید ووایو چي: دوی لکه زمونږ په شان د لاسونو او سترگو درلودونکي وو. خو د آیت سیاق او سباق پدې دلا لت کوي چي دلته هدف او مقصد دا ندی، بلکه مراد ئې دا دئ چي: هغوی علیهم السلام د بصیرت او پوهی خاوندان، کارکوونکي او زیار ایستونکي وو.

په ټولو هغو نصوصو کي چي اهل ظاهر هڅه کوي استدلال وربانديوکړي او دا وربانديثابته کړي چي د الله تعالی (ید) لاس باید په ظاهري معنی حمل شي، په دې ټولو نصوصو کي د بحث محور د الله تعالی ذات ندی او نه (ید) د یوه غړی (اندام) په حیث استعمال شوی دئ. د مثال په توگه:

(بیدِي الامر) (والخیرفي یدیك) (والذي نفس محمدبیده) (اِن

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الله يَبسط يده بالليل ليتوب مسئ النهار ويبسط يده بالنهار ليتوب مسئ الليل)**

که پدې نصوصو کې دقت وکړو نو وبه وينو چې دلته د خير، توبې او نفس انتساب يد يا لاس ته مجازي دئ نه حقيقي، د امورو تدبير، د خير ورکړه، د مرگ او ژوند د فيصلې صدور، د توبې قبلول، دا نه ايجابوي چې دلته دي له يد نه مراد د بدن غړی او جارحه وي، ځکه نه امر جسم دئ، نه خير، نه نفس او نه توبه او نه خيرات او نه دا نور ذکر شوي شيان ،دا يو هم جسم ندی چې ملکيت، ورکړه، اخيستل او تدبير ئې د جارحه، آلې او اندام غوښتونکي وي. قرآن کريم په پوره صراحت سره فرمايي:

**إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ***

يس: ۸۲

بيشکه چې کله الله د څه شي اراده وکړي نو کار ئې يوازي دا دئ چې ورته ووايي: وشه، نو هغه وشي.

د ټولو امورو د تدبير او ترسره کېدولپاره يوازي د الله تعالی اراده کافي ده، د شيانو پيداينبت، مرگ، ژوند، ساتنه، پالنه، تدبير، ورکړه، تمليك، اخيستل، امساك، بطش، دا ټول د الله تعالی په ارادې سره او د کُنْ په حکم ترسره کېږي. سره لدې چې الله تعالی د هرڅه قدرت لري او د کارونو په تدبير او پای ته رسولو کې شريك ته ضرورت نه لري، هرڅه يوازي د هغه جل شأنه په ارادې ترسره کېږي، خو بيا هم الله تعالی د دې کايناتو د تدبير او د امورو د ادارې لپاره د ملائکو په نامه داسي لښکر توظيف کړي چې د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی په امر او اذن سره کارونه ترسره کوي، کوم کارونه چي پدې عالم کي د ملا ئکو په واسطه ترسره کېږي، الله تعالی هغه ټول ځانته منسوبوي، دا ځکه چي د ده په امر، اراده او حکم سره د مطیع او منونکو مأمورينو پواسطه اجرا کېږي. که هغه کارونه چي (يد) ته منسوب شوي د اهل ظاهر د مسلك مطابق تعبير او تفسيرکړو نو بايد د ملائکو ونډه کاملاً نفی کړو او په هغو آيتونو سترگي پټې کړو چي په همدې امورو کي د ملا ئکو ونډه ثابتوي، د مثال په توگه الله تعالی فرمايي:

**وَاللهُ يُحيي ويُمِت**

الله تعالی ژوندی کوی او وژني

خو د النساء سورې **۹۷** آيت فرمايي:

**إِنَّ الَّذينَ تَوَفَّاهُمْ الْمَلَائكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا***

بيشکه هغه کسان چي ملائکي ئې روح قبضوي، پداسي حال کي چي دوی پر خپلو ځانونو ظلم کوونکي وي، ورته وايي: تاسي په څه حالت کي وئ؟ وايي: مونږ په ځمکه کي کمزوري او مستضعف وو، ورته وبه وايي: آيا د الله تعالی ځمکه پراخه نه وه چي هجرت موکړی وی؟ نو د دوی ځای دوزخ دئ او هغه څومره بد ځای دئ.

په همدی رابطه بل ځای فرمايي:

**اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنْفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْأُخْرَى إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ *** الزمر: ٤٢

الله تعالی نفسونه د مرگ په وخت کي وفات کوي او هغه چي ندي مړه شوي د خوب په وخت کي ئې، نو هغه چي د مرگ فیصله ئې شویده روح ئې له ځان سره ساتي او د دې بل کس روح ترټاکلې نېټې بېرته رالېږي.

لدی او دیته ورته آیتونو نه دا په ډاگه کېږي چي الله تعالی د ملائکو په ذریعه د مخلوقاتو او موجوداتو اداره، تدبیر او پالنه کوي، د ملائکو بېلې بېلې ډلي دي چي هره یوه ئې په ځانگړي کار او وظیفه گمارل شویده. که څوك دا آیتونه له پامه واچوي او ادعا وکړي چي په فلاني آیت یا حدیث کي د ید او اصابع لفظونه راغلي دي او فلانی فعل ورته منسوب شویدی او په همدې استناد وکړي او ادعا وکړي چي باید د ید او اصابع ظاهري معنی واخیستل شی، دا ډول کسان به یا جاهل وي او یا مغرض او مغرور.

عجیبه ده چي اهل ظاهر د یو شمېر نصوصو په رابطه د خپل مسلك او مذهب مخالفت کوي، د نورو په لاره ځي او پداسي مسلك عمل کوي چي بل ځای همغه مسلك د نورو د تکفیر سبب گرځوي. د مثال په ډول د دې آیت په اړه:

**ونحنُ اقَرَبُ اليهِ من حَبل الوَريد *** ق: ١٦

او مونږ هغوی ته د دوی د غاړې له رگ نه ورلنډ یو.

اهل ظاهر پدې ځای کي وایي: دلته له (نحنُ) نه مراد هغه ملائکي دي چي د بنده د اعمالو د ثبتولو او څارني لپاره توظیف

(c) ketabton.com: The Digital Library



شويدي!! پدې موضوع كې څو پوښتني ترې كوو:

- ولې همدا تعبير او مسلك د نورو آيتونو په هكله نه كاروئ؟
- ولې د (نحن) ظاهري او ذهن ته لنډه معنى پرېږدى او ملا ئكې ترې اخلئ؟
- آيا الله تعالى له مخلوق سره تشبيه كوئ چې قرب او بعد ورته مطرح دئ، پداسي حال كې چې الله تعالى ته نن، سبا، شاهد او غائب ټول يو شانته دي، نږدې او ليرى هم ورته يو شانته دي، نه ښايي چې الله تعالى له مخلوق سره تشبيه كړو او داسي گمان وكړو چې الله تعالى پرعرش استواء كړې نو ممكنه نده چې په عين وخت كې بنده ته هم نږدې وي!!

كه په لاندي ذكر شوو نصوصو كې غور وكړو نو مطلب به نور هم راته روښانه شي:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

**مَا تَصَدَّقَ أَحَدٌ بِصَدَقَةٍ مِنْ طَيِّبٍ، وَلاَ يَقْبَلُ الله إِلاَّ الطَّيِّبَ، إِلاَّ أَخَذَهَا الرَّحْمٰنُ بِيَمِينِهِ....."** رواه مسلم

هيڅوك پاكه صدقه نه وركوي او الله تعالى خو له پاك نه پرته بل څه نه قبلوي، مگر دا چې رحمن خداى هغه په خپل يمين (ښي لاس) اخلي.

ابن عباس ر(ض) وايي:

**الحجر الاسود يمين الله في الارض فمن صافحه وقبله فكانما صافح الله وقبل يمينه**

حجر الاسود په ځمكه كې د الله تعالى ښى لاس دئ، چا چې پر هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس کيښود او ښکول ئې کړه نو دا داسي ده لکه چي له الله تعالى سره ئې مصافحه کړې وي او د هغه ښى لاس ئې ښکول کړى وي.

قرآن کريم فرمايي:

**ان الذينَ يُبايِعُونكَ اِنمايبايعُون الله يدالله فَوق ايدِهم** *

الفتح: ۱۰

په تحقيق سره هغه کسان چي له تاسره بيعت کوي هغوى په حقيقت کي له الله تعالى سره بيعت کوي، د الله تعالى لاس د دوى د لاسونو د پاسه دئ.

د لومړني حديث مطلب او مدلول دا دئ چي الله تعالى يوازي پاکه صدقه او خيرات قبلوي، نه يوازي قبلوى ئې بلکه هغه ته خاص ارزښت ورکوي او لکه څرنگه چي انسان يو باارزښته شيز په ښى لاس اخلي، شکور خداى هم د خپل بنده پاکي صدقى ته ارزښت ورکوي او قبلوي ئې؛ خو پدې حديث کي نه د يمين او نه د اخذ کلمې ظاهري معنى مراد ده، ځکه گورو چي صدقه د يو انسان له خوا بل انسان ته ورکول کېږي، ورکوونکي او اخيستونکي دواړه انسانان دي. په دوهم حديث کي هم گورو چي په لومړنۍ برخه کي ئې حجرالاسود ته په ځمکه کي د خداى يمين (ښى لاس) ويلى شويدى او په دوهمه برخه کي د حجرالاسود لمس کول او يا ښکولول د الله تعالى د لاس د لمس او ښکولولو په معنى راغلى دئ، هيڅ عاقل انسان به دا ادعا ونکړي چي له دې الفاظو نه مراد همدا ظاهري معنى ده. په پورته ذکر شوي آيت کي هم چي له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره بيعت له الله تعالى سره بيعت شمېرل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د بیعت لپاره لاس ورکول لکه الله تعالی ته لاس ورکول بلل شوي، دلته هم هیڅوك حتی اهل ظاهر دا ادعا نشي کولی چي گویا الله تعالی خپل لاس د هغوی د لاسونو د پاسه ایښی او د دوی خوا ته نږدې وو.

اهل ظاهر په لا ندې ذکر شوي حدیث باندي په استدلال سره وایي چي اصابع په اصلي معنی (گوتې) د الله تعالی صفت دئ او ایمان ورباندي ضروري دئ!! راشئ دې مبارك حدیث ته لږ ځیر شو: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**إِنَّ قُلُوبَ بَنِي آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمَنِ كَقَلْبٍ وَاحِدٍ يُصَرِّفُهُ حَيْثُ يَشَاءُ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهم عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوبِ صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ *** رواه مسلم

د بني آدمو ټول زړونه لکه د یوه زړه په شان د الله تعالی د دوو گوتو ترمنځ دي، هر لوري ته چي وئې غواړي اړوي ئې، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې د زړونو اړونکیه خدایه! زمونږ زړونه ستا د اطاعت لوري ته واړه وه.

د دې حدیث د لومړنۍ برخی معنی " إِنّ قُلُوبَ بَنِي آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمَنِ " دا ده چي د حدیث په دوهمه برخه کي راغلی ده: " يُصَرِّفُهُ حَيْثُ يَشَاءُ " یعنی الله تعالی د زړونو اړوونکی او گرځوونکی دئ، د خلکو زړونه هر لوري ته چي وغواړي اړوي ئې، پر زړونو د الله تعالی سلطه او سیطره داسي ده لکه ټول ئې چي په دوو گوتو کي وي او هرې خوا ته ئې په آسانۍ سره اړولی شي. پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث کي د (اصابع) او (یقلبه) کلمات هغه متشابهات دي چي نه ئې ظاهري معنی مراد ده او نه ئې انسان په تأویل علم لري.

په قدسي حدیث کي راځي چي الله تعالی فرمایي:

**يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ يَسُبُّ الدَّهْرَ وَأَنَا الدَّهْرُ بِيَدِي الْأَمْرُ أُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ *** رواه البخاری

د آدم اولاده مي ځوروي، دهر ته ښکنځلې کوي، پداسي حال کي چي دهر زه یم، کارونه زما په لاس کي دئ، شپه او ورځ زه اړوم را اړوم.

هرڅوك پوهېږي چي:

- د "اناالدهر" معنی هغه ده کومه چي په حدیث کي وروسته ذکرشویده "بيدي الامر اقلب الليل والنهار"
- هیڅوك حتی اهل ظاهر هم دا ادعا نه شي کولی چي دهر د الله تعالی نوم دئ،او یا الله تعالی هغه ذات دئ چي مونږ ئې دهر بولو ، ځکه د دهر لفظ په قرآن کریم کي د زمانې په معنی راغلی دئ، قرآن کریم فرمایي:

**وَقَالُوا مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ وَمَا لَهُمْ بِذَلِكَ مِنْ عِلْمٍ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ***

الجاثیه ۲٤:

او وئې ویل: یوازي همدا دنیوی ژوند دئ چي مرو او ژوندي کېږو او نه وژني مونږ مگر زمانه، پداسي حال کي چي هغوی پدې خبره علم نه لري، دوی له گمان کوونکو پرته بل څه ندي.

وینو چي دلته قرآن کریم دا تصور چي مرگ په زمانې پوري تړي او د مرگ نسبت دهر ته کوي، باطل او کفري تصور شمېري، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (اناالدهر) مطلب دا ندی چي الله تعالی په خپله زمانه دئ، بلکه هدف او مراد ئې دا دئ چي: خلك ښه او بد زمانې ته منسوبوي، د زمانې له ناوړه پېښو نه شکايتونه او گيلې کوي، گمان کوي چي پېښې په خپله او په تصادفي شکل واقع کېږي، له همدې امله زمانه محکوموي او ښکنځلې ورته کوي، پداسي حال کي چي د پېښو مدبر او متصرف قديرخدای دئ، هرکار د ده په امر او اراده ترسره کېږي، شپه او ورځ د ده په امر اوړي را اوړي، زمانې ته بد ويل او ښکنځلې ورته کول، په حقيقت کي خدای ته د بد ويلو مترادف دئ.

- که په دې حديث کي د (اناالدهر) ظاهري معنی نه اخلو او لازماً د (بيدي الامر) مراد ترې مطلوب بولو، نو ولې همدا اسلوب او طريقه د نورو ديته ورته نصوصو په هکله نه غوره کوو؟ او اهل ظاهر ولې هغه کسان تکفيروی چي همدا اسلوب د نورو نصوصو د تفسير او بيان لپاره غوره کوي؟
- که احياناً تاسو ووايئ چي د فلانې مهار د بل په لاس کي دئ او لدينه مو مطلب دا وي چي دی استقلال او آزادی نه لري او د خپل واك خاوند ندی، بل ته تابع دئ، هيڅوك ستاسو لدې قول نه دا مطلب نه اخلي چي گويا هغه کس د اوښ په څېر دي او داسي پړی ئې په غاړه دي چي سر ئې د بل په لاس کي دئ!! که څوك لدې جملی نه دا غلطه معنی واخلي او د دې خبري د ثابتولو هڅه وکړي چي دا کس حتماً کوم حيوان دئ او پړی ئې د بل په لاس کي دئ! نو آيا دا هڅه به د يوه بې عقله او جاهل انسان هڅه نه وي؟!

دا مبارك حديث په حقيقت کي د دې مبارك آيت شرح او تفسير

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيانوي چي فرمايي:

**وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ *** الشمس: ۲۹

تاسي هيڅ څه نشی غوښتی، مگر هغه څه چي رب العالمین ئې وغواړي.

انسان نشي كولی د زړونو په اړه د الله تعالى د تصرف كيفيت درك كړي. عملاً گورو چي له تصريف نه مطلب له ښی اړخ نه چپ او له پورته نه لا ندی ته اړول ندي، بلكه دلته له تصريف نه مطلب او مراد هغه القائات او الهامات دي چي زړونو ته ئې كوي، د كار كولو او يا نه كولو اراده او تلوسه پكي راولاړوي، محبت او يا كينه ورته القاءكوي. او واقعاً چي دا تعبير د اهل ظاهر له تنگ تصور او گمان سره توپير لري او د دوی په غلط تصور د بطلان كرښه راكاږي.

همداراز الله تعالى سميع او بصير دئ، اوري اوويني، هيڅوك ئې په دې صفاتوكي سيال او مثال ندی، ليري، نږدې، رڼا، تياره، ټيټ او لوړ غږ، ټول د ده په وړاندي يو شانته دي، هغه په تپه تياره شپه كي تر ځمكي لا ندې، پر تيږه د مېږي د پښی غږ اوري، هيڅ شی د دې غږ او الله تعالى ترمنځ نشي حايل كېدی. هغه هر غږ اوري او هرڅه ويني. خو نه ښايي له سمع نه د غوږ او بصر نه د سترگی مطلب او معنی واخلو، سمع يو صفت دئ او (اذن) د بدن يو غړی او جارحه، همداراز بصر صفت دئ او (عين) سترگه عضو او اندام، مونږ په سترگو وينو او په غوږونو اورو، په لاسونو نيسو او وركوو، خو د الله تعالى د اخذ، بطش، ايتاء، ليدلو او اورېدلو كيفيت زمونږ له ادراك نه لوړ دئ، دا زمونږ له فهم او عقل نه پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره ده، مونږ په خپلو پښو سره ځو او راځو، خو د علي او قدير خدای مجئ (راتگ) زمونږ په شان ندی او د تگ کيفيت ئې زمونږ له ادراك نه لوړ دئ. لکه څنگه چي د الله تعالی د ذات ادراك زمونږ لپاره ممکن ندی همدارنگه ئې د صفاتو او افعالو د کيفيت ادراك هم ناممکن دئ. مونږ له (جاء) نه ظاهري معنی نه اخلو، د هغه حقيقت او اصلي مفهوم الله تعالی ته سپارو او له ادراك نه ئې ځان عاجز او قاصر شمېرو؛ ځکه (جاء) که په هره ظاهري او ذهن ته متبادره معنی تعبير شي د الله تعالی له شأن سره تطابق نه کوي، دا لفظ د مخلوقاتو په منځ کي له يوه ځای او يوی نقطې نه بلي ته د نقل او انتقال په معنی دئ، دا نقل او حرکت د مکان او زمان تقاضاء کوي او الله تعالی له مکان او زمان نه مستغني دي. مونږ دا هم گورو چي د يوه مخلوق تگ له بل سره تفاوت لري، وينو چي انسانان او ځاروي د ځمکي په وچه د تگ صلاحيت او توان لري، مرغان په هوا کي الوزي او بحری حيوانات په اوبو کي لا مبو وهي، د هر يوه حرکت له بل سره توپير لري، د مادې حرکت د انجماد په حالت کي يو شانته وي؛ خو کله چي مايع شي حرکت ئې بل ډول وي او که په گاز او بخار بدله شي نو بيائې حرکت بل ډول وي، همداراز د دې ټولو شيانو حرکت د نور له حرکت سره د مقايسې وړندی، د انرژی حرکت له ټولو نه بېل دئ. پداسي حال کي چي په مخلوقاتو کي د حرکت او خوځښت شکلونه بدل دي، هر څومره چي يو مخلوق له کثافت نه د لطافت خوا ته نږدې کېږي، په همغه اندازه ئې زمان او مکان ته اړتيا کمېږي، د زمان او مکان له قيد نه آزادېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



محدودیت ئې کمېږي، له یوی نقطی نه بلی ته حرکت ورته آسانه کېږي، د مثال په توگه برق په زرگونو کیلومتره فاصله په یوه شېبه کې طی کوي، دلته یوه تکمه وهو، هلته په همدې لحظه کې څوکیلومتره لیرې گروپونه روښانه کېږي. ساینس ادعا کوي چې که ماده په انرژی بدله شي نو د مکان او زمان له قیده آزادېږي. د الله تعالی د مجئ (راتگ) کیفیت له هیڅ مخلوق سره د تشبیه وړندی، قرآنکریم فرمايي: (لَیسَ کَمثله شيئ) نو نه شو کولی چې د اخذ، بطش، سمع، بصر او نورکَلَمَاتَ د الله تعالی په رابطه په همغه ظاهري معنی ونیسو او نه ښایي له دې صفاتو نه د الله تعالی لپاره د غړو لکه لاس، سترگي، غوږ او پښی د اثبات هڅه وکړو. دا مطلب په یوه مثال سره روښانه کوو: ټیپ چې فیته ثبتوي،که کوم استاد خپلو دوو شاگردانو ته چې لا تر اوسه ئې ټیپ ندی لیدلی، ووایي چې ټیپ داسي یوه آله ده چې اوري، ثبت او حفظ کوي او بیا هغه څه بېرته بیان او اوروي چې اورېدلی ئې دي. که لدې شاگردانو نه یو له دي جملي نه چې (ټیپ اوري) دا مطلب واخلي چې دا ټیپ حتما غوږونه لري او لدې جملی نه چې (څه ئې اورېدلي هغه اوروي) دا مطلب واخلي چې دا آله حتماً زمونږ یا کوم بل حیوان په شان شونډې، ژبه او خوله لري، خو دوهم شاگرد ووایي چې معلم خو دا ندی ویلي چې ټیپ غوږ لري، بلکه دا ئې ویلی چې اوري او دا ئې هم ندي ویلی چې شونډی او ژبه لري، بلکه صرف دا ئې ویلي چې اورېدلې خبری تکراروي، دلته اورېدل او بیانول د غوږ او ژبی د اثبات دلیل نشي کېدلی. ووایاست لدې دوو شاگردانو نه د کوم یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره حقیقت ته نږدې ده؟

سید قطب (رح) د دې آیت په اړه چي فرمایي:

**وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّماوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ *** الزمر: ٦٧

دا سي لیکي:"

**وکل ماورد في القرآن و في السنة من مثل هذه انماهو تقریب للحقیقة، فالله تبارك وتعالى وضعهافي اسلوب یقرب بهاویمثل"**

په قرآنکریم او احادیثو کي چي دیته ورته کوم الفاظ راغلي دي، دا ټول په اصل کي د دې لپاره راغلي چي حقیقت ذهن ته رانږدې کړی شي، الله تعالی دا کلمات او الفاظ د دې لپاره په خاص اسلوب سره وضع کړي چي حقیقت ورباندي رانږدې او تمثیل کړي.

که اهل ظاهر همدا خبره ومني، نو د دوی ټولي بې گټې مناقشې او جنجالونه به پای ته ورسېږي. خو متأسفانه اهل ظاهر دا تعبیر نه مني، نیوکه ورباندي کوي او وایي: د قبضه او یمین کلمات چي د الله تعالی په هکله استعمال شوي باید په حقیقي معنی تعبیر شي نه په مجازي سره؛ پدا سي حال کي چي هرانسان پوهېږي چي د "قبضه او یمین" الفاظ د انسان له خوا د خپلو غړو لپاره د نومونو په حیث غوره شویدي او حقیقی معنی ئې یوازي د انسان په هکله صدق کوي.که د قبضه، یمین، شمال، ید، رجل، عین، اذن او دیته ورته کلمات له انسان نه پرته د بل چا لپاره استعمال شي نو حتما به ئې مجازي معنی ترې مراد وي نه اصلي معنی. انسان چي کوم څه له خپلو غړو او اندامونو سره ورته لیدلی نو د هغوی لپاره یې همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومونه کارولي دي. او که علیم خدای د خپلو صفاتو د بیان او معرفي لپاره د انسانانو په منځ کي متداول نومونه او کلمات استعمال کړيدي نو دا لدې امله چي له همدې لاري او د همدې کلماتو په استعمال سره د انسان لپاره د دې الهي صفاتو فهم او ادراك ممکن دئ او یوازي په همدې طریقې سره د دې صفاتو په حقیقت پوهېدو ته ورلنډیدای شي. که څوك د الله تعالی په اړه (ید) او (عین) د غړي او عضو په معنی حمل کوي او همدا ظاهري معنی ئې اخلي، نو پوښتنه ترې کوو:

که د انسان د جسم ټول پوستکی د سترګي د شفافې پردي په شان شفاف وی او تر پوستکي لا ندي ئې له نور نه متأثره کېدونکي هغه عصبی رشتې موجودې وی چي عکسونه دماغ ته انتقالوي، نو پدې صورت کي به انسان په ټول بدن سره لیدل کولی شوی، هره خوا به ئې لیدله، که همداسي یو مخلوق چي په ټول بدن سره لیدل کولی شي او هره خوا ویني او په طبیعت کي ئې ښېلګې هم شته، له داسي مخلوق سره مقایسه کړو چي یوه یا دوې سترګی لري، نو دا راته ووایاست چي کوم یو ئې د بصر او لیدو د صفت له مخي تر بل نه کامل او بشپړ دئ؟ دې مطلب ته په توجه سره لا زمه ده دا هڅه ونکړی چي د الله تعالی لپاره یو غړی د عین، عینین یا اعین په نامه ثابت کړئ. لازمه ده په دې اکتفاء وکړئ چي الله تعالی د لیدو صفت لري او دا صفت ئې د بصر په نوم مونږ ته معرفي کړی او د لیدلو فعل ئې ورته منسوب کړی. انسان نشي کولی دا صفت درك کړي او له مخلوق سره له هیڅ پلوه شباهت او ورته والی نه لري. په ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآنکریم کي یوځل هم دا ندی راغلي چي الله تعالی (اذن) یعنی غوږ لري، خو په لسهاوو ځله دا راغلي چي الله تعالی سمیع (اورېدونکی) دئ، هر غږ اوري، دا ځکه چي اصل مطلب دا دئ چي د الله تعالی صفات وپېژندل شي، دا ضروري نده چي د الله تعالی په ذات او د صفاتو په کیفیت پوه شو ، ځکه دا زمونږ د توان له اندازې نه اوچته خبره ده. پداسي حال کي چي انسان د خپل روح د حقیقت له ادراك نه عاجز دئ، نو همدا د کمزوري عقل خاوندانسان څنگه کولی شي د الله تعالی د ذات په کیفیت پوه شي؟ قرآنکریم فرمایي:

وَيَسْأَلُونَكَ عَنْ الرُّوحِ قُلْ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا * الاسراء: ۸۵

د روح په هکله پوښتنه درنه کوي، ورته ووایه چي روح زما د رب کار دئ او تاسي ته پدې اړه ډېره کمه پوهه درکړل شویده.

یعنی ستاسي علم دومره ندی چي د روح حقیقت پری درك کړی شئ، د روح حقیقت یوازي الله تعالی ته معلوم دئ. داسي گمان ونکړئ چي د (وَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا) معنی دا ده چي تاسي ته د روح په هکله لږ علم درکړل شویدی، نه، بلکه د دې معنی او مفهوم دا دئ چي تاسي د روح حقیقت نه شی درك کولئ، ستاسي علم محدود دئ، دومره ندی چي د روح ادراك وکړی شي. دلته د (مِن علمه ) لفظ ندی استعمال شوی بلکه ویل شوي (من العلم) د دې دواړو تعبیرونو ترمنځ زیات توپیر شته.

پداسي حال کي چي ادراك او احساس د روح وظیفه ده، اورېدل، لیدل، څکل، بوی‌کول، لمس کول، د یخنۍ او گرمۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس، د نرمۍ او سختوالي احساس، دا ټول د روح په واسطه ترسره کېږي، دا د روح وظيفه ده، خو همدا روح له خپل حقيقت نه بې خبره ده. د انسان ټول حرکات او افعال لکه تلل، راتلل، نيول او ورکول ټول د روح په واسطه ترسره کېږي، سترگې، غوږونه، لاسونه، پښې، زړه او دماغ د روح په خدمت کې وسايل دي او دا روح ده چې لدې شيانو نه استفاده کوي، انسان هرڅه د روح په واسطه ترسره کوي، قرآن وايي چې تاسو د دغې روح په حقيقت نه پوهېږئ او دا له خپله حده پښه آخوا غزول گڼي چې څوك د روح په اړه د بحث کولو جسارت کوي. حقيقت دا دئ چې روح، اوربېدونکې او ليدونکې ده، احساس لري او د هرڅه ادراك کولی شي، ښه او بد پېژني، قضاوت کوي او د انسان نومورې صفات د ده د روح مظاهر دي، خو دا به څومره لويه غلطي وي چې د روح د همدې مواصفاتو په وجه څوك د روح لپاره د ځانگړو غړو او اندامونو د اثبات هڅه وکړي!!

عجيبه ده، الله تعالی په خپله په قرآنکريم کې د خپل ذات د کيفيت په هکله بحث نه کوي، خو اهل ظاهر همدا موضوع د توحيد اساسي جزء گرځوي، همدا ئې د بحث محور دئ او ټوله هڅه ئې دا وي چې په دې هکله بحث او مناقشه وکړي او د صفاتو توحيد د الله تعالی د ذات په رابطه له بحث سره گډوي! د يوه شي د ذات په هکله د بحث تقاضا دا ده چې د هغه د جوړښت، شکل او صورت په اړه خبري وشي، لکه چې د انسان په رابطه راځي:

أَلَمْ نَجْعَلْ لَهُ عَيْنَيْنِ * وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ * البلد:۸-۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



آيا هغه (انسان ) ته مو دوه سترگي، يوه ژبه او دوى شونډې ندى وركړئ.

او يا لكه چي د حيواناتو په هكله فرمايي:

**وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِنْ مَاءٍ فَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى بَطْنِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى رِجْلَيْنِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى أَرْبَعٍ ***

النور:٤٥

او الله تعالى هر خوځېدونكى له اوبو پيدا كړى، چي ځيني ئې په سينه خوځي او ځيني ئې پر دوو پښو درومي او ځيني ئې په څلورو پښو درومي.

كله چي د شيانو د ذات په اړه بحث كېږي نو بايد د پورتني آيت په څېر وي او دا صيغې، دا اسلوب او دا صراحت پكي وكارولي شي. كه لوى، عليم خداى د حيواناتو جوړښت، شكل او صورت پدې طريقى او دې وضاحت سره بيانوي، آيا ممكنه ده چي لدينه د ډېري مهمي قضيي لكه د الله تعالى د ذات د بيان په هكله داسي اسلوب وكاروي چي له اهل ظاهر نه پرته بل چا ته د فهم وړ نه وي!! او اصحاب، تابعين، تبع تابعين، د مذاهبو امامان يو هم لدې آيتونو نه د اهل ظاهر د تعبير په شان تعبير ونلري؟

اهل ظاهر ته وايو چي د صفاتو توحيد دا ندى چي د الله تعالى له ذات نه بحث وشي او د الله تعالى لپاره په خپل ذهن كي يو تصوير ترسيم او انځور كړو او يائې له مخلوق سره تشبيه كړو، د صفاتو توحيد دا دئ چي عقيده ولرو الله تعالى سميع (اورېدونكى) دئ، هيڅوك د ده په شان سميع ندى، الله تعالى بصير (ليدونكى) دئ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدو په صفت کي هیڅ سیال نه لري، هیڅ ترې پټ ندي، خدای علیم دئ، په پټ او ښکاره علم لري، حاضر او غائب ورته یوشان معلوم دي، هیڅوك پدې صفت کي ورسره برابر ندي، الله تعالی خبیر دئ، په هرڅه خبردی، که پټ وي که ښکاره، حاضر وي که غائب، تېر وي که راتلونکي، هرڅه ورته ښکاره دي او په ټولو خبردی، هغه رؤوف، رحیم، غفور، کریم، عزیز او حکیم دئ او د نورو صفاتو او نومونو خاوند دئ چي ځیني ئې په قرآنکریم کي ذکر شوي، نور ئې له ځان سره ساتلي او هیچاته ئې ندي ښودلي. پدې ټولو صفاتو کي هیڅوك ورسره برابر ندي، نه مثل لري او نه مثال. نه ښایي د الله تعالی د ذات په هکله خبري او بحث ته د صفاتو توحید ووایو او په بې ګټې مناقشې او مباحثې سره خپل وخت ضایع کړو او له مخلوق سره د الله تعالی د تشبیه مرتکب شو. د اهل ظاهرنظریات او څرګندوني پدې دلا لت کوي چي هغوی الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوي، دا اتهام ندی بلکه دوی همدا ډول عقیده او تصور لري، د دې مدعا د اثبات لپاره د لاندي ذکرشوي حدیث په رابطه د اهل ظاهر تعبیر او تفسیر کافي دئ. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ وَلَا يَقُلْ قَبَّحَ اللَّهُ وَجْهَكَ وَوَجْهَ مَنْ أَشْبَهَ وَجْهَكَ فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَام عَلَى صُورَتِه** * روواه احمد

که چا بل څوك وهلو نو باید په مخ ئې ونه وهي او داسي ونه وایي چي الله تعالی دې ستا او تا ته د ورته کس مخ تور کړي، ځکه الله تعالی، آدم علیه السلام د ده په بڼه او شکل کي پیدا کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې مبارك حدیث کې چې مفهوم ئې ډېر روښانه دئ او د صافو زړونو خاوندانو ته په هغه کې د هیڅ اشتباه او سوء تفاهم ځای او مجال نشته، خو اهل ظاهر او هغه کسان چې رنځور زړونه لري لدې حدیث نه داسې څه راباسي او داسې ترجمه او تفسیر ئې کوي چې په ډېرو خطرناکو نتائجو منتج کېږي، هغوی وايي: په (صورته) کې ضمیر الله تعالی ته راجع دئ، گویا الله تعالی آدم علیه السلام خپل ځانته ورته پیدا کړ!!! او وايي: دا هم د الله تعالی لپاره یو ثابت صفت دئ؛ خو لدې قید سره چې د الله تعالی له شأن او منز لت سره ښايي!!! بیشکه چې دا خلك د خطاء او اشتباه په ډېرې ژورې کندې کې پریوتي، په خطرناکه فتنه کې لویدلی، زړونه ئې رنځور دي، روښانه حقیقت سرچپه ویني او له څرگندو الفاظو نه داسې تعبیر اخلي چې د رنځورو زړونو له خاوندانو پرته بل چا ته د منلو ندی، هغوی که هر څه فکر کوي خو واقعیت دا دئ چې پدې ډول تصور سره الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوي.

لږ پورتنې مبارك حدیث ته ځیر شئ، دلته د دوو کسانو ترمنځ شخړې ته اشاره شوې، رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حکیمانه لارښوونه کوي چې د جگړې په وخت کې یو بل په مخ مه وهئ، داسې مه وایئ چې الله تعالی دې ستا او تا ته ورته کس مخ تور او قبیح کړي، ځکه چې الله تعالی، آدم علیه السلام هغه ته په ورته شکل او صورت کې پیدا کړی وو. پدې پوهېږو چې د دښمنۍ او جگړې په وخت کې هر انسان د مقابل لوري له مخ او څېرې نه په خپل زړه کې د نفرت، کینې او کرکې احساس کوي، د مقابل طرف د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفرت او کرکي آثار هم د هغه په څېرې او مخ کي راڅرګند شي، په سترګو کي ئې د قهر او غصې نښې راښکاره شي، نو ځکه د ده غصه او کرکه د مقابل لوري او دښمن مخ او سترګو ته متوجه کېږي، همدې برخي ته پام اړوي او خپل داخلي قهر داسي اظهاروي: سترګي دې راباسم، پزه دې پرې کوم، مخ دې تور، سترګی دي ړندی شه، دا مردار مخ دي داسي او داسي شه، پدې الفاظو هم اکتفا نه کوي بلکه لاس پورته کوي او غواړي په مخ ئې یوه کلکه څپېړه ورکړي، خوله ئې په سوك ورماته کړي. حکیم رسول الله صلی الله علیه وسلم په جګړه د بوختو افرادو روحي حالت ته په پام سره او د دوی د قهر او غضب د سړولو لپاره فرمایي: الله تعالی خپل بنده او ستاسو ټولو پلار آدم علیه السلام پداسي څېرې او شکل کي پیدا کړی وو لکه دا ستا مقابل لوری، دا له تاسره په جګړه اوشخړه بوخت ستا ورور، خپل پلار ته د احترام په دود باید هغه پر مخ ونه وهې او د مخ په اړه ئې سپکي خبري ونه کړې. که د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حکیمانه لارښووني مراعات شي او د شخړو او مشاجرو په وخت کي په پام کي ونیولی شي، نو د ډېرو فتنو او جګړو مخنیوی به وشي. نه پوهېږم اهل ظاهر ولې دا څرګند حقایق نه شي درك کولی؟ او ولې څرګند مفاهیم غلط تعبیروي؟ او ولې داسي توجیهات پکي کوي چي خبره تشبیه او تمثیل ته رسوي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم خو فرمایي:

**تفکروا في خلق الله ولا تفکروا في الله**

د الله تعالی په مخلوقاتو کي غور وکړئ او د الله په ذات کي له تفکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بحث نه ځان وساتئ.

بل ځای فرمايي :

**تفكروافي آلاء الله ولا تفكروا في الله**

د الله تعالی په نعمتونو كي غور او تفكر وكړئ خو د الله تعالی په ذات كي فكرمه كوئ.

اسحاق بن ابراهيم بن راهويه وايي: هرچا چي الله تعالی داسي توصيف كړ چي يو صفت ئې د كوم مخلوق له صفت سره تشبيه كړ نو كافر شو.

ابوبكررضي الله عنه فرمايي:

العجزعن درك الذات ادراك " د الله تعالی د ذات له ادراك نه ځان عاجز گڼل حقيقي ادراك دئ.

علي رضي الله عنه فرمايي:

والبحث عن سرالذات اشراك

د الله تعالی د ذات د كيفيت په هكله بحث كول شرك دئ.

سبحانك اللهم وبحمدك نشهد ان لا اله الا انت نستغفرك ونتوب اليك.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library